
بدنامه مرواء
ناول
لیکوال: محمد نعیم وردګ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## کتاب پیژندنه

---


| | |
|---|---|
| دکتاب نوم: | بدنامه مرواء (ناول) |
| لیکوال: | محمدنعیم وردګ |
| بریښنا لیک: | naeemjanwardak@gmail.com |
| دفسبوک پاڼه نوم: | نعیم جان بوډا |
| انلاین چارې: | عمران الله (واحدی) |
| دلیکلو کال: | ۱۴۰۰ لمریز |

# ناول

بدبختانه نوځوانی ته له رسېدو سره سم مو په معصومه، سپېڅلې مینه، ورځ تر بلې د عشق ناولی رنګ ګډېده، حتا تر دې چې د دولس، دیارلس کلنۍ په دوره کې مو یې هغه مقدسه ملګرتیا اتیاه سلنه مسخه کړه.

کني له دې مخکې که څه هم ماشومتوب خو هسې هم په تمامه معنا د سپڅلتیا نوم دی، ولې زما او مرواء منځ کې د هلک او نجلۍ یا غیرې همجنس خبرې هم هېڅ وجود نه لاره، له دې وجې مو په لوبو کې هم د هلکانو او نجونو لوبه نه وه معلومه، توشلې، لانځکې توپ بازۍ همداسې ډېری نورې لوبې به مو یو ځای سره کولې. ځکه چې یو خوا نه زموږ کور کې زما هم سني نور ماشومان و او نه د دوئ.

بلخوا دېوال په دېوال ګاونډیان و، کله به چې تر دروازه راووتلو، که دا به مې ولیده چې لانځکې یا کومه بله لوبه به یې کوله، زه به پرې ورګډ شوم، که به زه په کومه لوبه مصروف وم، دې به له لیدلو سره سم شروع راسره وکړه، حتا اکثره وخت به یو بل پسې کور ته ورتلو.

په عین حال کې ډېره هوښیاره نجلۍ هم وه، خپله خو یې هېڅ داسې لوبه نه کوله، چې ځان یا نورو ته زیان ورسوي، بلکې زه به یې هم تل له تیرو وارولو، وغېره هغه لوبو چې جامې به پکې چټلېدلې یا به پکې شکېدلې منعه کوم.

خلاصه دا ملګرتیا مو تر نهه، لس کالونو همداسې پاکه، صفا د کامل اخلاص او صداقت په بنیاد ولاړه وه.

اما له بده مرغه لکه ښځګه مې چې سر کې ووېل، پس له يولس، دولسو کالونو يو د بل سترګو ته غله شو .

خو دا چې نه مو ليدلي، نه مو کتلي و، لمړی ځل و، د عشق عجيبې عريبې لېونۍ دنيا ته مو قدم راخېستی و، نور خو لا څه حتا له يو بل نه به هم شرمېدو، د سترګو غلا به مو هم په ډېره غلا کوله، مخکې مې يادونه کړې، مرواه له يوې خوا ډېره هوښياره، چالاکه وه، بلخوا طبيعي ده، د هلکانو په پرتله نجونې څه زياتې شرمګيره وي، په همدې اساس، نظر ماته دې به تر ډېره خپل احساسات کنترول ساتل، په ډېر احتياط او هنر به يې د سترګو تنده ماتوله، حتا اکثره وخت به يې د ځينو دروغجنو حرکاتو په مټ ځان داسې ښوده چې ګواکې زه همغه ماشومه مرواه ګی يم، نه عشق پېژنم، نه يې نوم .

که څه هم، ما هم دا هڅه کوله، خو ښځګه چې د مرواه غوندې هنر مې نه لاره، کله ناکله به کيسه رانه ورانه شوه، نبغ په نېغه به يې ګير کړم، لاس به مې کار کې و، سترګې ددې په اننګيو کې، يا به کوم بل داسې د شرماور حرکت رانه وشو.

نور يې هم په هر حال، يوه ورځ چې د اختر لمړۍ ورځ وه، د حوېلۍ له خوا مې يو غږ واوريده، چې کتل مې مرواء يې د کور له خوا د دېوال په کنډو کې راولاړه وه، يو لاس يې زموږ حويلۍ ته راځوړند کړی و، د پنځوسو (۵۰) افغانيو يو لوټ يې ګوتو کې ښکارېده کړل يې :

-اکبر جانه! خیر لالک به مې شي، دا پیسې درسره واخله د مور مې معده خوږېږي،

یو پاوکټ ګولۍ (تابلیت) ورته راوړه!

له یادولو دې پاتې نه وي، مرواه، یوازې یو سپینږیری پلار، یوه ناروغه مور، همداسې یوه تر دې مشره واده شوې خور یې هم وه، نور یې هېڅوک نه و، ددې له پاسه خپله ځمکه یې هم نه لرله، پلار به یې د نورو خلکو دهکاني کوله، که څه هم ضعیفه و، ولې بیا هم ډېر غیرتي سړی و، د خپلې درې کسیزه کورنۍ د اړتیاوو پوره کولو سربېره، د کلي کور سره مړی، ژوندی یې هم ښه په مېړانه کول، خو بیا هم یو خوا سپینږیری و، بل خوا یې کور کې مریض لاره، نو طبعاً وخت ناوخت به د ګاونډیانو په صفت د اقتصادي اړتیاو علاوه، په ځینې فزیکي کارونو کې هم د مرستې ورسره کولو په پار راته درېدل.

موږ هم د مسلمانۍ او انساني ترحم له مخې، مخ نه ترې اړاوه، خپل وس مو ورسره کاوه، حتا ډېری وخت به مو که کوم ښه دېګ (کتغ) کړی و. د دوی یو قاب برخه به مو پکې کوله.

هغه واده شوې مشره خور او اوښی یې د ډیوریند تر پوله هاخوا کوئټه کې اوسېدل، اقتصاد یې ښه و، جامې، مامې خو ټولې دوئ ورته راوړلې او رالېږلې.

خو په هر صورت راځم خپلې مخکنۍ خبرې ته، مرواء ته مې کړل :

-ښاء، صحیح ده، څه پیسې دې درسره واخله، دوا زه راوړم، اګر چې ماسره هم دومره پیسې نه وې، ټول ټال مې یونیم، دوه سوه افغانۍ جیب خرچه لرله، درحالې

کې چې بیا عید هم و، پیسې پکارېدلې، خو دا مې هم نفس نه منله چې د مرواه له ګوتو هغه پنځوس روپۍ راواخلم.

اما مرواه ټینګه شوه، بالاخره حویلۍ ته یې را خطا کړې، پیسې مې راواخیستلې، موټر سیکل مې چالاند کړ، اول د ډاکتر وصیل کور ته ورغلم، پوهېدم چې د اختر ورځ ده، حتماً کور دی، دواخانه به یې بنده وي؟ همداسې و، کله مې چې دروازه ور وټکوله، ډاکتر راووتلو، د کیسې له آورېدو سره جوخت په موټرسیکل راپسې سپور شو، دواخانې ته یې ولاړو، یو پاوکټ ګولۍ او یو شربت یې راکړل، ټولې یې یوسلو شل (۱۲۰) افغانۍ شولې، نور راسپاره شو، ډاکتر مې یې له خپل کور سره ښکته کړ، زه راغلم، موټرسیکل مې د خپلې او مرواء دوئ د دروازو تر منځ ودراوه، حویلۍ ته یې ور ننوتلم، د برنډې په دویمه زینه کې د پښې اېښوده سره سم مې مرواء د دهلیزه له وره راووتله، د اختر نوې جامې یې اغوستې وې، څه یې نور په ځان ګوتې وهلې وې، بل شان خوږه ښکارېده، مخکې له دې چې زه یې د مور پوښتنه ترې وکړم، زر زر یې کړل :

-خیر یوسې، ددې اختر په ورځ مې دومره زحمت درکړ، شکر مور مې هم ښه شوه !

ور غبرګه مې کړه :

-ښا، څه شکر چې ښه شوې، ته تر مخ شه دا اختر به ورسره مبارک کړم، له ددک (پلار) سر خو مې دې ښه و، سهار جومات کې مبارک کړ!

-راځه !

مرواء مې تر مخ شوه، اطاق ته ور ننوتلم، مور یې چې ما به هم د مرواء په خوله ادې ورته ویل، بسترې ته ځنګ وهلی و، د وریژو اوبه یې څښلې، له اولیه سلام کلام سره ګډ مې د اختر مبارکي هم ورته ووېله، مننه یې وکړه، د دوا راوړلو په خاطر یې دعاګانې کولې، ټینګه وه کړل یې :

-کېنه چې مرواء چای درته راوکړي !

-نه خیر یوسې چای نه څښم، موټرسیکل مې لاره کې درولی، خدای پامان !

ترې راروان شوم، زما او د ادې د خبرو په جریان کې یې مرواء له اطاقه راوتلې وه، کله چې زه د دهلېزه له وره برنډې ته راووتم، د مخامخ وړاندې دالان په وره کې مې په مرواء سترګې ولګېدې، لاس کې یې زموږ د محلي رواج اړوند په یو قاب کې وچه مېوه نیولې وه، ور یې ځینځیر کړ، غونډه منډه خوشحاله څېره زما په لور راورونه شوه، پاکې پاکې تورې او سپینې بانورې سترګې یې خوږې، خوږې غړولې، د پرېکړي پېکي د ویښتو لام یې د هر قدم سره د چپ اننګي په سر ټال واهه، د ښځو سرې جامې زما هسې هم خوښېږي، خو له مرواء سره د سرو جامو له پاسه، سره نازک ټکري او په څنډو یې نرۍ زېړې زرینې پیټې د لمر په وړاندې الوتو سپرغیو بله نمونه خوند کاوه.

زما حد ته په رارسېدو سره یې په خندا او یو قسم خورا مینه ناک او جذاب انداز کړل :

-ونیسه جیب دې، بیا به وایې، چې ورغلم چا عیدي رانکړه !

په موسکا مې ور غبرګه کړه :

-مننه خیر یوسې، زه یې نه اخلم، زما په ځای یې بل چاته ورکړه !

-ونیسه بیا نو اختر په څه شو؟

نور ما هم نه او نو ونه کړل، کمیس کې دا دچپ بغل د جیب خوله مې ورته سمه کړه، مرواء رانژدې شوه، یو قسم یخه جوهري خوشبو ورسره مل وه، د قاب دا یوه څنډه یې زما جیب کې ور ځوړنده کړه، تر څو په ځمکه تویې نشي، د احتیاط له مخې د یوې ګوندې په کم قات کېده سره زما په طرف راماته ولاړه وه، په دې سره یې یو اننګی زما له خولې د یوې لوېشتې په فاصله کې ډېر ښه مچو ته برابر شو.

له تاسو یې څه پټه نور زما نه هم ورخ اوبو یوړو، د شرم او عقل سربېره ټولو حواسو مې کار پرېښود، نرمې مې شونډې پرې وکېښودې، د شونډو له ور رسېدو سره سم نجلۍ چیغه وکړه، ځای په ځای دېښو په سر کېناسته، سر یې په ګونډو، کېښود څو دانې ناخود، کشمش یوه وه، که دوې چاکلېټې هم پسې ورتویې شوې، قاب یې لا ښه و ونه غورځاوه، کنې شیشې و ماتېده، زه هم ووېرېدم چې مور یې، یا زموږ کور کې چا یې چیغه نه وي آورېدلې، راونه ګوري. همداسې مې پرېښوده، غټ، غټ قدمونه مې راوخیستل، تر دروازه راووتم، موټرسیکل مې تر ښکرو ونیولو غوښتل مې چالاند یې کړم، خو ومې نشوی کولی، داسې لړزېدم لکه پاڼه، پښو کې مې بلکل د پایډل وهلو سیک نه و، په همدې کش او ګیر کې وم، تر شاه مې د وړو وړو سلګیو غږ شو، چې سترګې مې ورواړه وې مرواه وه؛ زما د ورکتلو سره سم یې شروع وکړه :

-سپيه! کوني! بې شرفه! ته صبر چې زه دې مور دربانديې خبره کړم!

هڅه يې کوله چې تېره شي، خو دا چې زموږ د کور لاره ما او موټرسيکل بنده کړې وه، ويې نشوی کولی، تېزه تېره شي، ترڅو تېرېدله ډېرې زارۍ مې ورته وکړې :

-خير دا ځل مې وبښه، بيا قسم دی که داسې وکړم، په خدای ج که دې خوا ته در وګورم !

نجلۍ ونه منله، مخامخ ښکته شوه، له هغه بل څنګ نه يې زموږ دروازې ته ځان جوړ کړ، ور ننوتله، زما له حاله يو خدای ج خبر و، د بدن لړزه څه وه، ته وا روانه زرنجه کې سپور يم، اګر چې مور مې ددې شان اندکترينې بد اخلاقۍ په وړاندې تل ډېر سخت حساست ښوده، خو بيا هم وېرېدم دومره نه، لکه خجالت چې وم، ولې چې تر دې دمه مې د خپلې کورنۍ سربېره په دوستانو کې هم ديو ډېر موادب او سنګين، هلک موقف درلود، هېڅ داسې د بې حيايۍ، بدخلاقۍ دوسيه مې نه لرله، پوره باور يې راباندې لاره، په درنده سترګه يې راته کتل، کشران څه، اکثره وخت به مشرانو هم لالا راته ويل، پس طبعاً هر څوک چې زما په ځای وی، ويل به يې: کاشکې دا ځمکه چاق شوې وی، غوټ پرې ننوتلی وی، د غم مچو يې کړې دا مې څه وکړل؟ په همدې فکرونو کې مې د موټرسيکل تر څنګ حيران بريان ولاړ وم، دروازې ته مې دوې سترګې نيولې وې، چې اوس به څوک راوځي څه به وايي؟

لنډه دا چې لس، دولس دقيقې ووتلې، لا څوک راښکاره نه شول، شل، پنځه ويشت دقيقې وروسته، د دروازې دستګير وکړېږېده، د چا خبره زړه مې د پښو تر تلو تېر شو، چې کتل مې واپس يوازې مراوء را ووتله، بل څوک نه پسې ښکارېدل، بيا يې

هم له ما لار چپه کړه، هسې په مخکنۍ لاره راتاو شوه، کله چې زما تر شاه خپلې دروازې ته تېرېده وېل :

-بې شرفه! ډېر زړور شوی یې، ته دې یو ځل کور ته ورشه! په همدې سره د دروازې په غرز رابنده ولو یې کورته ننوتله، زه څو دقیقې نور هم ولاړ وم، لا هم زموږ د کور نه څوک راښکاره نشول، موټرسېکل مې لږ د دېوال خواته کړ، تصمیم مې ونیولو چې کلي ته به ښکته شم، تر بېګاه به دا خبره څه سړه شي، خو چې پښو ته مې پام شو، بوټ مې زاړه و، پښو بوی هم پکې کاوه، صرف د موټرسېکل لپاره به مې کله، کله پښو کول، کنه نور له کاره لوېدلي و، د عید د ورځې د پښو کولو خو بیخي نه و، کلي کې مې هم د ځینو همزولو سره سیالي لرله، تل به مې هڅه کوله چې په هره برخه کې له دوی ښه اوسم، په همدې اساس نه مې نشوی کولی، چې په دې چټلو، زړو بوټونو کې پرې ورګډ شم، هغه هم د اختر په ورځ؛ بلخوا په کور کې هم وضعه داسې اضطراري وه، چې پرې وررننوتل زما له جرئت بلا لوړ کار و، تر څو دا بوټ مې ایستلي وی، څپلۍ مې راپښو کړې وی، د همدې پاڼ او پړانګ تر منځ لا هم د دروازې تر مخ هک پک ولاړوم، چې د دروازې دستګیر بیا وکړپېده، له وېرې او خجالته مې تر بدن سور تاو جګ شو، مور مې راوتلله د تل په څېر عادي یې راته وکتل، په غټه سره پلاستکي کاسه کې د لوښو منځلو اوبه ( لوښنی ) یې مخامخ وړاندې وشینده، واپس یې ماته مخ راواړوه، کړل یې :

-دوا دې راوړه، څنګه وه د مروا مور؟

-هو، رامې وړه، اوس ښه وه!

-ښه ده چې ښه شوې، مرواء هم اختر مبارکۍ ته راغله، ویې وېل، زړه مې ښه شو!

له مور سره د همدې خبرو په جریان کې د دروازې تر خلاصه پله یې غږ راتلو خویندو مې په برنډه لوبې کولې، خندل یې، معنا د کور وضعیت مو عادي و، پوه شوم چې مرواګۍ خبره نه ده کړې، ایله مې لږ د سکن ساه واخیسته، نور نو تر هر څه تېر شوم، راساً سرې خونې ته لاړم د چفرکټ له پاسه دبسترو په سر اوږد وغځېدم، ساعت نیم ساعت وروسته مې مور له وره سر راهیسته کړ، وېل یې :

-اوو وړکیه! ته اختر، ښه شپه نه لرې؟ مریض خو به نه یې ولې پروت یې؟

-نه مورې! مریض نه یم، هسې لږ ستړی شوم، درځم !

نور یې څه ونه وېل، ور یې واپس رابند کړ ولاړه، څو شېبې لا نه وې تېرې چې له حویلۍ یې په جګ آواز د خوشامندو غږ راغی کړل یې :

-الله شکر څنګه ښه میلمانه راغلل.

سودا مې شوه راجګ شوم، کړکۍ ته مې سر ورکوږ کړ، خاله مې وه؛ دوې یې لورانې، یو یې وړوکی زوی ورسره و، ترڅو چې د دوئ ستړمشې سره خلاصیده، زه هم دهلېزه ته ور ووتلم، ستړې مشې مو وکړه، څو دقیقې اطاق کې ورسره کیناستم، لږ غورې، مرې مو وکړې، یو ګیلاس چای مې ورسره وڅښلو، نور مې دوئ پرېښودل، زه ترې راجګ شوم؛ په عیني حال کې د مرواء سهارنې وهم مې په زړه داسې منګولې ټینګې کړې وې، لکه بنګ مې چې څکولي وي، نه د چا سره په خبر پوهېدم، نه په ناست، نه ولاړه، فکر او پام مې ټول په مرواء، مچو او همغه صحنه کې و، حتا شونډې مې یو قسم بې حسه، سپکې وې، ته وا هېڅ نشته، همغه د مرواء په اننګی رانه پاتې دي.

خو په هر حال ځپلې مې پښو کړې، کلي ته راښکته شوم، د ماشومانو چغ او فوغ و، چا چارمغز ګټل، چا نورې رنګا رنګ ساعتېرۍ کولې، اما زما توجه لا هم هېڅ خوشند نه پرې وهلو، فقط لکه خوب چې وینم، ان دا محیط او چارپېریال یو بل شان راته ښکارېدل، حتا ځمکه مې یو قسم نرمه احساسوله، ته وا په سفنج ګرځم، یو وخت مې له هاخوا په لوړ غږ خپل نوم تر غوږه شو، چې ور ومې کتل، صدیق د مسجد دېوال ته څېرمه شنه خوله نیولې، سلطان او کریم یې تر څنګ ولاړ و، ورغلم جوړ پخیر او اختر مو سره مبارک کړ، دوئ روان و، زموږ د یو بل ملګري حفیظ الله دوئ کره، غوښتل یې ما هم ورسره بوځي، خو دا چې زما خیال او فکر هوایي و، څنګه مې چې مخکې وویل، نه د چا سره په خبر پوهېدم، نه په ناسته، ولاړه له دې کبله مې د بهانې په پار ورته کړل:

-ولا برادره! ښه خبره دې وکړه، خو افسوس زموږ کره میلمانه راغلي، زه یې ترکارۍ پسې رالېږلی یم!

-ځه نو بیا ترکاري دې یوسه، دلته څه (.......) ورکوې؟

ددې خبرې په کولو سره ټولو یوه خوله وخندل، که څه هم صدیق مې کلک ملګری و، د موقع په برابرېدو سره به یې تل ټوکې کولې، خو بیا مې بې ځوابه هم نه پرېښود؛ مګر دلته مې هېڅ فکر نه راټولېدو چې د ټوکې په تول تلې ځواب مې یې ورکړی وی، صرف ورغبرګه مې کړه :

-ماښام ته به دې زه خوښ شم، ته هم پوهېږې چې اوس وخت نه لري!

په همدې سره ترې راروان شوم، کور ته مو په رارسېدو سره چې تقريباً د لس، پنځلس مترو په اندازه لاره به لا هم پاتې وه، زموږ دروازې ته څېرمه، د مرواء دوئ دروازه خلاصه شوه، د قسيم انا ترې راووتله، فکر کړم د مور د پوښتنې لپاره يې او يا به د اختر مبارکۍ ته ورغلې وه، پسې جوخت مرواه هم خوشحاله غټې غټې تورې بانورې سترګې دروازه کې پسې راودرېده، په اننګې ئې د وېښتو لام ټال واهه، د لمر په وړاندې يې د ټيکري د ځنډو زرينې پټې لا هم سپرغۍ پاشلې، زما لور ته په راکتلو سره يې، ما زر خپلې سترګې تر مخ غځېدلې لارې ته ښکته کړې، ځان مې جيب کې په لاس وهلو مصروف کړ .

مرواء د قسيم په انا غږ وکړ :

-تروره خدای ج دې مل شه؛ خپه نشې، اې وخته دې لکه چې دروازه ډېره ټکولې وه، اطاقونه مو لرې دي، زر نه پرې خبرېږو، په خوا به مې د ورځې نه ځينځيره وه، اوس وېرېږم، بې حيا خلک پيداکيږي !

-نه؛ نه؛ لورې! ښه کړې دروازه دې ځينځيروه، پيغله نجلۍ يې هسې نه کوم سپی مو دروازې ته متيازې وروکړي!

ددې خبرې په آورېدو سره مرواء ښه په کړس وخندل، زړې انا بيا ورغبرګه کړه :

-خانده مه لورې ټوکه نکړم، وخت خراب دی، بيا د پېغلو نجونو په لمن خو ډېر آسانه تور داغ لګيږي !

-ربښتیا وایي تروري! پښې دې وچې نشي، څه خدای ج دې مل شه، ملالۍ او بصیره ته مې سلام وایه!

-وعلیکوم سلام ښاده شې!

همدې وخت کې زه هم ځوړند سر د مرواء تر مخ راتېر شوم، نه پوهېږم چې دې به ماته کتل، کنه؟ څه احساس به یې کاوه؟ او که به مې د قسیم د انا دخبرو تر اثر لاندې سره شوي دمخ رنګ ته موسکۍ وه؟ ځکه چې زما وضعیت خو هسې هم په څڅېدو و، د بوډۍ انا دې جملې چې: (دروازه دې ځنځیره وه، کوم سپی متیازې وروتکړې ) یو بل ډېر دروند ګزار و، فقط لکه له مچو چې خبره وي او دا خبره یې مستقیماً ماته کړې وي .

خو په هر صورت، زما له کور ته ننوتلو وروسته، ددې د دروازې بندولو کړپی مې هم واورېده.

خلاصه سم لکه ښه درنه نشه مې چې کړې وي، دا پاتې ورځ او ټوله شپه مې فکر او پام مکمل هوایي و، سبا مې ایله څه ناڅه رنګ ځای ته راغی، بل سبا لا پسې ښه وم او همدسې... بالاخره د هفتې په تېرېدو سره تقریباً خپل عادي حالت ته راوګرځېدم، د زړه دربار، د پښو لړزه مړزه مې ورک شول، خو بیا هم د هغه سندرغاړي خبره چې وایي: مینه اور دی عالم...

ربښتیا هم سره له دې چې یوه مچو یې دومره قېمته راته تمامه شوه، پوره یوه هفته یې پښې راولړزولې، هوش او خیال مې له سر وتلي و، جنګ مو پرې وکړ مرور و.

ولې بیا هم د خوږو خبرو په اورېدو او ښکلو شوخکو سترګو په لیدو پسې به مې یې زېړی و، خو له بدمرغه په وړاندې مې یې کاملاً روحیات له لاسه ورکړي و، تر ډېره وخته که تصادفي به یې هم کله د لیدو موقع برابره شوه، هېڅ مې یې سترګو ته سترګې نشوی ورپورته کولی، ان له څه وخت مرورتیا وروسته به وخت ناوخت د مرواء ځینې غیرې مستقیم کړنو او خبرو داسې پیغام له ځان سره لاره، چې ګویا غواړي زر تر زره مې ورسره پخولا کړي، د بېلګې په بڼه: یوه ورځ مې خاله راغلې وه، مرواء یې د خپل کور له خوا زموږ حویلۍ ته، د دېوال په کنډو کې راولاړه وه، د خاله سره مې یې مجلس کاوه، ما دې هاخوا د برق په خراب شوي ملېت پېچکش را اخیستي و، عیني حال کې مې د دوی په خبرو هم پام و، همدې وخت کې مې د خاله وړوکی زوی چې تقریباً دری، یا څلور کلن و، د حویلۍ په دروازه راننوتلو، لرې مو له مخې د پوزه مواد یې دومره رااوږده شوي و، چې له خولې یې هم تېر و، تر زنې یې ښکته زنګېدل، د خاله خو مې لمړی ورپام نه و، چې ښه ورلنډ شو، ورپام یې شو، اول یې په لوړ آواز نارې کړې وی‌ی‌ی ...خدای ج دې ورک کړه، دا ګړنګو ته دې ګوره! بیا پرې ورټېټه شوه، د پوزې ورپاک کولو سره سم یې په شاه کې یو کلک سوق هم ورکړ، هلک په ژړا شو، خاله مې چې له مرواء نه پرې وشرمېده کړل یې :

-چې قران ورته ونیسم بېرون (بهر) ته مه وځه، خبره مې نه پرې لګي، اوس وګوره

ځان یې په یخ داسې کړی، په خپلو ګړنګو نه خبرېږي!

مرواء ورته کړل :

-خیر وهه یې مه وړوکی دی، په وړکتوب کې د ډېرو ماشومانو پوزې ګړنګنې وي، چې غټ شی دا یې بیا تر ټولو هسکه وراچوي، یو هلک زما هېڅ نه هېرېږي، اوس ځوان دی، چې په وړوکوالي کې دې لیدلی وی؛ خدای که دې اوس هم ټکله (ډوډۍ) زړه ته شوې وی، مګر نن سبا چې دده کیسې او کارونه ووینې بووو ...

زه پوه شوم چې اشاره یې ماته ده، خندا راغله، خو کوشش مې کاوه، چې دا مې په خندا پوه نشي، اما هر څو مې چې ځان هاخوا دې خوا غلته و، شاه مې وروا ړوه، مګر بیا هم پوه شوه، خپله خبره یې همدلته پرېښوده، لمړی شاه ته په ملا ماته واپس راسمه شوه، جوړه څپېړې یې د دېوال له پاس په شړک کېښودې، یوه شېبه یې ښه په کړس، کړس وخندل، ولې چې که څه هم ظاهراً یې زما خاله ته ډاډ ورکاوه؛ خو په عین حال کې یې له ما نه دوړې وڅنډلې، چون په ماشومتوب کې زما د پوزې وضعیت هم ډېر خراب و، ان تر دې چې یوه ورځ زه او مرواء دواړه له ختونه د کور او کوټو جوړولو په لوبو مصروف و، پوزه مې بار بار راوتله، خو لاسونه مې په ختو ککړ وو، پاکولی مې نشوی، واپس به مې پورته کش کړه، بل ځل ښخې ډېره را اوږده شوه، چې کش مې کړه، ټوله کش نشوه، نیمی مواد یې د مرواء په لاس ور وڅڅېدل، له څڅېدو سره سم ما ترې منډه کړل، دا هم راپسې شوه، لاس یې له ځان نه لرې نیولی و، منډې منډې غوښتل یې چې راګیر مې کړي، لاس یې واپس زما په کالیو را وموښي، خو ښه وه، سترې شوه، نور یې دمنډې وس نه وو، ودرېده لاس یې د کاظم کاکا په دېوال ور ومښلو، بیا یې د فاروق دوئ له ډېران نه یو کاغذ راپورته کړ، د لاس په چټل شوي ځای یې ښه وسولاوه، واپس ور وګرځېده، ټوله غوسه یې زما په کوټه ګی سره کړه، په لغت یې ووهله، رنګه بنګه یې کړه، ددې علاوه پټکې یې کولې :

-ته دې بله ورځ دا مرداره پوزه ما ته رانژدې کړه، پلانکيه، بستانکيه ...

همداسې يوه ورځ چې لا هم نه سره غړېدو، مور مې ډوډۍ پخوله، مرواء د سپاچې په څنډه ور ناسته وه، خدايزده چې کيسه يې په څه کې وه؟ خو کله يې چې زه تر څنګ راتېردم مرواء کړل :

-هو خاله! ځينې نوي ځوانان همداسې دي لمړی په ځان پوه نشي، لکه ليوه حمله وکړي، خو لړ يې چې وه وېره وي، ته وا ساه يې وخته، لکه پانې داسې لړزېږي، يو کال يې رنګ ځای ته نه ورځي !

همدارنګه يوه ورځ يې د زردااليو خستکي ماتولې، چې په ما يې سترګې ولګېدې، يو دم يې د چيغې په کولو سره خېز کړل، جګه شوه، سوټک يې هاخوا وغورځاوه، د چپ لاس ټولې ګوتې يې په خوله ننيستلې، بل لاس يې په ګېډه ونيولو، څه په ملا را کوفه شوه، څه يې ګونډې قات کړې، ځان يې کوږ وږ کړ، په جفته، پښو يې پورته ،پورته خيزونه وهل، ځای په ځای ځرخېده، په زوره، زوره سسوېده .

په دې سره يې هم ډېره زياته خندا راوستله، چون دا هم د ګوتې ټوکلو په وخت زما د ماشومتوب له عادتونو څخه و، عين تمثيل يې وکړ .

خو ځان مې کلک کړ، ددې په وړاندې مې ونه خندل؛ شکوريه حيرانه ورته ولاړه وه، بار بار يې غږ پرې وکړ :

-ته لرې کړه! ته لرې کړه! کوم ځای دې خوږ شو؟ زه ترې تېر شوم، د دهلېزه په وره له ننوتلو سره سم مې په ستوني کې ايساره کړې زوروره خندا د کندهاريانو خبره

ایله کړه، ښه مې وخندل، په عین خندا کې مې ددې د خندا غږ هم آورېده؛ شکریه ته به یې نو خدایزده چې بیا څه بهانه کړې وي؟

خلاصه، تل به یې له مناسبې موقع نه په استفاده پورته مثالونو ته ورته نامستقیم ګوزارونه کول، هڅه یې کوله چې ومې خندوي، بالاخره ورپخولا مې کړي، شاید دا به په دې نه پوهېده چې هلک مې په وړاندې روحیات له لاسه ورکړي، کني په زړه کې یې راپسې مړ، مړ دی، یا به پوهېده، په دې کړنو به یې ماته جرئت راکاوه، تر څو ور وغږېږم، د پخوا په څېر عادي اوسو.

ولې ما به چې هر څو ډاډ ځان ته ورکړ، یا به مرواء بار بار چانس راکړ، مستقماً به یې د خبرو کولو موقع راته برابره کړه، متاسفانه زما ژبه به بیا بیا ګونګه شوه، چانس به مې له لاسه ورکړ، عینې حال کې مې په خپلو سکناتو او حرکاتو سره دا هڅه هم کوله، ترڅو مرواء پوه نشي چې ګواکې هغه د مچو په لمړۍ ورځ یې د کورنۍ پرې خبرولو په ګواښ مې چې ووېرولو، همغه وېرې یې لا هم په زړه منګولې خښې کړې، په مقابل کې مې یې مورال له لاسه ورکړي، یا په هغه بې شرمانه ډول د مچو رانه اخستو خجالت دی. بلکې کوشش به مې کاوه، څو ځان داسې ورته وښایم، چې ګواکې زیات درنه خپه یم .

خو زما او مرواء تر منځ که وضعیت هر څو اضطراري و، یا سره خپه و، بیا هم ددک به مې یې چې هر چېرته ولیده، پوښتنه به مې ترې وکړه، که کوم کار او خدمت به یې و، ورته کاوه مې.

یوه ورځ مرواء زما د مور او خویندو سره د شاته ګاونډیانو کره، واده ته ولاړه، زه ورغلم د مور پوښتنه مې یې وکړه، همداسې هر کله به مې چې موقع پیداکړه، ورتللم پوښتنه مې یې کوله .

لنډه دا چې دې حالت تر ډېره دوام وکړ، بل ورځ ژمی وو، د شپې واوره شوې وه، سهار مې چې لمونځ وکړ، لمړی مې خپل بامونه تور کړل، بیا د کلا د شاه له طرفه د دوئ بامونو ته ور وختلم، له واورې نه په پاکولو مې یې شروع وکړه، یو دوه بامه پاتې و، چې ښځې او پېښ مې تر غوږه شو، ترڅو مې ورکتل غږ یې وکړ :

-دا درواخله !

چې مخ مې ورواړوه، مرواء د حوېلۍ له طرفه د زینې په نیمایي کې راولاړه وه، د سینې تر منځنۍ برخې نیمه تنه یې د بام له څنډې راښکارېده، لاس کې قاب یې زما په لور رانیولی و، له لیدلو سره سم مې مخ واپس ترې راواړوه، صرف دومره مې وویل :

-همدغلته یې کیږده !

-یخېږي زر یې وخوره !

غږ مې ونکړ، قاب یې کېښود، ددې چې څنګه سر د بام له څنډې پناه شو، پارو (واوره پاکون) مې وغورځاوه، ورمنډه مې کړل، چې کټل مې دوې ډېرې ښایسته او ګرمې پراټې یې راپخې کړې وې، لا هم غوړ پرې چونېدل.

زه نو له یو خوا سم ستړی، بلخوا وږی او یخ نیولی وم، په دې وخت کې به نو له ګرمو پراټو ښه خواړه څه و؟ پرې ور بسم الله مې کړل، دا یوه خو مې په دوو، دریو ګولو کې نوشیجان کړه، په دویمه مې چې شروع کوله، وړاندې د دالان په دربچه (کړکۍ) کې مې یوه سایه تر سترګو شوه، لکه دالان کې چې څوک وي، فکر کې راتېره شوه: شاید مرواء ګۍ وي، ما به خاري چې د لاس پراټې مې په اشتیا او مزه

مزه خوري كنه؟ ددې كيسې په ليدو كه څه هم د لمړۍ پراتې په دوې ګولې كولو مې د شرم احساس وكړ، خو هغه اوبه تر ورخ تېرې وې، ددې دويمې په خوړلو مې ډېر ادبانه يا د يو بې اشتيا كس غوندې پيل وكړ؛ د يوې خرما په اندازه به مې ترې رابېله كړه، دوې، درې دقيقې به مې خوله كې ژوله، تر څو مې يې يوه څنډه خوړله، نوره يخه كرخه شوه؛ ولې بيا هم تر دې نيمايي مې ورتېره كړه، نور مې ګوتې په قاب كې تر پراټو لاندې اخبار ( كاغذ ) په راوتلو وچو څنډو پاكې كړې، قاب مې واپس سره د پاتې نيمې پراټې د بام په ژۍ وركېښود، اګر چې موړ نه شوم، دا نيمه څه كه يوه بله هم وی، نوشجان كوله مې .

خو په هر راز مقصد پس له آته، نهه مياشتو لمړی ځل و، چې دا دوې، درې كلمې خبرې مو مستقماً سره وكړې، تر پسرليه مو دا لړۍ همدسې وساتله، چې ډېر ضرورت به شو، په لنډو كې به مو يوه دوې خبرې سره وكړې، كه څه هم دې به هڅه كوله چې دا ريكاټ مات كړي، خو په ما كې لا هم د ورسره سترګې په سترګو كېدلو يا مخامخ زياتو خبرو ورسره كولو توانايي نه وه، د ټولو خبرو ځواب به مې يې صرف د يو هو، يا نه، په وېلو وركاوه .

بالاخره پسرلی فكر كړم، د ثور د مياشتې پنځلسم، كه شپاړسم و؛ چې طارق له كابل نه زنګ راوواهه كړل يې:

-د كانكور نتايج اعلان شوي، زيری مې درباندې، د مزار (بلخ) كمپيوتر ساينس پوهنځی ته كامياب يې، پسې زياته يې كړه: په پنځه ويشتم د ثور درسونه شروع كيږي، بايد ځان ور ورسوې!

ددې خبرې په آورېدو ډېر زيات خوشحاله شوم، له طارق نه مې د منني ترڅنګ، د شيرني ورکولو وعده هم ورسره وکړه، رامنده مې کړل، په مور او خويندو مې زيرى وکړ، دوى هم زياتې خوشحاله شوې، حتا مور مې په ژړا شوه، ددې عادت و، اکثره وخت به د خوشحالۍ په خبر هم، په ځاى ددې چې وخاندي، اوښکې به يې راتوېې شوې، څو لحظې نه وې وتلې، د فريښتې له خولې مرواء هم خبره شوې وه، په تلواري راغله، لمړى مې مور ته مخاطب شه په موسکا او خوشحالۍ يې کړل:

-خاله، مبارک! فريښتې وېل لالا مې پوهنتون ته کامياب شوى!

-خير يوسې لورې، ښاده شې، تاسو ته دې هم مبارک وي، اکبر خو تنها زموږ نه دى، ستاسو هم دى!

بيا يې ماته مخ راواړوه:

-اکبره! مبارک، ما ته خو دومره تکړه نه ښکارېدې!

-خير يوسې!

-بختوره انجينر به شې! فريښتې خو وېل: لالا مې انجينرۍ ته کامياب دى؟

-تقريباً همداسې يې وګڼه!

-څه فکر کړې چې زه، به ډېره خوشحاله يم، که نه؟

زړه مې و، يوه تشکوري ترې وکړم؛ خو له بدمرغه جرئت ياري ونکړه، يوازې په لږ موسکا مې ځان تېر کړ.

بيا مې يې مور ته مخ ورواړوه:

-هو رښتيا، مور مې هم مبارکي وېله، ډېره خوشحاله شوه!

-خير يوسې لورې مورکۍ ته دې خدای ج جوړ وجود ورکړه!

رښتيا هم د مراوء په دې خوږو او پستو الفاظو بار، بار مبارکي وېل تمثيلي نه و، يا هم يوازې زموږ خوشحاله کول يې هدف نه و، بلکې له هر حرکت، ناستې ولاړې، همدارنګه لحظه په لحظه، زموږ او تر خپله کوره يې په خندا او مستانه تلو راتلو صداقت او رېښتنولي له ورايه ښوده، واقعاً خورا زياته خوشحاله وه، حتا که ووايم چې له ما او زموږ د فاميل له نورو غړو ډېره خوشحاله وه، ممکن دروغ مې نه وي ويلي.

خو په هر حال، خلاصه د ورځو شپو په تېرېدو سره، بالاخره هغه ورځ راورسېده، چې سبا بايد زه خپل پوهنتون او درسونو ته ولاړ شم؛ ان له سهار نه مې په تياري نيولو پيل وکړ، جامې په بيک کې کېږده، بوټونه رنګ کړه؛ زموږ په اصطلاح خليفه (سلمان) ته ورغلم، ويښته مې اصلاح کړل، همداسې نور، ورځ په همدې منډو ترړو تېره شوه، د ماښام آذان ته څو دقيقې پاتې وې، د دروازې د راخلاصېدو غږ مې تر غوږه شو، کړکۍ ته ورسم شوم، مرواء وه، د پېچکې لام يې په اننګي ټال واهه، يوه سپينه نوې برابره پلاستکي خلته يې لاس کې رانيولې وه، سرې غټې غټې انګلسي ليکنې پرې شوې وې، تقريباً تر نيمايي څه زياته ډکه وه، له لرې نسبتاً وزن لرونکي شی پکې ښکارېدل، څو مې له سترګو پناه کېده، د ښکلو نرکسي سترګو په ديدن مې

یې ښې سترګې خوږې کړې، چون تر شیشه د ننه څوک نه ښکارېدل، زه یې نه لیدم، په برنډه راتېره شوه، دهلېزه کې مې د مور سره مخامخ شوه، له سلام او ستړې مشې وروسته یې کړل:

-دغه واخله اکبر ته مې څه وچه مېوه، یو څو روغنځوښی (بوسراغې) راوړې، خورکې مې راوړې و، زموږ یې څوک نه خوري، په مسافرۍ کې ښې دي، که چېرته یې ټکلې (ډوډۍ) ته لاس ونه رسېږي، وبه یې خوري!

-نه لورې! خیر یوسې دا بېرته یوسه، کوم میلمه به درته راشي، اکبر خو څه بیابان ته نه ځي، مزار لکه کابل غټ ښار دی، هلته هر شی پیداکېږي!

نجلۍ په خندانه لهجه کړل:

-د میلمانو برخه مې پرېښې، ټول خو مې نه دي راوړي واخله!

-په دې کار خو دې په خدای ج خپه کړمه!

-نه! مه خپه کېږه، خوشې خرابېدل!

په همدې سره د خلتې کړپار شو، مور مې ترې راواخیسته، د مننې تر څنګ دعاګانې یې ورته کولې.

مرواء دخلتې تر تسلیمولو وروسته کړل:

-د خدای پامان لاړم!

-پاتې شه له مور سره!

-خیر یوسې مابنام دی، اوس به مې ددک هم راشي، د شلغمو شکنه ( پیاوه ) یې غوښتې ترڅو رارسیږي، چې ورته تیاره یې کړم!

-مور تور بانجان پاخه کړي، یو قاب درکړم؟

-نه هسې مې د غرمې کتغ هم پاتې دی، خو ددک مې په غوړو کې سره کړي خواړه نه خوري، په معده یې ښه نه لګیږي!

-ښا، څه خدای ج دې مل شه، مور ته مې دې سلام وایه!

د وعلیکوم سلام له وېلو سره یې، دهلیزه د وره راوازېدو غږ هم راغی ووتله، زه بیا کړکۍ ته ورسم شوم، په حویلۍ کې لکه د ګلابو ونه غوندې منډه روانه وه، قدرتي سرې نازکې شونډې یې ورو، ورو پسنېدې، پسې موسکه شوه ویې خندل، خدایزده په کوم خیال پلو کې ډوب وه؟ دروازې ته په رسېدو سره یې قدم ونیولو، لمړی یې پیکې ته څنډ ورکړ، په اننګې پروت لام یې، د غوږ لوري ته ورتېر کړ، بیا یې غبرګ لاسونه ورجګ کړل، د سر له پاسه د جګړي نازک ټیکري ژی یې په دوو، دوو ګوتو ونیوې، څه یې مخ ته راتېر کړ، خرف دستګیر ته یې تاو ورکړ ووتله، ښه و زما دهیلې سره سم، تر څو بیا راځم وینمه یې ددې وروستي دیدن خورا ښایسته انځورونه یې سترګو او ذهن کې راپاتې شول، د مرواء له وتلو سره سم، ما هم له حوېلۍ سترګې

راټولې کړې، چې مخ مې راواړوه، مور مې د اطاق په نیم کښ وره کې زما په تماشه ولاړه وه، که څه هم ډېر زیات خجالت شوم، زر مې کړل:

-دروازه خلاصه شوه، ماوېل چې څوک دي؟ مرواء لکه چې راغلې وه؟ هسې یوه نجلۍ خو مې لږ تر سترګو شوه!

مور مې کړل:

-ښا ماوېل چې څنګه کړکۍ ته ور په ګونډو یې، هو مرواء راغلې وه، دا خلته واخله څه یې درته راوړي، چې پوهنتون ته یې درسره یو سې!

-څه دي؟

-خپله یې وګوره!

لاس مې ورتېر کړ، خلته مې ترې راواخیسته، چې راومې سپړله، په یو پاوکټ کې یې د یوې کېلو په اندازه چارمغز، پسته، بادام، شنه کشمش پاوکټ کړي و، بل پاوکټ کې روغنځوښۍ وې.

غوښتل مې ددې مېوې له پاوکټ نه یو موټی راوخلم، زه او مور به مې یې وخورو؛ چې راپورته مې کړ، خوله یې ډېره کلکه ور چسپولې وه، په شکولو مې یې زړه ونشو.

مور ته مې سترګې ورواړولې:

-ویې شکوم اشتیا یې لرې؟

-نه، نه پرېږده بیا دې بیک کې بادېږي!

-ولا مورې! له مور نه دوئ ښه دي، مور خو هغه د چا خبره دا شیان لا پېژنو هم نه؛ په اختر کې مو هم یو، یو پاو سپېره ناخود؛ سیمیان؛ پوچک کشمش رانیولي وي، د اختر په پنځمه دومره نه وي ترې پاتې چې ملا یې دم کړي!

-هو زویه! دا شیان یې مشره خور (سارا) ورته راوړي، کني ددک بېچاره خو یې چې صرف هغه ډوډۍ هم راپیدا کوي افرین پرې!

څه سر مو ګرځوم؟ لنډه دا چې جامې او د ضرورت شیان مې بسته کړل، شپه تېره شوه، تراب استاد ته مې مازیګر ویلي و، چې موټر کې یې د یو نفر ځای راته پرېږدي، سهار وختي ان له آذانونه مخکې یې زنګ وکړ وېل یې:

-راؤوځه!

زر، زر مې جمفر واغوستلو، بیک مې اوږې ته کړ، په وېښتو مې ګوتې کش کړې، یوازې مور مې ویینه شوه، تر دروازې راسره راغله، نور مو خدای پاماني وکړه، زه راووتم، موټر حرکت وکړ، ترڅو چې سترګو کار کاوه، له شیشې مې لیده، مور مې په نیم کښه دروازه کې راپسې ولاړه وه، پاخه سرک ته چې راووتلو، لا هم توره تیاره وه، له یونیم موټر هاخوا چې په مخه به راغی چیراغونه به یې ښکاره شول، نور هېڅ نه معلومیدل او همداسې یوازې د موټر دماشین غږ، او شاه سیټ کې دیاسین کاکا خرارې چې سره هماهنګ و، نور خاموشه خاموشي وه، پس له یو ساعت مزل

وروسته د آسمان لمنې راسپینې شوې، کرار کرار رڼا شوه، د دوراني بازار ته نارسیده موټر د تیلو یو پمپ ته ورتاو شو، ډرېور کړل:

-دا لمانځونه به وکړو!

موږ هم ورسره امین کړه، ښکته شوو، د پمپ په وړوکي مسجد کې مو لمانځونه وکړل، واپس مو حرکت وکړ، شاوخوا آته بجې وې، کابل ته ورسېدو، یقیني سخت وږی وم، خو ډوډۍ مې ونه خوړه، وېرېدم چې ناوخته نه شي، بیا به د مزار موټر نه پیداکېږي، په ګړندي قدم ښکته راغلم کوټسنګي کې د هوایي پله هغه خوا ټکسي وانانو نارې وهلې:

-کارت مامورین، بادم باغ، سرای شمالي ...

د یوې کرولا یو نفر کم و، پکې ورکېناستم، حرکت یې وکړ؛ څو دقیقې وروسته سرای شمالي ته ورسېدو؛ بیک مې غاړه کې واچاوه، د مزار د موټرو تم ځای ته روان شوم، په لاره کې مې له یوې کراچۍ نه دوه پیرکي ( بولاني ) هم په اخبار کې راسره ونغاړل، تم ځای ته چې ورسېدم، یو مارسدیس موټر مخ کې ولاړ و، ډرېور یې نارې وهلې دو نفر، دو نفر...

همدې ته ور وختلم، تر څو زه کېناستم، بل نفر هم راپیدا شو، ډرېور موټر چالاند کړ، د مخ په سېټ کې ناست ډنګر سپینږیري کړل:

دعا د خیر!

-لاس مو پسې پورته کړل، ډرېور له برګ دسمال چلتار وهلی و، حرکت یې وکړ،

د کوتل تر سره ډېره لاربندي وه، له نورو ډرېورانو سره یې څو ځل چغ پورته شو، یو بل ته یې کنځلې کولې، تر کوتل هاخوا لار خلاصه وه، طبعیت یې جوړ شو، سګریت ته یې اور ورکړ، ما مې هم غلي د ګونډو تر منځ د بولانیو اخبار راخلاص کړ، د ځنګ ملګری ته مې هم د سر په ښورولو سره ساعت وکړ، جینګ شو، ګونګیانو غوندې یې لاس خولې ته جګ کړ، چې ګواګې ما ډوډۍ خوړلې، خیر یوسې!

وږی وم، نور مې ددې سر له بولاني نه یوه غټ ګوله خولې ته کړ، چې کتل مې داسې تریخ وو لکه زهر، هغه د چا خبره په دوه پښو یې ودروم، سم دم مې له پوزو او سترګو اوښکې راروانې شوې، لمړی مې قصد وکړ، چې واپس یې اخبار کې راتوف کړم، بیا مې ځنګ کې له ناست نفر نه وشرمېدم، زر زر مې یو دوه ځله غاښ پرې تخته کړل، غړوت له ستوني مې تېر کړ، پاتې بولاني مې واپس په اخبار کې وپېچل، د خوړلو نه و، د ماشین او مخې چوکۍ تر منځ قات کې مې کېښودل؛ خوله خو هسې هم تر ډېره ویده وه، نه پرې پوهېدم، باور وکړئ له معدې مې هم لکه له تناره سور تاو راجګېده، ان تر چهاریکارو مې وضیعت ښه نه و، پس له هغې څه ښه شوم، اګر چې معده مې سوځېدله، زړه مې و ډرېور ته وواېم: د یوه دوکان مخ ته د څو ثانیو لپاره تم شه، یو بیسکوټ، میسکوټ را اخلم، خو ښه و تر څو مې ورته وېل بیک ته مې پام شو، د مرواء بوسراغې رایادې شوې، زر پرې ورټیټ شوم، بیک مې خلاص کړ، په خلته کې مې لاس ورواچاوه، د پاوکټ خوله یې ډېره کلکه ورچسپولې وه، مجبور شوم، له ځنګ نه مې وشکاوه، یو ښه موشت مې ترې راوخیستې، له یوې خوا زه ډېر وږی وم، بلخوا فکر کړم په شیدو کې یې پخ کړې وې، بل قسم خوشخوره، پستې بوسراغې وې، په جبل سراج کې مې بیا لاس ور وغځاوه، یو ښه موټی نورې مې راواخیستې، د سالنګ ښایسته منظیره، او د مرواء

خوندورې بوسراغې د مشرقیانو خبره بل رقم چک یې لګاوه، ان تر پلخمریه مې خوړلې.

لنډه دا چې د شپې اووه نیمې بجې وې مزار ته ورسېدو، شپه مې همدا د اډې په هوټلو کې وکړه، سهار سرک ته راووتم، پوهنتون نه و رامعلوم، یوه ټکسي مې راودروه، ډرېور شیشه ټیټه کړه:

-کجا؟

-تا پوهنتون چند میري؟

-صد افغانی!

-نې چي میګي، یک قدم راه است شست بتم؟

-بیا هشتاد بتی!

ورسره کېناسم، حرکت مو وکړ، پنځه، شپږ دقیقې وروسته یې موټر ودراوه کړل یې:

-اینه پوهنتون!

بیک مې راوخیست، ترې راښکته شوم؛ اتیا روپۍ مې تر شیشه ورته ونیولې، ټکسي مې رخصت کړه، د اوږې په دسمال مې له جامو د سفر دوړې څنډ وهلې، په وېښتو مې لاس تېر کړ، پرې ور روان شوم، د پوهنتون مخ کې لس ګونه محصلین هاخوا دېخوا ټولی، ټولی ولاړ او ناست و. دروازې ته نژدې یو ځوان د ګلدان په څنډه ځان

تکیه کړی و، دوه نور یې مخې ته ورولاړ و، افغاني جامې یې په تن وې، ښایسته ویښتان او ښکلې څوانۍ یې لرلې، میده میده یې سره خندل، زړه کې راولوېده شاید پښتانه وي، لږ پښه نیولی شوم، چې د دوئ هم راپام شو، ور روان شوم، سلام مې ورواچاوه، له وعلیک سره سم لمړی مخکني هلک لاس راته ونیولو، بیا په نوبت سره دې نورو هم ستړي مشي راسره وکړه، شک مې په یقین بدل شو، هلکان پښتانه و، ورته خوشحاله شوم؛ ګلدان ته تکیه هلک کړل:

-پوهنتون ته راکامیاب شوی یې؟

-هو!

-ښا، ډېر ښه، الله ج دې راوله!

-مننه ژوندی اوسې!

-کوم ځای نه راغلې؟

-له وردګو نه!

مخامخ هلک ته موسکی شو، ورته کړل یې:

-امممم آصفه! بچېش کار دې جوړ شو، نور ولاکه موږ ببخي وویني!

بیا یې ماته مخ رواړوه، د سترګو په واسطه یې همغه ملګري ته اشاره وکړه:

-آصف هم د وردګو دی، زه د ننګرهار یم، نوم مې فرید احمد دی، دربېم ملګري ته یې لاس ونیولو: ضیاء د لوګر دی!

-ښا ډېر ښه خوشحاله شوم ولا!

-مننه، تل خوشحاله اوسې، کومې پوهنځۍ ته راکامیاب شوی یې؟

-کمپیوټر ساینس ته!

-ښه څانګه ده، خدای ج دې ورته تکړه کړه!

-ژوند ستاسو سره!

-ته به ستړی یې، ځئ لیلیه ته ولاړ شو، دمه به جوړه کړې، بیا به راشو ثبت نام به وکړې!

ضیاء غږ وکړ:

-هسې لا ستړی کیږي، چې اوس یې تر لیلیې بیایې، یو ساعت وروسته یې راولې، معاون صیب شته ځی ثبت نام به وکړو، مخه به مو یوه شي!

-هو ولا بد دې ونه وېل، راځئ!

فريد احمد مو تر مخ شو، معاونيت ته ورننوتلو يوازې معاون صيب ناست و، سلام يې ورواچاوه، ستړي مشي مو وکړه، معاون صيب کړل:

-فريد خيرت است؟

-آ معاون صيب! خيرت است، اين جوان قومي ام است، نو به پوهنځي کمپيوتر ساينس کامياب شده!

معاون صيب ماته مخ را واړاوه:

-ای ډي (ID) نمبر پيشت است؟

-بلې!

-ماره، همرای تذکره تان بتې!

ای ډي نمبر او تذکره مې ورکړل، په راغلو ليستو کې مې يې نوم پيدا کړ، حاضرۍ ته يې ورساوه، فريد احمد ته يې سترګې ونيولې:

-اينه فريدجان! ديګه چه خدمت؟

-قربانت معاون صيب! به اجازه شما، باش که امي کارهای ليليه ايشان هم خلاص کنم!

-برو پنايتان به خدا!

له معاونيت نه راووتلو، د ليليه د مدير شبعي ته ورغلو، تر اوليه سلام كلام وروسته فريد احمد زما په اړه خبرې ورسره شروع کړې، مدير صيب کړل:

-د لمړي منزل په دويم اطاق کې پنځم چپرکت خالي دی!

فريد احمد په خندا کې ورغبرګه کړه:

-د دريم منزل نوي چپرکټ او بسترې چاته ساتې؟

-تر څو لاندې منزل ډک نشي پاس څوک نشو لیږلی!

-لاندې به هم ډک شي مدير صيب**!** دا زما ملګری ډېر ښه سړی دی، په خندا يې پسې زياته کړه: ته به ګورې چې اوړی ځنګه د وردګو خوندورې منې درته راوړي!

په دې خبره يې مدير هم موسکی کړ؛ بالاخره خبره يې پرې ومنله، د ليليه په تحويل دار باندې يې يو کوچنی خط راکړ، نور مو خدای پاماني ترې راوخيسته، را روان شو، تقريباً شل پنځه ويشت دقيقې لاره وه، ليليه ته له رسېدو سره سم، په مخه کې د تحويل دار شبعي ته ورننوتلو، د مدير خط مو ورښکاره کړ، تحويل دار د خط متابق ښه نوې بستره راکړه او په دريم منزل کې لمړی څپرکټ يې راپسې ورساوه، لاړو بستره مو په چپرکټ کې هواره کړه، آصف مخ راواړوه کړل يې:

-تنها د زړه تنګېږي، تر څو دې نور اطاقیان پوره کېږي، ته به له موږ سره واوسې، یو ملګری مو له ډېره وخته غیرې حاضر دی چپرکټ یې خالي دی!

-ژوندی اوسې، نه انشاءالله نه تنګېږم!

-ته هم ژوندی اوسې، راځه خو که بیا دې موږ سره زړه تنګ شو، واپس به راشې!

ورسره روان شوم اته شپې مې د آصف دوئ سره وکړې کور یې ودان څومره چې له څېرو ښکلي و، همغومره یې زړونه هم ښکلي و، په ټول توان یې زما د خوشحاله ساتلو هڅه کوله.

پس له اتو شپو خپل اطاق ته راغلم، ملګري مې راپوره شوي و، د څو شپو ورځو په تېرېدو سره بلد شو، یو بل مو وپېژندل، همدرنګه د پوهنتون او لیلیې د ماحول له اصولو سره مې هم ځان جوړ کړ، نور مې په نورمال ډول د خپلو درسونو وېلو ته ادامه ورکړه، ان تر دې چې اوړی شو، د ټول پوهنتون امتحانونه شروع شول، یوازې زموږ د لمړیو ټولګیو یې وځنډول، استادانو وېل: ستاسو پروګرامونه پس پاتې دي، پسرلی د کانکور د نتایجو ځنډېدو له کبله درسونه مو په خپل وخت شروع نکړل.

خلاصه تر څو زموږ امتحانونه شروع کېدل، د نور پوهنتون محصلین ټول د اوړي په روخصتی کورونو ته لاړل، تر څو زموږ امتحانونه خلاصېدل، دوئ واپس راغلل، زموږ رخصتي پکې ورکه شوه، ومې نشوی کولی چې کورته ولاړ شم، که څه هم نوې مسافري وه، کورته مې زړه ختلی و، رخصتۍ ته به مې شپې ورځې شمېرلې، خو له بدمرغه نصیب نه و، په دوام دار ډول مې دویم سمستر ته ډډې ورکړه؛ لمړۍ

شپې ورځې وې اطاق کې مې د نوکرۍ نوبت و، د دهلېزه په دست شویۍ کې مې ګیلاسونه مینځل، یوه ملګري مې له اتاقه غږ راوکړ:

-راشه زنګ درته راغلی!

ګیلاسونه مې ځای په ځای پرېښودل، ورغلم زنګ مې مور کړی و، مبایل مې راسره راواخیست واپس دهلېزه ته راووتم، اوکې مې کړ!

-سلام علیکوم مورې ښه یې؟

-شکر دی زویه! ټول ښه یو، ته ښه یې، ملګري دې ښه دي، سبک دې زده کېږي؟

-هو شکر زه او ملګري ټول ښه دي، د درسونو سره هم ښه یم، دغلته مدینه، فرېښته ښې دي؟

-ښې دي شکر مورې ښه یو؛ خو خدای ج دې وبښي پرون نه، ها بله ورځ د مرواء مور مړه شوه؛ مشره خور یې سارا هم له پاکستان راغله، دواړو خویندو داسې چیغې پسې وکړې اګر چې تر اوسه پورې ژاړي، خو ښې دي هغه د لمړیو ورځو په شان ډېرې چیغې نه وهي!

-نځه، نځه، خدای ج دې وبښي!

-آمین ښه ښځه وه، خدای ج به ببنلې وي.

-ددک یې څنګه دی؟

-د هغه بېچاره هم مزه نشته، لوېدلی و، ګونډه یې ختلې، دا ډېر وخت ځای په ځای دی، سږ کال یې د چا ځمکه هم ونشوی کرلی، څه پیسې یې چې لرلې، په دواو ترې لاړې، وضعه یې هم ډېره خرابه شوې، د مور له مرګ نه یې مخکې ډاکتر سمیع یوه ګونۍ اوړه، یو ټیم غوړ، لږ چای او صابون ورته اخیستي و، یوه بوجۍ وریجې د قاضي فضل الحق زوی ورته راوړلې، خور او آښي یې هم ډېر لاس ورسره وکړو؛ د مور په مرګ کې یې پنځه زره افغانۍ حاجي فتاح ورکړې، څلور زره مسلیم ورکړې، ښه و هغه دمړي دسقواط او د کفن کار یې پرې وشو، خدای ج دې رویا نه کوي میلمانه یې د غرمې او بیګاه ډوډۍ ته موږ راوستل، د سهار چای مو هلته ورولېږلو، زرین ګل او جلال دین هم څو تنه میلمانه ترې بوتلل، خو ډېر زور یې موږ واخیست؛ کني دومره میلمانه یې هم نه وه، ټول نر او ښځې شل نفره نه و!

-ښا، ښه مو کړي، په دې بېچاره ګانو خو مې ولا سخت زړه بد شو!

-هو، په حال یې د مرغانو ژړا وه!

-مرواء خو یو ناسکه کاکا هم لري، د مړي مصارف ولې هغه ونکړل؟

-نه زویه**!** د هغه هندو له کیسې خبر نشوې؟

-نه څنګه؟

-دوې میاشتې مخکې راغلی و، د مرواء له ددک نه یې زوی ته مرواء وغوښته، ددک یې ځواب کړ، ورته وېل یې:

-ستا زوی خو ګونګی دی، له عصابو نه هم جوړ نه دی، دا به ظلم نه وي؟

ده بې ښه او بده ورغبرګه کړه:

-نو ته وایې زما له زوی نه به ښه سړی ورته پیدا کړې؟ ټول ولس ستا په لور کې غړېږي، موږ یې هم پکې ورګډ کړو، خدای دې وبښي ستا د آغا جان نوم یې واخیست کړل یې: ستاسو ددې ګونډې مستري روستم د زوی سره یې بوی ولګېده، له دې هاخوا مو نوم مه پرې سپکه وه، صرف ددې لپاره راغلی یم، چې دا خپله مرداري په خپله پټه کړو، کني ښځې کمې نه دي!

نور هم ډېر وګړزېده اخېر د مرواء ددک هم ورته په قهر شو، ښه څه یې ور وکړل، سپي غوندې یې تر دروازه ویستلو!

په همدې خاطر مړي ته د خلکو له شرمه راغلی و؛ خو لکه پردی سړی لرې لرې به تاوېده!

-بوووو دا څه خر سړی دی، زوی یې زه پېژنم یو ګړنګن لېونی دی، پرتوګ په څټ اغوندي!

-ما لیدلی چې وړکی و؛ د مور سره به یې ډېر راتلو!

-ښا، موري زموږ چای تیار دی، په خدای ج دې سپارم، دوئ ته دې خدای ج صبر ورکړي، مور یې دې خدای ج وبښي، ولا سخت زړه مې پرې وسوځېده!

-آمین! ځه خدای ج دې مل شه!

-ستاسره!

تلیفون قطعه شو، واپس فکر خرابی د ګیلاسونو په مینځلو لګیاه شوم، له مینځلو وروسته مې اطاق ته ننه ایستل، صفي الله له چپرکټ نه پښې را زنګولې موسکی؛ موسکی کېده، کړل یې:

-ښه یې چې ښځه نه یې، کني مېړه بیچاره دې په شنه آسمان غرق و!

ټول هلکان په خندا شول، ما هم په خندا سره ورغبرګه کړه:

-هو ولا وبښئ، رښتیا هم ځنډ مې وکړ، یو زنګ راغی، له هغو سره مصروف شوم!

لنډه دا چې، بالاخره دویم سمستر مو هم ختم کړ، امتحانونه شروع شول، اولس ورځې یې ونیولې، عمومي نتایج نه و اعلان شوي، خو موږ به تر هر امتحان وروسته له مربوطه استاد نه د خپلو نمرو معلومات کول، په همدې باب تر اخیر امتحان وروسته ډېر خوشحاله وم، له یوې خوا مې تقریباً پنځه اتیا سلنه فیصدي پوره کړې وه، بل خوا د ژمي په رخصتۍ سبا کور ته روان وم، لیلیه ته ولاړم، جامې مې ټولې کړې، ټوله شپه مې زړه له خوښۍ هواوې کولې، سهار وختي د موټرو تم ځای ته راغلم، د

کابل په سفري سه صدو چهار ( ۳۰۴ ) موټر کې راوختلم، قریب دولس بجې وې د خیرخانې کوتل ببخ کې یې بریک وواهه، کلینډر غږ وکړ:

-بیایی بخیر پاین شو، استادگاه اخیر است!

راښکته شوم، واړندې سرای شمالي خوا ته راغلم، د کوټسنګي په موټرو کې وختلمه، ګوټسنګي ته له رسېده سره سم د ګمپنۍ یوه مارسدیس موټر ته وررپورته شوم، حرکت یې وکړ، د کمپنۍ چوک ته لا نه و رسېدلي، زموږ د کلي د موټرو تم ځای ته مخامخ مې غږ پرې وکړ:

-پاین میشم!

بریک یې وواهه، راښکته شوم، په دې مخه کې مې لږ مالټې او ترکاري راسره واخیستل، د موټرو تم ځای ته چې راغلم، صادق استاز یې د موټر تر څنګه ولاړ و، هاخوا دې خوا یې په سوارۍ پسې سترګې اړولې، ستړي مشې مو وکړه، کړل یې:

-لکه چې کور ته دې ځې پخیر؟

-هو:

-کینه حاجي فقیر او ښځه یې ډاکتر ته تللي، زنګ یې وهلی و، اوس راځي، ځو به لخیره!

ور وختلم په موټر کې له ناستو کليوالو سره مې سترې مشې وکړه، ترڅو مو د حال احوال پوښتنه سره کوله، حاجی فقير او ښځه يې هم راورسېدل، صادق استاز جلب ته کېناست، دعا د خير په ويلو سره يې حرکت وکړ، ماښام آذان ته لا څو شېبې پاتې وې، د خپل کور مخ کې يې ښکته کړم، تر دروازه وررننوتلو سره سم خوشحالۍ شوې، خويندو مې رامنډ کړل، سترې مشې مو وکړه، مور مې وړاندې په کړکۍ کې خوشحاله خوله رانيولې و، په عين حال کې يې موټۍ په سترګو رغړاوه، له خوشحالۍ نه د ورغلې عادتي ژړا اوښکې يې وچولې؛ بيک او د سودا خلته فريښتې رانه وخيستل، دهليزه ته په ورسېدو سره مې مور هم راووتله سترې مشې کې يې غېږ رانه تاو کړه، يو پلو او بل پلو يې څو څو ځل مچو کړم، اطاق ته په ننوتلو سره مو پوښتنه موښتنه وکړه، له لمانځونو کولو وروسته مدينې چای راوړه، لمړی مو د مور او خويندو د پوښتنو اړوند د مسافرۍ، پوهنتون؛ مزار شريف او درسونو کيسې وکړې، د چاي په اخېر کې مې مور ته سترګې ور واړولې:

-د مرواء دوئ څه حال دی، ددک يې څنګه دی؟

-ښه دي خواران د ددک يې خونده نه وه؛ سارا پسې راغله، پنځه شپږ شپې کېږي کوئټې ته يې ورسره بېولی، دوا پرې کوي، مرواء هم ورسره تللې، د روازه يې قلف ده!

خدايی چې شي ددې خبرې په آورېدو ډېر سخت خپه شوم، مرواګۍ مې ډېره زياته يادېده، بل خوا مې سودا وه، چې له پرې تېرو طوفانونو نه به څنګه وتلې وي؟ لږ به يې خرابه کړې وي که ډېره؟ خو ظاهراً مې خپل سور او تال نورمال وساتل تر څو دوئ مې په خفګان پوه نشي.

مور مې بیا د مرواء د مور د مرګ کیسه راواچوله، دا کیسه یې تلیفون کې هم راته کړې وه، خو دلته یې چې راته وکړه، په خوارانو ډېر سخت احتیاجونه، خفګانونه، تېر شوي و، ماته په اسانه ژړاه نه راځي، مګر دې راخوړین کړم؛ د مرواء ماشومتوب رایاد شو، که څه هم دې به چې هر څه خوړل، ما به ترې غوښتل، تنها زما نه بلکې دا د ټولو هلکانو او نجینو عادت و، د یوه به چې مزې خوله وښورېده، بل به ورته وېل: څه شی خورې؟ ته راکړه لږ!

بیا به یې نو که ورکړل، خوشحاله به و، غنمت یې ګڼل، که به یې ورنه کړل هم هېڅ خبره نه وه، کوم د شرم یا خفګان احساس به یې هم نه کاوه، اما مرواء مې یوه ورځ ونه لیده چې له ما یا کوم بل ماشوم یې څه غوښتي وي، یعنې ان په همغه ماشومتوب کې یې ډېر ښه اصیل خوی لاره، فطري یو قسم غیرت او غرور، خدای ج ورکړی و، هیڅ یې نشوای زغملی چې چا ته دې کمه شي، چا ته دې د احتیاج لاس وغځوي او همداسې یوه ورځ زما او مرواء په شمول څلور، پنځه ماشومان و، د پټ پټوني لوبه مو کوله، منډې مو وهلې د مرواه د پرتوګ کشک وشکېده؛ زر یې لاس ورواچاوه، پرتوګ یې یو سانتی ښوېدو ته پرې نه ښود، خو بیا هم صرف ددې کشک له شکېدو سره لمړی له شرمه داسې تکه سره شوه، لکه سره منه، بیا پړینګ په ژړا شو، د پرتوګ ګنډه یې د لمن له پاسه کش پورته ورنیولی وه، په سلګیو سلګیو یې کور ته روانه شوه، په داسې حال کې چې زما په شمول د نورو هلکانو او نجینو به هر ورځ شکېدل، ترڅو به مو د منډې سرعت راکمولو، پرتوګ به مو له پښو راپورته کاوه، څو قدمه به په لوڅ ځان تللي و، ټول شیان به مو خلکو ولیدل، خو بیا یې هم کیسه کې نه و، د خلکو سره به موږ هم خندل، پس دې ټولو ته په کتو، مور مې یې چې کیسه کوله، زړه کې راتېره شوه: هغه شرمناکې، هغه د احتیاج او له چا نه څه غوښتلو په وړاندې اساسې، ننګیالۍ مرواء به د مور دغم سرببېره، دا احتیاجونه، د

میلمانو لپاره د ډوډۍ د انتظام بې وسي، حتا د کفن لپاره پیسې نه لرلو دردونه څنګ زغملي وي؟

همدا و چې نه یوازې زما تر سترګو یې اوښکې وبهولې، مور مې هم پس له نیمی پاتې کیسه په ژړا ژړا پای ته ورسوله.

نور مو د مجلس پیڅکې را ونغاړلې، موټرو خسته کړی وم، ویده شوم، د شپې له تیرېدو وروسته، سهار وختي مې حمام وکړ، جامې مې بدلې کړې، دا ورځ مې میلمه غوندې تېره کړه، سر له سبا مې په خپلو کورنیو کارونو لاس پورې کړ، چارچاپېر محیط کې د هر ګام په اخیستلو سره د هغه ځای اړوند د مرواء خاطرې او یادګارونه ذهن ته راتلل، ځینې به جالب و، لکه لیونی ځان سره به موسک شوم وبه مې خندل؛ ځینې به خواشنونکې وې، تر ټوله بده صحنه به هغه وه، چې په دروازه پراته ستر قلف به مې یې سترګې ولګېدې، خو په هر صورت شپې ورځې تېرېدې، هره ورځ به مې یې د راتلو په هیله پیلاوه، کلي ته به چې موټر راغلو ورڅک به شوم، ان تر دې چې پسرلی شو، مرواګۍ رامعلومه نشوه، زما واپس پوهنتون ته دتلو وخت شو، د تېر په څېر جامې مامې مې بیک کې واچولې، روان شوم، څنګه چې تېر ځل په خوشحالۍ او پوره انرژۍ سره روان وم، دا ځل برعکس ډېر په مات زړه مې حرکت وکړ، بار بار به مې ځان ته داډ ورکاوه: چې سړیه! نه دې کور څه مشکل و، نه دې پوهنتون او درسونو کې کومه ستونزه شته، بیا نو دا خفګان په څه معنا؟ ګوشکې به مې غوږو ته کړلې، مبایل کې به مې یوه ښه مسته سندره پلې کړه، اما د څو شېبو په تېرېدو سره به دا هم راباندې بوج شوه؛ دتبلې دربار به مې په سر کې داسې غږ خپل کړ، لکه جنګي راکېټونو، واپس به مې لرې کړې.

بالاخره په همدې پور خون زړه پوهنتون ته ورسېدم، د پخوا په شان مې خپلو درسونو ته دوام ورکړ، نه پوهېږم چې پنځلسمه؛ که شپاړسمه ورځ وه؛ کور ته مې زنګ

وکړ، موبایل مدیني جګ کړ، پوښتنه موښتنه مو سره وکړه، د خبرو اترو اخېر کې یې کړل:

-پرون مرواء او ددک یې هم راغلل!

-ښا، ددک یې ځنګ دی، پېښې یې نه دي ښې شوې؟

-تر هغه وخت نه لړ ښه دی اوس په لګېه تر برنډې راوتلی شي!

-ځه ښه دی، خدای ج دې نور هم ښه کړي!

-آمین

-که کوم خدمت نه وي، سلامونه کوه، نور دې په خدای ج سپارم صرف احوال مې اخیست!

-ژوندی اوسې وعلیکوم سلام؛ خدای ج دې مل شه!

تلیفون قطعه شو، خو د قعطه کېدو سره سم آرمان راغی چې ناکي مې د مرواء پوښتنه هم ترې ونکړه، بیا زړه کې راتېره شوه: ځه ښه وه چې پوښتنه مې یې ونکړه، ممکن تر پامه یې ښه نه وی ورغلی، چې ګواکي لالا ځنګه د یوې پېغلې ګاوندۍ داسې ګرمه پوښتنه کوې؟ ځه خیر تش په پوښتنه هم ځه نه کېږي، دا ځل چې په رخصتۍ ولاړ شم پخیر، په خپلو سترګو به یې ووینم.

په همدې انتظار مې شپې ورځې تېرولې، بالاخره امتحانونه راورسېدل، یوه ورځ چې یوازې درې امتحانونه پاتې و، ماسښین و، موبایل ته مې زنګ راغی، له جیب نه مې راویستلو، مور مې وه، د اوکې سره سم مې سلام ور واچاوه، پوښتنه مو وکړه، لږ هاخوا دې خوا وغږېدو، اخېر کې مې د مرواء د ددک پوښتنه ترې وکړه، وېل یې:

-مزه یې نشته د خوارکي، مشره لور یې سارا او میره یې هم راغلي، د جمعې په ورځ یې ددک او مرواء بیا ورسره بیایي، وایي: دوا یې خلاصه ده، ډاکټر ویلي و، چې درې میاشتې وروسته یې بیا راولئ!

افففف دا خبره نه وه، سم د تبر ګوزار یې راباندې وکړ، چون راتلونکې جمعې ته زموږ هم امتحانونه خلاصېدل، کور ته راتلم، د مور د باقي خبرو ځوابونه مې په لنډو، لنډو الفاظو ورکړل، بالاخره د خدای پامانۍ په کولو سره مو موبایل قطعه کړ، حیران وم چې اوس څنګه وکړم؟ یو ځل مې تصمیم ونیولو چې تر وروستي امتحان تېر شم، خو له بدمرغه وروستی امتحان مو د استاد رسول و، دا داسې یو عجیب جدي انسان و، که له نن ورځې خطا وی، پس له وخته یې بیا هېڅ عذر معذر نه منلو، له همدې کبله مې دویم تصمیم دا شو، چې د پنجشنبې په ورځ د وروستي امتحان له ورکولو وروسته د کابل د موټرو تم ځای ته راغلم، د هغه موټرو ټیکټ مې وکړ چې د شپې په دوو بجو به راوتل، هدف مې دا و، تر څو چې زموږ د کلي موټر کابل ته رارسېږي، زه هم باید کابل ته ور ورسېږم، خدای ج مهربان دی، که اډه کې یې یو ځل ووینم، ځکه چې مرواء دوئ هم لمړی کابل ته راتلل، له کابل نه بیا د کندهار په سه صدچهار (۳۰۴) د وخت تېز رفتاره سفري موټرو کې تلل، شپه مې اډه کې شوه، یوه نیمه بجه مې ساعت زنګ وکړ، ورجګ شوم، موټر کې د ټیکټ اړوند په خپله چوکۍ کېناستم، له وعدې سره سم موټر په دوو بجو حرکت وکړ.

لنډه دا چې تقريباً سهار په اووه نيمو بجو يې د کابل سرای شمالي کې ښکته کړو، سم دم ټکسي کې راوختلم، کمپنۍ کې د خپلې محلې د موټرو تم ځای ته راغلم، هاخوا دېخوا مې پسې وکتل، له وحيد استاد پرته نور کليوال ډرېور مې تر سترګو نشول، موبايل مې راويستلو، مور ته مې زنګ وکړ، له کورنۍ پوښتني وروسته مې ووېل:

-بېګاه مې د مرواء ددک په خوب ليده، خدای مکړه مړ خو به نه وي؟

-نه زويه! خدای ج به يې جوړ کړي، سهار لاړل، د رفعي تونس دروازې ته پسې راغی، پکې سپاره شول، اوس به کابل ته رسېدلي وي!

د رفعي شمېره تياره راسره وه، له مور سره تر تماس قطعه کېدو وروسته مې زنګ ورته وواهه: رفعي مې همزولی و، يوه نيمه ټوکه مو لرله، همدا و چې د اوکې سره سم يې د سلام په ځای يوه پوچه خبره وکړه، يادول يې مناسب نه دي، ومو خندل اخير کې مې ورته کړل:

-وړکيه! چېرته يې؟ که کابل ته راځې چې درته منتظر شم، له دې خوا مې درسره يوسه!

-تر چوک ارغندۍ درتېر شوم، فقط لس دولس دقيقې صبر وکړه در رسېږم!

رښتيا هم لس پنځلس دقيقې پس راوسېده، موټر يې په اډه کې وړاندې ګوښې ته تېر کړ، سواري يې ښکته کړه، يوازې مرواء، ددک او مشره خور يې په شاه سېټ کې ناست و، اوښې يې هم راښکته شو، په ټکسي راوستلو پسې سرک ته ووتلو، ترڅو د کندهار اډې ته پکې لاړ شي، له همدې موقع نه په استفاده، زه هم لنډ ورغلم، لمړی

مې د موټر تر څنګ یې ولاړ رفعي سره ستړي مشي وکړه، له یوه لحظه ورسره تم کېده وروسته را تاو شوم، د تونس د ډډې دروازه مې راکش کړه، موټر ته د سر ور دننه کولو سره جوخت مې سلام واچاوه، د سلام ځواب راکولو سره هممحال د مرواء مشرې خور چې ما به هم د مرواء په خوله خورکه ورته وېل، دا هم تقریبا ځوانه نجلۍ وه، ډېره ښه ځواني یې درلوده، په عین حال کې خورا شریفه ښځه هم وه، دې لاس راته ونیولو ستړي مشي مو وکړه، بیا لږ ور وځغېدم، د ددک لاس مې راونیولو ددې سره تر ستړې مشي وروسته، مرواء چې له دوی ټولو وړاندې ناسته وه، پوزې او خولې ته یې د ګلابي رنګه سره ماسک اچولو سربېره، یو خړچک لوی او نوی د نارینو پټو یې هم له ځانه تاو کړی و، یوازې دوې سترګې یې ښکارېدې، وخوځېده، راوخوځېده زړه یې وو، چې لاسونه سره ورکړو، خو له بده مرغه امکان نه و، ممکن تر منځ مو د ددک پېښه خوږ کړې وی، مجبور شوم، له همدې ځای نه مې ورته کړل:

-مرواء ته هم ستړې مشې!

ماسک یې له خولې او پوزې راښکته کړ، وېل یې:

-خیر یوسې!

بیا مې د ددک نه پوښتنه وکړه:

-ددکه! څنګه یې؟

-په جړ وړ غږ یې کړل:

-ښه يم!

-الله ج دې کامل صحت درکړي، انشاءالله جوړېږې، په دې خبره پسې مسلسل مې د مرواء مشرې خور ته سترګې را واړولې:

-خورکې! ددک دې لکه چې بيا کوئټې ته درسره روان کړی؟

-هو، ډاکتر راته ووېل چې دا دوا يې خلاصه شوه، بيا يې راولئ، اوس يې دوا خلاصه شوې د پښې درد يې هم زيات شوی!

-نځه، نځه الله ج د عاجله شفاء ورکړي!

-خير يوسې اکبرجانه! امين، ته ښه يې؟ له خاله خو مې دې پوښتنه کوله!

-مننه، خير يوسې، ښه يم الحمدالله په دې ساعت شکر دی!

په همدې سره مې مرواء ته سترګې ور واړولې:

-مرواء! ددک خو اوس شکر تر مخکې نه ښه دی، ما خو نه و ليدلی، اما چې کور ته به مې زنګ راوکړ، پوښتنه مې يې کوله، مدينې دوی به راته وېل چې ډېر تکليف دی!

-هو شکر له هغه وخت نه اوس ښه دی!

-ځه! انشاءالله دا ځل چې دوا وکړي، ببخي به ورسره روغ او جوړ شي!

غلې شوه، په خوله یې څه ونه ویل، یوازې پاکې پاکې اوږدو بانو لرونکې غټې ښایسته سترګې یې ارامې راپورته کړې، د څو ثانیو لپاره مو مسلسل سترګې یو د بل له سترګو سره وتړلې، د همدې څو ثانیو په لړ کې یې د سترګو په ژبه پرې تېرو شو، ټولو مشکلاتو، احتیاجونو، دردونو، کیسې وکړې، د زړې زړې ماته زړه انځور یې راته وښود.

په دې سره نه یوازې ددې، بلکې زما سترګې یې هم غیرې ارادي راډکې کړې، خو زر مې ځان کابو کړ، مشرې خورته مې یې مخ وروګرځاوه:

-خورکې! څه شی درته راواخلم، چې په لارو یې وخورئ؟

-تر مراده شې اکبر جانه! هر څه راسره شته، خیر یوسې!

څو مې دویم ځلې ټینګار کاوه، تر شاه مې ټکسي ودرېده، د مرواء اوښی ترې راښکته شو، ورسره کمک شوم ددک مې په ټکسي کې ورسره کېناوه، د خدای پامانۍ په مهال مې د مرواء خور ته بیا کړل:

-خورکې! زما د مور نمبر به درسره وي؟ د ددک د صحت په اړه یو نیم احوال ورکوه، ددې طرف نه زنګ ډېر په مشکل روخ کېږي!

-ښا، په سترګو له مرواء سره به یې نمبر وي، دوئ هم ان شاءالله زر رالېږم!

په همدې سره ټکسي حرکت وکړ، له حرکت سره سم، مرواء د شاه سېټ تر شيشې له يو جهان ښکلا ډکې خوږې سترګې راواړولې، عين حال کې ترڅو څوک پوه نشي، د خدای پامانۍ په پار يې يوازې دوې ګوتې په شيشه کېښودې، ګواکې بای بای!

ما هم د رفعي له خاطره د تندي ګرولو، په بهانه لاس ورته جګ کړ، څو ټکسي نه وه، پناه، ګوتې يې په شيشه ښکارېدې، د ټکسي تر پنا کېده وروسته، رفعي د شاه له خوانه په اوږه لاس راکېښود، موسکی موسکی کېده کړل يې:

-د تره زويه! ګاونډيانې دې لکه چې ډېرې دربانډې ګرانې دي؟ خورکه، خورکه غړ دې راتلو، نور له خندا شين شو، د څو شېبو لپاره يې ښه په کړس وخندل.

خدايي چې شي ما ته يې هم خندا راوستله، خو د راپارېدلو احساساتو برعکس په تونده مې ورغبرګه کړه:

-ورک شه لوده! بېکاره سړی هر چا ته د ځان فکر کوي!

په دې خبر مې لا پسې له خندا شنه تبۍ شو.

خو په هر حال، چې کيسه اوږده نشي، که څه هم د مرواء په سفر تلو صحنې، همدارنګه سترګو کې پرې تېرو شوو بلها ستونزو، دردونو راسره شريکولو يې ډېر خپه کړم، ان اوښکې مې يې راوپارولې، ولې بيا هم خوشحاله په دې وم، چې د مزار د اډې په کرغړن هوټل کې شپې کولو او تلواري راتلو مې ځای ونيولو، مرواء مې وليده، اګر چې ډنګره شوې وه، پرې تېرو مشکلاتو يې هغه تته موسکا، د سترګو ادبانه شوخي او مستي ترې لوټ کړې و، د مخ سرو او سپينو يې څه زېړوالی هم

خپل کړی و، اما په ټول کې نوې درې رنګه ښکلاء یې له غلیتوب سره په همغږۍ لا مزه کوله، خو په هر صورت، کیسې ته راځم، د رفعي د موټر له را ډکېدو وروسته د کور په لور راروان شوو، قضاء ماسښین و، رفعي مو د دروازې سره بریک وواهه، راښکته شوم، په موټر کې سوارۍ ته مې ساعت وکړ، مننه یې وکړه، موټر روان شو، زه په خپله دروازه ورننوتم، مور او خویندو مې د نورو ځلونو په څېر خوشحالۍ راته وکړې.

خو په هر ترتیب، ستاسو په اجازه د کیسې د لنډوالي په پار کور کې د راباندې تېرو شپو ورځو په جریان کې د هسکو ټیټو له یادونو تېرېږم، البته یو څه باید ووایم هغه دا چې د مرواء د خور خبرې ته په کتو چې (زر یې رالېږم ) درې څلور ورځې وروسته به مې یې راتلو ته سترګې وې، خو له بده مرغه رامعلوم نشول، رخصتي خلاصه شوه، بیا پوهنتون ته روان شوم، زما له بخته دوې شپې مې نه وې وتلې، چې کور ته مې زنګ وکړ، خبر شوم مرواء دوی راغلي.

څه به مې کړي و؟ یوازې تندي له مې ټس ورکړ، له خپل نصیب نه مې ګیله وشوه، تر ډېره مې فکر خراب و، وروسته مې ځان ته تسلې ورکړه، چې په خفګان څه نه کېږي، څه چې شوي، شوي واپس مې فکر خپلو درسونو ته راوګرځاوه، په عادي ډول هره ورځ د سهار په اووه بجو، پوهنتون ته تلم، په یوه بجه واپس لیلیې ته راتلم، شاوخوا یوه نیمه میاشت به مې وتلې وه، چې د نورو ورځو په شان یوه ورځ مې مور بیا زنګ راوکړ، خو دا ځل کیسه نوې وه، له سلام کلام وروسته یې کړل:

-اله زویه! پرون د مامور تورګل د زوی واده و، په ورا تللې وم، مدین خیلو کې مې

یوه نجلۍ ولیده، نیم زړه مې یې وړی، په پیغلو کې لکه د پنځلسمې سپوږمۍ غوندې ځلېده، یوه ځواني خدای ج ورکړې وه، سترګې څه کوې، تر اوسه مې داسې ښایسته

سترګې نه وې لیدلي، یوه هوښیاره، حیاناکه نجلۍ وه، د بختور په کور به ننوځي، پسې زیاته یې کړه، د کوزې کلا د شکور لالا د اینګور وریره ده، پرون د شکور لالا کره ورغلې وم، له اینګور نه مې یې پوښتنه وکړه، ویل یې: ورور مې د کلي په لیسه کې سرمعلم دی، دوه دوکانونه لري، ځمکې او باغونه یې هم زیات دي، یو کورولا موټر لري، فقط د خپلې کورنۍ د چکر لپاره یې اخیستی او د دوستانو مړی ژوندی پرې پالي.

ډېره درنه کورنۍ ده، کني خدای ج شته زما زړه کې و، چې پو هنتون دې پخیر خلاص شي، مرواء ښه نجلۍ ده، همدا به درته وکړم، په دې هم ګران یې، د خپلې خولې مېوه او بوسراغې یې تاته راوړې، د ددک یې هم ښه اېشې، راکوي یې، که خلک هر څه پسې وايي موږ ته خو یې دینداري، هوښیاري، انسانیت او پاکیزه ګي هر څه ښه معلوم دي، په ښایست کې هم زموږ کلی څه، خدای که یې په ټوله دره کې جوړه وي، خو پرون مې چې مدین خیلې نجلۍ ولیده، مرواء یې په دوړه پسې یې هم نشي رسېدلی!

موسکی شوم ورته کړل مې:

-ښا نو اوس دې زړه څه دی، اصلي خبره وکړه؟

-زړه خو مې داسې دی چې راتلونکې جمعې ته دې خاله هم راسره بیایم، ورځو درته غواړم یې، که یې راکړه هغه نجلۍ مې خدای ج اینګور کړه، د ډېرو دوښمنو به مو ذره وچوي!

-ولا مورې څه درته ووايم؟ خو ځه اوس دې په خدای ج سپارم صنف ته مو استاد ننوتلو، وروسته بیا زنګ درته کوم!

تلفون قطعه شو، ورمنډه مې کړل، د اجازې اخیستو په پار مې د صنف ور ټک ټک کړ، استاد غږ وکړ:

-راځه!

سلام مې واچاوه، دویم قطار کې په خپله چوکۍ کېناستم، استاد درس ته دوام ورکړ، که څه هم په ډېره اړینه موضوع یې خبرې کولې، ولې ما به چې هر څو کوشش وکړ، فکر مې د استاد په خبرو نه راټولېده، د مدین خیلې نجلۍ په اړه د مور نه په لمړي ځل آورېدلې عجیب او غریبه خبره کې جړ و، لکه بنګ مې چې څکولي وي، یا زنګو کې ناست وم؛ چوکۍ کې به مې ټال وواهه.

لنډه دا چې درسي ساعت خلاص شو، لیلیه ته راغلم ډوډۍ مې زر زر وخوړه؛ د پردې په راخورولو سره مې چپرکت ته له نورو اطاقیانو پنایي ورکړه، اوږد پکې وغځېدم، د مور خبرې مې په ډېر د قت تر غور لاندې ونیولې، تقریباً دوه ساعته مې ئې په ټولو اړخونو فکر وکړ، له بدمرغه هېڅ نتیجې ته ونه سېدم، لا هم زړه نازړه وم، چې ګویا د مور سره مې د مدین خېلۍ جلۍ خبره اوکې کړم کنه؟

ځکه چې له یوې خوا مې مرواګۍ رګ رګ کې خوره وه؛ له لاسه په ورکولو مې یې هېڅ زړه نه کېده، بل خوا مې د مور له خولې د مدین خیلی د ښکلاء ،اخلاقو، شرافت او ښې کورنۍ بې ساري صفتونو د زړه مراندې ولړزولې، دریم دا چې دا مهال زه هم هغه پخوانی خاکسره کلیوال اکبر نه وم پاتې شوی، په تول ددې یونیم کال پوهنتون ویلو کې مې شخصیت، فکر، خوی او خواصو ډېر تغیر کړی و، سویه

مې په مراطبو جګه شوې وه، چون مسافري مې وکړه، د بېلا، بېلو ولایاتو د ځوانانو سره مې شناخت پيداکړی و، د داسې ځوانانو سره چې ټول باتعليمه و، په دوی کې زياترو يې ښې درنې د نام او نښان کورنۍ لرلې، ځانوتو ته يې يو څه وېل، له همداسې کورنيو نه يې وادونه هم کړي و، يا يې کول؛ خو ما هم ځان کم نه ترې ګاڼه، اما برعکس که څه هم خپله په مرواء کې د يوې ذرې کمی نه و، ولې د کورنۍ له خوا ډېره خواره وه، خصوصاً په دې وروستيو کې چې اقتصادي وضعيت يې هم بېخي پسې خراب شوی و، ان تر دې چې زمونږ د هغو کليوالو هلکانو کورنيو هم خپل عشر او زکات دوئ ته ورکړی و، کوم چې ما ان له ماشومتوبه له هغوئ سره ډېر کلک رقابت او سيالي لرل. بناءً دا وخت به زړه کې راتېرېده: چې که له مرواء سره کوژده يا واده وکړم ټول عمر به يو نوعه ورته پړ يم. يعني کله که لړ موقع هم ورته برابره شي، همدا پېغور به راکوي چې ښځه يا خسرخېل دې زمونږ په عشر او زکات پايدل.

له دې سربېره، څو متاهلو د اطاق ملګرو به مو هم تل په خپل مينځ کې د ګپ شپ په لباس کې، د خواښې، ښمينو له خوا د نازونو، خسرګنۍ کې له مهمانيو، مزو چړچو نه ژبه شړپوله، چې د وخت په تېرېدو سره يې مونږ مجردان انډيوالان هم له اثره ګوښه پاتې نشو، زما په شمول هغه ملګري مو چې وادونه يې نه لرل، له داسې کورنيو يې وادونه کولو ته زړونه موسېدل، چې شتمنې وي، خواښې او ښې ډېرې ښمينې يې وي، کش او پش يې زيات وي! په ښه او بد کې چې راټول شي، غولی يې پرې ښايسته شي.

بدبختانه دې ټولو موارېدو ته په کتو، تر ډېره د مور سره د مدين خيلۍ نجلۍ سره کوژدې کولو ته مايل شوم، ولې څنګه مې چې وړاندې ووېل، د مرواګۍ د مينې رېښې مې هم په زړه کې ډېرې ژورې تللې وې، دومره آسانه مې نشوی کولی چې تېره پرې راواړوم، همدا وجه وه، چې پس له دومره وخت فکر کولو لا هم ونتوانيدم، ترڅو يوه

قاطع پرېکړه وکړم. شپه مې هم په همدې فکر د پاڼ او پړانګ ترمنځ، کله ویښ کله ویده، هیجاني حالت کې تېره کړه، سهار شاوخوا اووه بجې مې بیا مور زنګ راته وکړ، له اوکې سره سم مې سلام ورواچاوه، د حال احوال پوښتنه مو وکړه، له پوښتنې وروسته یې کړل:

-ستا زنګ خو رامعلوم نشو، زما پرونۍ خبره دې لکه چې هېره شوه؟

-نه مورې! هېره مې نه ده، ولاکه پوهېږم څه درته ووایم؟

مور مې بیا د مدین خیلۍ نجلۍ د پرونیو صفتونو په تکرار سربېره ډېر زیات نور صفتونه وکړل:

یو عجیب وینته خدای ج ورکړي و، یو غټې غټې ښایسته سترګې یې وې، نرۍ نازکه پوزه، غونډه منډه خوله نازکې نازکې شونډې؛ میانه جګ قد لکه د ګلو ونه او...

خلاصه دومره ستاینې یې وکړې، د نوځوانۍ جوش و، بې ادبي دې معاف وي؛ نژدې و، چې په ولاړو یې د شیطان د بازۍ (احتلام) ښکار کړی وم.

په نالیدلي مدین خیلۍ نجلۍ (صدف) پسې مې یې د زړه کفترې ور په هوا کړې، د ځمکې په سر د یوازني ښکلي بشر په حیث مې یې سترګو او تصور کې بې انتها ښایسته څېره تاوېدل راتاوېدل، ممکن نصیب به مې همداسې و، کني دومره ساده هم نه وم او داسې مې هم اورېدلي چې په نجونو کې د انتخاب په اړه، د نوځوانۍ دوره کې د ډېرو هلکانو په عقل جنسي غریزه غالبه وي، سالمه پرېکړه نشي کولی، ددې

په ځای چې هر اړخیزه ښه غور پرې وکړي، په دې هڅه کې وي، چې زر تر زره اوس یوې ته لاس رسی پیداکړي.

خو هر څه چې و، مقصد د مور د خبرو په اخېر کې مې ور غبرګه کړه:

-خوښه دې مورې! هر څنګه چې کوې، د نرمې تمثیلي خندا په کولو سره مې، زیاته کړه: کني ما خو وېل چې زه به ټول عمر واده نه کوم، اما ته چې وایې...

خبره مې همدلته نیمګړې پرېښوده، له ساه اخیستو وروسته مې پسې زیاته کړه: خو ډېر احتیات کوه!

مور مې په خبره کې رضایت درک کړ، خوشحاله شوه، لمړی یې د خندا غږ راغی، بیا یې کړل:

-مور دې در ځار شي زویه! نه، نه بېغمه اوسه، که دا نجلۍ مې درته وکړه، په ډېرو به اور بل شي ته غوږ نیسه!

-سمده مورې! توکل په خدای ج ورشئ!

-راتلونکي جمعې ته دې زه او خاله ورځو، ترې غواړم یې، که راضې مو کړل، بله جمعه به پخیر یو څو نفره ورشو ګل به ترې راوړو!

له دې خبرې وروسته یې تلیفون قطعه شو، زنګ مې پسې وواهه، شبکې جواب راکړ، مبایل یې خاموش و؛ د دویم ځل لپاره مې هڅه وکړ، بیا هم همغه ځواب و؛ فکر کړم تلیفون یې چارچ خلاص کړ، نور ما هم خپل مبایل جیب ته واچاوه، چې ساعت ته مې وکتل آتو ته څو دقیقې پاتې وې، زر زر مې تقسیم اوقات وکاته، ددې ورځې درسي مضامین مې برابر کړل، پتلون او یخنکاک مې واغوستل، وېښته مې غوړ کړل، تدرسۍ ته روان شوم. صنف ته له رسېدو سره سم مې په همصنفیانو سلام واچاوه، تر څو په چوکۍ کېناستم، استاد هم راورسېده، درس مو پیل کړ؛ که څه هم هوش او فکر مې لا هم هوایي و؛ ولې بیا هم نظر پرون ورځې ته ښه وم، یوه شېبه به مې پام صنف کې و، بله به د کوژدې په معامله کې سرګردانه آوښتم، راوښتم.

بلاخره د جمعې ورځ راورسېده؛ مور او خاله مې مدین خېلو ته روانې شوې، شپه یې وکړه، سبا ماسښین په درېو بجو مې مور ته زنګ وکړ، مبایل یې اوکې کړ، په سلام پسې پیوست مې پوښتنه ترې وکړه:

-چیرته یئ؟

-دغه دي زویه! همدا اوس کورته راورسېدو!

-خاله هم درسره ده؟

-هو؛ د بېچاره سر موټر نیولی، دلته یې څنګ وهلی، سلام درته وایي!

-وعلیکوم سلام، ښا څنګه مو وکړل؟

-الا زویه**!** دومره درانه خلک و؛ داسې قدرونه عذتونه مو یې وکړل، ماخوستن له ډوډۍ وروسته مو خبره ور یاده کړه اول خو یې وېل:

-موږ به خوښه وکړو؛ بیا احوال درکوو، چې خاله دې ورته ووېل:

-وراره مې په مزار کې فنتون (پوهنتون) وایي، کېتړ سایس دی که څه شی دي؟ زما یې نوم نه زده کېږي هغه وایي!

له دې خبرې سره ښځې میره، میره ښځې ته خوشحاله، خوشحاله سترګې ور واړولې، خو نور یې غږ ونکړ؛ لږ وروسته دې خسر وېل:

-ماما ناوې**!** خپه نشئ، نن ټوله ورځ وګرځېدم خسته یم، یو ساعت ویده کېږم، تاسو مو خپل مجلس کوی، خیره، خدای ج دې خیر پېښ کړي!

په همدې سره جګ شو، موږ هم یو ساعت وروسته ویدې شو؛ د شپې په بستره کې مېړه او ښځې مصلحت کړی و، سهار چې رارو انیدو، مېړه یې کړل:

-ماما ناوې**!** ستاسو له کلي نه بر په ډنډکلا کې مې یوه خور واده ده، ته به یې خدایزده پېژنې کنه؟ د شکور کډه، اوس مې زنګ ورته وهلی و، تاسو یې پېژندلی، ډاډ یې راکړ؛ توکل په خدای ج هر وخت چې راځئ راشئ، څه چې زموږ رواج دی، زه به یې په یو کاغذ کې درته ولیکم، که مو خوښه وه، په دواړو سترګو دعا به سره وکړو!

-ښا! نجلۍ دې ولیده؟

-نه مشر ورور یې په هرات کې اوسي، دوې ورځې وړاندې یې زوی پیدا شوی و، ښځې یې کار نشوی کولی، نجلۍ د هغه کره تللې وه. لیدلو ته یې حاجت هم نشته، هغه ورځ مې ټوله ورځ سترګې پکې خښې کړې وې، نجلۍ د یوې ستنې عیب نه لري؛ نغمه دې ځان وخوري زویه! ته وا په ګوتو دې جوړه کړې!

-سمه ده مورې! خو کاشکې نن هم وی، چې خاله څه پکې وېل؟

-نه، نه بېغمه اوسه!

-ښا! نو له دې وروسته څنګه کړې، بیا ورځې کنه؟

-راتلونکې جمعې ته دې ماما هم راغواړم، خاله خو دې تیاره راغلې، ټول ورځو، که په ولور (مهر) او د واده په خرڅ کې سره جوړ شو، دعا ورسره کوو، خو زه یې په خوله پوه شوم، که خدای ج کول راسره جوړېږي، ګومان کوم، د ډنډکلا خور یې زموږ زیات صفتونه ورته کړي، ډېر راته خوشحاله شول!

-سمه ده مورې! پوښتنه مې کوله چې راغلئ کنه؟ نور دې وخت نه نیسم، زما د یو کتاب لړ لیکنه پاتې ده، زه به دا ورسوم، خاله ته مې سلام وایه!

-وعلیکوم سلام؛ څه خدای ج دې مل شه!

موبايل مې ورقطعه کړ، کتابچې متابچې مې راخورې کړې، په ليکلو مې پيل وکړ، بالاخره مازيګر شو، په اوداسه او لمانځه پسې جګ شوم؛ پس له لمانځه ادريس سره د ليليه تر مخ باغچې ته ووتلم، ادريس له هاخوا او دېخوا غږېده؛ ټوکې يې وهلې خندل يې؛ ما هم خوله جينګه ورته نيولې وه؛ نور مې د فکر ډېره برخه په واده او د مور په روانه کړې کيسه کې مخشوش و، ان تر دې چې د ماښام لمانځونه مو هم په همدې باغچه کې وکړل؛ پس له لمانځه ادريس سګريت تازه کړ؛ يو دوه کشه لا پاتې و، چې د طعام خورۍ په لاډسپيکر کې غږ وشو:

-بيايي نان تيار است!

زر زر يې يو دوه غټ غټ کشونه نور هم ورکړل، باقي سيګريت يې وغورځاوه؛ ور روان شو؛ طعام خورۍ ته ننوتلو ډوډۍ مو راوخيسته، د ډوډۍ اخير و، يوه دوې ګولې لوبيا مې لا په قاب کې پاتې وه، موبايل ته مې زنګ راغی، چې ومې ليده، شمېره نابلده وه؛ په طعام خورۍ کې چغو پوغ و، غږ نه آورېدل کېده، تر پاتې يوه دوې ګولې لوبيا مې تېر شوم، له طعام خورۍ راووتم، په همدې راوتلو کې مې مبايل اوکې کړ، واپس د باغچې په لور ورسره روان شوم، غږ مې پرې وکړ:

-سلام عليکوم!

له مقابل لوري تر يو لوی اوسيلي وروسته، په ښځينه خورا مايوسه آواز ځواب راکړل شو:

-وعليکوم سلام؛ اکبره! ښه يې؟

که څه هم په لمړي قدم کې مې وپېژنده چې مرواء ده، خو ځان مې واچاوه، ورغبګه مې کړه:

-شکر دی ښه یم، وبښه ومې نه پېژندې؟

-مرواء یمه!

-ښا، څنګه یې، ددک دې ښه دی، له خورکې دې حوال لرې ښه ده؟

-شکر دی ښه یو؛ ته څنګه یې؛ له درسونو سره دې څه حال دی؟

-په دې حال شکر دی، ښه یم، خیرت خو به وي غږ دې ولې لوېدلی؟

-هو! خیرت دی، مازیګر مدینه راغلې وه، وېل یې: پرون مې مور او خاله مدین خیلو ته تللې وې، کومه نجلی یې کتلې، لالا ته مو یې کوو، دا رښتیا ده، که دروغ، ته خبر یې؟

-هو! رښتیا ده، څنګه؟

له همدې سره په جګ آواز یو کړس راغی لکه څه شی چې ولوېږي، فکر کړم مبایل یې له لاسه وغورځېده، خو لا هم قطعه نه و، تر ډېره ورته غوږ وم، له دې کړس وروسته، د یو قسم سترې ستما سره ګډ د غټو غټو زندئ شو سلګیو تت غږ راتلو، عیني لکه څوک چې په خوله لاس ونیسي، په چیغو چیغو ژړا او درد ستوني کې ایساره کړي، بار بار مې غږ پرې وکړ:

-آورې؟ آورې...

هېڅ جواب نه راکاوه؛ تر ډېره فقط همغه د زندۍ سلګیو او ستما، آواز راتلو، بالاخره تماس قطعه شو، له دې خوا مې زنګ پسې وکړ؛ تر اخېره یې زنګونه تېر کړل، اما ګوشي یې پورته نکړه، بیا مې زنګ ورته وکړ، دا ځل یې هم اوکې نکړ.

څو لحظې په دې هیله ورته منتظر شوم؛ چې ګوندې دا بیا زنګ وکړي؛ خو ویې نه کړ، مبایل مې جیب ته کړ، اطاق ته راوختلم، ملګرو مې چای راکړی و، ټوکې ټکالې یې کولې، زما په راتلو سره امیرخان کړل:

-هغه دی، ملګری مې راغی، تاسو اوس په ما ټوکې وکړئ!

هلکان په خندا شول، فهیم له خندا سره یو ځای کړل:

-د ملګري دې هم دا څو شپې خونده نشته طوطي یې مړ دی؛ لکه چې خیرالله خان

ستاد ته په کومه ګوښه؛ موښه کې تر ګوتو ورغلی!

ددې خبرې په اورېدو سره د خندا غږ دومره جګ شو، چې په ټوله لیلیه کې یې ازانګې شوې؛ قاري نصیر چې په خندا کې یې شهرت لاره، په ګېډه لاسونه یې نیولي و؛ له خندا بېران په غولي رغړېده؛ چون خیرالله خان استاد زموږ پوهنتون کې یو پوخته ساله، له رنګه سور چاغ استاد و، خدای ج یې دې غیبت نه کوي، خپله مې څه نه دي پکې لیدلي، خو هلکانو به ویل: ډېر سخت بچه باز دی؛ په لیلیه کې یو شبرغانی هلک و، کمه کمه ګیره یې اوس راغلې و؛ واقعاً ډېره ښه ځواني یې لرله؛ خو دا ګنګوسه هم پسې پرته و؛ چې تېر کال امتحانو کې خیرالله خان استاد د یوې نمرې په

کمولو سره ناکام کړی و، هلک چې هر څو عذر او زاری ورته کړې و، نه یې و منلې، بالاخره د یوې مچو په مقابل کې یې هغه یوه نمره ورپوره کړې وه. همداسې دې ته ورته نورې حتا له دې نه ورانې کیسې به هم د خیرالله خان استاذ په تړاو کېدلې، نو ځکه زما تغیر شوي رنګ او نارامی ته په کتو، د فهیم ټوکه دومره جالبه تمامه شو .

خو په هر حال، که څه هم زما هوش او فکر ټول له مرواء سره و، ولی ظاهراً مې د دوئ سره هم څه ربنتیا، څه په زور شونډې وریتې نیولې وې، خندل مې، چای مې راواچاوه، د چپرکټ په څنډه کښاستم، هلکانو د انتظار شیبې شمېرلې، چې له فهیم نه به اوس خپل ورا اخلم، ځکه زه دوئ پېژندم چې په ټوکو کې په ټوله لیلیه کې څوک راته د ټینګې نه و، اما بدبختانه دلته هېڅ ټوکه ذهن ته نه راتله، چې د فهیم نه مې خپل غچ اخیستی وی؛ که غچ هم نه وی، اقلاً چې ددې نورو هلکانو توجه خو مې له ځانه اړولې وی، خولې ته مې یې نغې نغې سترګې نه وی نیولې، له همدې مجبوریته لا هم د یوې ټوکې د راجوړولو په هڅه کې وم؛ چې کتل مو د لیلیې مدیر ډېر تېز او په قهر اطاق ته راننوتلو، مخامخ ودرېده، ټول یې مخاطب کړو:

-دا لیلیه ده که د شغالانو ځنګل دی؟ انسانان یئ که څه بلاوې یئ؟ خدای ج مو ووهه،

د پوهنتون او لیلیه بلا دې درواوړي... همداسې ډېرې نورې سپکې سپورې یې ووېلې، اخېري جمله یې دا وه: که دا ځل مو د خندا غږ راغی، ولا که په ټول عمر بیا لیلیه کې پل رانه کېږدئ!

نور ښه شو ووتلو، که څه هم مدیر صیب زیات خپه او خجالت کړو؛ مګر یوه ګټه مې وکړه؛ مخکنی مجلس ړنګ شو، د فهیم په وړاندې له هغه مکلفیته په پرده کې خلاص شوم، چې زما د تېر عمر ټوکماری ته په کتو ملګرو یې د قوي ځواب هیله

رانه لرله؛ په داسې حال کې چې ذهن ته مې هېڅ نه راتلل او د خواب ورکولو بل مجبوریت مې دا و ځنګه چې تر دې وړاندې چاته چوپ نه وم پاتې شوی، نن که چوپ پاتې وی، ځنګه چې فهیم ووېل: ( دا څو شپې دې د ملګري خوند نشته رنګ یې الوتی...) طبعاً ټول ملګري به شکي شوي و، چې رښتیا سړي ته خو څه کیسه ورشوې؟ له همدې کبله اړ وم چې یو څه مې ویلي وی، خو ښه و، د مدیر له بې ابابۍ سره هلکان مړه، مړه خپلو چپرکټونو ته جګ شول، ما هم خپل پاتې چای یو غوړپ کړ؛ پرده مې راخوشې کړه، په چپرکټ کې وغځېدم، ګوشکې مې په غوږنو کې ورکړې؛ دهغه تاجکی نجلۍ سندره مې پلې کړه چې وایي:

)رنجیده اي، رنجیده اي، عزیزم جان جان از من ګنا چی شده؟(

سندره چالانده وه، زما فکر د مرواء د تماس په وروستیو زندۍ سلګیو او ورک آواز کې مختل و، قصد مې وکړ یو ځل بیا زنګ ورته وکړم، ساعت ته مې وکتل نهه بجې وې، ناوخته وه، واپس پښېمانه شوم؛ چې ممکن ویده به وي، وطن کې خلک وختي ویده کیږي، ګوشکې مې له غوږنو لرې کړې، راکیناستم کمیس مې ویستلو ایاته کرسي مې ووېله، زما عادت دی ډیری وخت پړمخې څملم، همداسې مې ښه دمه جوړیږي، ښه خوب راځي، دلته هم د خپل عادت له مخې پړمخې پرېوتم، تر ډېره ویښوم، یو خوا مې څه د خوشحالۍ احساس کاوه، هر ځنګه چې شي په مجردانو د کوزدې خبرې ښې لګیږي، بیا د مور ستاینو ته په کتو چې نجلۍ هم داسې یوه بې جوړې ښکلې نجلۍ وي. بلخوا ځنګه مې چې وړاندې ووېل، د مرواء د مینې ریښې مې هم د بدن په رګ رګ کې ډېرې ژورې غځېدلې وې، په هېڅ صورت مې روح او زړه نه راسره منله چې له لاسه یې دې ورکړم، سره ددې چې بار بار مې په بېلا بېلو نوعو ځان ته ډاډ او قناعت ورکاوه، ترڅو نور د مرواء له اثره ځان وباسم، د کلي د نورو نجونو په شان یوه عادي نجلۍ یې وګنم، خو زما هڅې ناکامې وې، پوره

یې نارامه کړی وم، خصوصاً د ماښام زنګ راوهلو او زندۍ سلګۍ یې ښېخي اغېزناکې وې.

همدې د مدین خیلۍ نجلۍ صدف په خوشبنۍ او مرواء په تشویش کې ویده شوی وم. د شپې مې خوب لیده؛ د کلي په خوړ کې مو ډېر ستر او خطرناک سیلاب راغلی وي، لکه اوښان داسې آوښت، اوبه یې له زیات خړولي تکې تورې ښکارېدې، غربهار یې لګېده، غټ غټ د غره شنه کمر یې له ځان سره رغړول؛ مرواء د یو پاڼ له پاسه ورته ولاړه وه، سیل یې کاوه، غلی، غلی د شاه له خوا ورغلم، په ولیو مې یې لاس ورکېښودل، ځو یې مخ رااړوه، د سېلاب منځ ته مې ورټېله کړه، د ټیلوهلو سره سم یې له چیغه سره ګډ کړل: ای ظالمه ولې؟

له ورغوځېدو سره د سیلاب یوه زوروره ځپه پرې راواوښته، له ځان سره یې د تورو ابو تل ته ښکته کړه، زه یې په تماشه د همدې پاڼ په خندډه پسې ولاړ وم، لاس مې د پیک په شان د سترګو له پاسه نیولی و، په خوړ کې مې ښکته د سیلاب غرونه، غرونه ځپو ته کتل چې مرواء سره ته راوړي کنه؟

ډېر وخت ووتلو، تر سترګو مې نشوه، زړه کې مې وېل: شاید د کمرو تر منځ ورغلې وي، ذره ذره به یې کړې وي، نور ترې را روانیدم، چې لړ کوز د سیلاب منځ کې یو ډېر ښایسته تخت مې تر سترګو شو، قالیني پکې هوارې وې، په څنډو یې د رنګا رنګ سرو او شنو اشارو د ډېم او فول کېدو سرببېره، غنچه غنچه ګلونه پرې قطار و، لکه د وخت په ټوله ښکلا ښکلې شوې شاهي کویکه (کبنتۍ) په مزه، مزه د سیلاب دغرونه غرونه ځپو له پاسه روان و، مرواء په ښکلو رنګینو جامو کې بلا سینګار کړې، د یو ښکلي ځوان سره چې سپینې جامې او تور واسکټ یې په تن و، د ایرانیانو په اصطلاح (پیش بلند) شاته ته پرېښي تور خوندور ویښتته یې په ولیو پرات و، دواړه جوړه د تخت په منځ کې د هوارو قالینو له پاسه، په ایښودل شوي کوچ کې ناسته و،

په نازکه سپینه غاړه یې د سرو زرو لاکېټ زیړ ځلېده، مخ ته یې د مېز په سر قسم، قسم تازه مېوې قابونو کې اېښې وې، زه ددې عجیبې غریبې صحنې په تماشه لا هم لاس په تندي ولاړ وم، پام مې نه و، تر پښو لاندې پاڼ مې د سیلاب څپو وهلی و؛ حرکت یې وکړ، د جګې چیغې په کولو سره مې راټوپ کړل، خو له بده مرغه بریالی نشو، روان پاڼ د مست سیلاب د وحشي څپو په خوله ورکړم، چیغې مې وهلې هاخوا دې خوا مې منګولې اچولې، یوې څپې به تر انبار انبار خړو ګیلاونو لاندې کړم؛ بلې به واپس د اوبو سر ته راجګ کړم؛ ددې تر څنګ د یو قسم وحشت ناکو غټو غټو غاښونو لرونکو بلاو څېرې مې هم تر سترګو کېدې، چې زما لور ته یې خولې را اچولې، ما ته یوازې چیغې راپاتې وې، نور به مې څه کړي وی؟ بالاخره تر ډېرو غپو مپو وروسته چې نور له چیغو هم لویدلی وم، ساه مې پاکه ولاړه وه، یوې څپې د ابوه سر ته راپورته کړم، له راپورته کېدو سره سم مې د مرواء دوئ په تخت سترګې ولګېدې، ترې تېردو په حال کې وم؛ اګر چې سیلاب ته د مرواء راغورځولو یا ورسره کړي ظلم له وجې مې د مرستې امید نه ترې لاره، خو هغه متل ده چې وایي: بد ساعت سړی هر څه ته مجبور وي، همدا و چې ما هم په ټوله سپین سترګی د مرستې ترې غوښتلو په پار څو بدریغه چیغې ور وکړې، د دوئ چې راپام شو، تخت یې زما لور ته رانژدې کړ، مرواء او ورسره ځوان د تخت له څنډې جوړه لاسونه د مرستې لپاره را وغځول، ما هم د دوئ لور ته منګولې غورځولې، څنګه مو چې د ګوتو سرونه سره ولګېدل.

د اطاق ملګري مې فیصل تر مټ ونیولم ټکان یې راکړ، په لوړ غږ یې کړل:

-اکبره! اکبره! جګ شه ولې چیغې وهې؟

چې سترګې مې رارنې کړې، د لیلیې په چپرکټ آرامه پروت وم، نه سیلاب و، نه مرواء وه، نه تخت، په خپلو خولو کې لوند خوشت وم، زړه مې لکه د وېرېدلې مرغۍ په یوه ضربه غورځېده؛ کلمه مې ووېله راکیناستم، فیصل ته مې کړل:

-مننه وروره چې راویښ دې کړم، ډېر یو وحشت ناک خواب مې لیده!

-داسې چیغې دې وکړې چې زما دې نژدې ذره چاودلې وه، د همدې خبرې په کولو سره فیصل رانه راون شو!

دسمال ته مې لاس کړ، د مخ او غاړې خولې مې وچې کړې، د خولو وچوالي سره سم څو لحظې د لیدلي خوب په فکر کې لاړم، اخېر کې موسک شوم، زړه کې مې کړل: خوب هم عجیب شي وي، نور پسې ونه ګرځېدم.

موبایل ته مې لاس ورتېر کړ، ساعت مې وکاته، پنځه بجې وې، تقریباً سهار و، واپس پرې نه وتم؛ کمیس مې واغوست جګ شوم، د آذانونو کړنګو پړونګ و، اودس او لمونځ مې وکړل، واپس مې چپرکټ کې وغځېدم، موبایل کې مې ګوتې وهلې، د اطاق نوکري د کریم وه، یو وخت یې غږ وکړ: راځئ چای تیار دی! چې پرده مې پورته کړه، دسترخوان په غولي هوار و، ډوډۍ پرې ایښې وه، کریم په ګیلاسونو کې بوره اچوله، ملګري راتلل له دسترخوان هاخوا دې خوا کېناستل، زه هم ورجګ شوم، د فیصل ترڅنګ کیناستم، فهیم چې د دسترخوان له هاخوا مخامخ راته ناست و، کړل یې:

-د شپې دې ښنګه چيغې وهلې؟ خوب اخيستی وم، له وسه مې نه کېدل چې درجګ شم، کني غېږ کې مې اخيستې له دې کړکۍ مې د ليليې د تعمير شاه ته غورځولې.

هلکان په خندا شول، جاوېد پسې زياته کړه:

-خوب کې به خيرالله خان استاد بيا په کومه ګوښه موښه کې رايسار کړی و!

له دې سره د خندا غږ لا جګ شو؛ قاري نصير خو له ډېرې خندا په ملا ماتېده راماتېده ګيلاسه يې هم واړوه.

د هلکانو خولې لا له خندا نه وې راټولې چې د دسترخوان له بر کونج نه د اطاق د مشر فرهاد په تونده لهجه غږ راپورته شو، هلکان چپ شول، فرهاد کړل:

-هغه بېګانی عزت مو بس نه دی، چې مدير صيب راکړ؟ اخير شرم دی، رښتيا يې وېل، شغال خانه خو نه ده؟ پسې اوږده يې کړه...

اخېر کې يې وېل: که دا ځل مې په اطاق کې د چا له خولې ټوکه او داسې خنداګانې واورېدې، زه له دې اطاق نه تبديلي اخلم، تاسو به نه شرمېږئ، د مدير بېګاني بد رد وېل به اثر نه درباندې لري، مګر زه يې نشم برداشت کولی!

د مشر له خبرو وروسته مې په ټيټ آواز فهيم او جاويد ته صرف دومره ووېل:

-زه به په تدريسی کې ستاسو سره ګورم!

نور خاموشي خوره شوه، چای مو وخواړه، جګ شوم درشي مې وغوسته، تقسیم اوقات مې برابر کړ، روان شوم، کریم غږ وکړ:

-تر اوسه وخت دی، صبر لږ وروسته به ولاړ شو!

-تاسو راپسې راځئ، په بازار کې مې د یوه هنصنفي دوکان دی، زه هلته څم لږ کار مې دی ورسره!

په همدې بهانه له اطاق نه راووتم، د لیلیې تر عمومي دروازه له وتلو وروسته مې مرواء ته بیا زنګ وکړ، څو زنګونه یې تېر کړل، اخېر کې یې اوکې کړ، له دردمنې لوې ساه اخیستو پس په ټیټ او لوېدلي د مرواء له غږ سره کاملاً په متفاوت غږ یې کړل:

-بلې اکبره! ښه یې؟

-شکر ښه یم، مرواء یې؟

-هو!

-غږ دې څنګه بدل شوی؟

-خدایزده ستونی مې لوېدلی، ددې اثر به وي!

-ښا، ددک دې څنګ دی؟

-شکر دی ښه دی!

-پرون دې زنګ وواهه، له هغه يو څو خبرو وروسته دې غږ ورک شو، سودا مې شوه څه دې وېل؟

-زړه کې مې ډېرې خبرې وې او دي، خو يوه د سوز چيغه مې مرۍ ته راغله، په خوله مې لاس کېښود همغه مې تربت کړه نور هر څه ولاړل!

-ولې؟

-د ولې په ځواب دې خپله ښه پوهېږې، مګر دومره درته وايم؛ منم مدين خيلی نجلۍ به له ما ښکلې وي، مګر څومره مينه چې زه ستا سره لرم، څومره چې ته ماته ګران او قدردان يې يا کومه مينه چې له ماشومتوب نه تر دې دمه ما تاته د راټلونکي يا جوړيي ژوند لپاره زړه کې ساتلې وه، که د ټولې دنيا نجونې ستا مينه شي، له سلو نه به يې يوازې يوه برخه هم پوره نکړي. بلخوا ته پوهېږې چې زما مور ناروغه وه، پلار مې سپينږيری و، ورور يا د کور کوم بل دستيار مو نه لاره، مجبوره وم چې وخت ناوخت په تاسو غږ وکړم، مرسته درنه وغواړم، خصوصاً د مور لپاره مې د دوا راوړلو يا له دوکانونونه د کومې بل ضروري سواد راغوښتلو په وخت، اما د کور کلي خلکو ته دې خدای ج انصاف ورکړي، څه، څه يې راپسې ونه وېل؟ تر کومې اندازې يې ستا په نوم توره بدنامه نکړم؟ کني ما او تاته خو له هر چانه ښه معلومه ده چې يوازې له دې عادي خبرو او هغه يوې مچو چې په هغو کې هم زه درسر همغږې نه وم، حتا زياته خپه شوم، تر ډېره وخته خپل وجدان ځوروم، داسې احساس راته کېده چې ګواکي يوه غيرتي پاکه پښتنه نجلۍ نه يم، د پلار د عزت،

غیرت او شملې سره مې لوبې وکړې، ځکه ددک مې موږ په ډېر ناز او نزاکت رالوېې کړو، که تنها هم و، خو ډېر غیرتي سړی و، پس یوه نجلۍ چې احساس ولري، طبعاً د داسې کار په کولو سره به یې د خپل غیرتي پلار په حق کې وجدان زیاته کړوي، خو دا چې ستا خاطر ډېر راباندې ګران و، خوله مې پټه ونیوله.

نور ما او تا له دې هاخوا کومې نامشروع اړیکې نه دي سره لرلې؛ اما د خلکو دا ناولې خولې به څوک وربندي کړي؟ خو تر پرونه مې ددې خلکو د خبرو او ستا په نوم د بدنامۍ دومره پروا هم نه لرله، چون ما ته ان له ماشومتوبه، خپل ځان او ځیګر، د خپل ټول ژوند ملګرې، خپل هر څه ګڼلې وې. حتا ستا په نوم له دې تور او تهمت نه مې خوند اخیست، ترڅو بل هېڅ ځوان، هېڅ هلک له مانه د یوې ذره مینې هیله او توقع ونه لري، نه مې په لور راوګوري، د هر درد او ستونزې په وړاندې مې ستا په لرلو زړه ته تسلې ورکولې، خصوصاً په دې وروستي د قیامت په شان دردمند او له عذابونو ډک دور کې چې یو خوا د مور د مرګ او ابد لپاره د بلتانه دروند غم و، بلخوا د پلار مریضي، ځای په ځای کېدل او همداسې د غربت انتها، ان تر دې چې د خلکو عشر او ذکات اخیستو ته اړ شو، ګام په ګام زړه چاودونکې صحنې وې، لا هم جریان لري، خو ددې ټولو په وړاندې بیا هم وایم، زما د زړه یوازنۍ تکیه، لمړی په الله ج وه؛ بیا ستاسره په راتلونکې کې له مینې مالامال او سکون نه ډکه ملګرتیا وه، واړه هیلې امیدونه مې په تا پورې تړلي و، یقین وکړه د دغه ټولو درنو غمونو سره سره مې یوه ورځ له یاده ونه وتلې، له هر لمانځه وروسته مې اول تاته د سر د سلامتیا؛ خوشحالۍ او صحت دعا کوله، بیا د ځان لپاره، په ژړاغوني غږ یې پسې زیاته کړه: هی افسوس نن به مې ولې بې اختیاره سوې چیغې خولې ته نه راځي...

په همدې سره یې ژړا زور واخیست خبرې ترې ولاړې، بالاخره آواز یې ورک شو.

بار بار مې غږ پرې وکړ:

-بلې، بلې غږ مې آورې؟

یوازې دتېرې ورځې په څېر د ستړې ستما او زندئ سلګیو آواز مې یې تر غوږه کېده، څو شېبې وروسته موبایل راقطعه شو.

بیا مې زنګ پسې وکړ، شبکې ځواب راکړ: کومه شمېره مو چې داېره کړې، لاس رس نه ورته کېږي.

مسېج پاڼه مې را خلاصه کړه، په سلام پسې پیوست مې ورته ولیکل:

-څنګه چې تا ویلي؛ همداسې مې د خپل راتلونکي ژوند مینه، د زړه سکون، راز او نیاز ګڼلې، اما هغه د اختر په ورځ د یوې مچو په مقابل کې دې چې کوم تریخ عکسل عمل راسره وکړ، دومره دې ووېروم چې تر میاشتو میاشتو مې د خپل زړه دربار آورېده. له همغې ورځې په دې باور شوم، چې ته مینه نه راسره لرې، زه هسې خطا وتلی یم. مګر اوس خو تر ورخ اوبه تېرې دي، له هغه خلکو سره غږېدلي یو، کیدی شي راتلونکې جمعې ته دعا سره وکړو. نور تاته هم ښه بخت او راتلونکي کې ښه ژوند غواړم.

په همدې خبره مې لیکنې ته د پای ټکی کېښود، مسیج مې ور واستاوه.

البته له یادولو دې پاتې نه وي، مرواء هېڅ د مکتب دروازه نه وه لیدلې او نه زموږ سیمه کې د نجونو مکتب و، پرته له دې چې په ماشومتوب یې مسجد کې له ملا نه

(الف او ب) سپاره ویلې وه، او را وروسته یې بیا په کور کې له ددک نه قرانکریم زده کړی و؛ نور یې څه زده کړې نه وې کړې؛ بس هسې خدای ج ډېر ښه استعداد او وړتیا ورکړې و؛ یعنې که ووایم چې د دولسم صنف د فارغانو له اکثریتو یې روان لیک او لوست لاره، دروغ به مې نه وي ویلي .

خو په هر حال د مسیج له ورته استولو وروسته مې ساعت ته وکتل، صرف څو دقیقې د درس شروع کېدو ته پاتې وې، که څه هم له مرواء سره د مسیج کولو په مهال قدم، قدم کې تر ډېره راغلی وم، ولې لا هم څه لاره پاتې وه، حرکت مې ګړندی کړ، کافي وخت مې صنف ته ځان ورساوه، دوه ساعته درس مو ووېلو، دریم ساعت خالي و، راووتم مرواء ته د لیږلي مسیج ځواب ته مې سودا وه، له دویم منزل نه د راښکته کېدو په مهال زینو کې مې موبایل راویست، صفحه مې یې وکتله، کوم مسیج نه و راغلی، واپس مې جیب ته کړ، لیلیه ته له رسېدو سره سم مې بیا وکتلو، لا هم کوم مسیج نه و، له ډوډۍ خوړلو، اودس او لمانځه وروسته مې یو ځل بیا هم مسیج پاڼه له نظر تېره کړه، څه مې ونه لیدل، بالاخره هرې څو لحظې پس مې کتلو، تر دې چې د شپې یولس بجې شوې، پیغام یې رامعلوم نه شو، نور مې بالښت تر سر لاندې کړ، ویده شوم، سهار مې چې د موبایل صفحه روښانه کړه، د نوي پیغام علامې ټوپونه پرې وهل، کلیک مې کړ، مرواء اوږد ځوابیز پیغام را استولی وو؛ خو د لوستلو وخت یې نه و، ښېخي ناوخته وه، لمونځ قضاء کېده، جګ شوم زر زر مې اودس او لمونځ وکړل، خدای ج یې دې قبول کړي فکر او پام مې ټول د مرواء په رااستولي مسیج کې و، لنډه دا چې راومې سپړلو، زما د سلام په جواب راکولو پسې یې، لمړی یو د تمسخوري موسکا ستیکر لګولی و، وروسته یې پسې لیکلي و:

-زه ماشومه نه یم، په هر څه مې ډېر ښه سر خلاص دی، پوهېږم چې ته نن ولې د ټول عمر په مینه او خوږلښت مو خاورې اړوې لار جلا کوې، ددې چیټیاتو په لیکلو

دې هسې وخت ضايعه کړی، بل دا چې هغه ورځ هم ما کوم داسې عکسل عمل نه دی کړی چې تاته يا ستا شخصيت ته مې ذره تاوان اړولی وي، نه مې خپل مور او پلار ته ووېل، نه مې ستا کورنۍ خبره کړه، صرف له دې وېرې چې سبا تر دې زيات جرئت ونکړې، دروغجن قهر او غذب مې په ځېره راخور کړ، تمثيلي ژړا او تورې ترپې مې وکړې، هغه هم د يوې لحظې لپاره يوازې ستا مخکې. خو اصلاً دا خبره نه وه، ستا چې په مياشتو، مياشتو رنګ الوتی و، يا دې زړه درېبده، سترګې دې نشوی پورته کولی، زما د راستۍ او ښه نيت په وړاندې د خپلې آب نمک حرامۍ او بې شرمۍ تر اثر لاندې دې راغلی وې، له خجالته دې سترګې نشوی راپورته کولی، کني له همغې صحنې راوروسته ان تر دې څه مودې وړاندې چې زما مورکه ژوندۍ وه، ښکلی ژوند مو لاره، ما ستا سترګو کې زما د مينې مستې څپې ليدلې، اما بدبختانه دې آخېرو کې چې په موږ کوم، غربت، ستونزې او کړاونه راغلل، نه يوازې دا چې روحي يې شکنجه کړو، د مالي احتياج له وجې يې د کلي کور، سيالانو دوست او دښمن په وړاندې حيثيت رانه لوټ کړ، ان ستا په وړاندې يې هم دومره بې ارزښته کړم، هغه مرواء چې هر سهار به دې په سل رنګه بهانو هڅه کوله چې يو ځل دې نظر راباندې پرېوځي، کوم ورځ به دې چې ونه ليدم، مور به دې، په ملا رسول تور تېل درته دمول، زېړی به دې و. مګر نن زما په ځای يوې بلې ناآشنا نجلۍ ته ترجيح ورکوې، په ما شرمېږې، ستا وړ او سياله نه درته ښکارم، هی افسوز....

خو بيا هم، آخري خبره دا چې نه مې يادېږي تر دې دمه مې چاته عذر، زاری کړې وي، اما نن د لمړي ځل لپاره او وروستۍ خبرې په صفت، تاته عذر هم کوم، زاری هم کوم، زنه دې هم نيسم، زما روح او جسم ستاسره تړلي، داسې د ظلم په چاړه يې مه راپرې کوه.

درنښت!

مسيج همدومره وه، که څه هم داسې واقعات يې وېلي و، لکه زما زړه کې هر څه چې وينې، خو بيا هم ما هڅه کوله د رد الفاظ يې ورته راپيدا کړم، تر ماښامه مې ذهن ښه پرې ستړی کړ، ولې له بدمرغه هېڅ منطقي يا تر يوې اندازې قناعت بخش کليمات ذهن ته رانه غلل، بلخوا ددې فکر هم ډېر تېز و، په وړاندې يې ښه فولادي دليل ته اړتيا وه، همدا وجه و، چې ناکام شوم بالاخره بېخي مې يې په ځواب ورکولو خاشه واچوله، څو شپې ورځې تېرې شوې، ددې هم رښتيا همدا وروستی مسېج شو، بيا يې ځان پوه نکړ، نه يې زنګ وواهه.

بلخوا د پنجشنبې ورځ راورسېده، مازيګر و، د دريشی په مينځلو اخته وم، کړنګار شو، موبايل ته مې زنګ راغی، زر زر مې لاسونه څنګ کې په پرته خيرنه زېرپېرانۍ وچ کړل، موبايل مې راويست، زنګ مې مور وهلی و، له اوکې سره سم مې سلام ورواچاوه، له اوليه حال احوال اخيستو وروسته يې کړل:

-زويه! ماما دې راورسېده، خاله خو مې دې پرې نښوده تياره دا يوه هفته همدلته وه،

سبا پخير مو زړه دی چې مدين خيلو ته ولاړ شو، دعا کوه!

-سمه ده مورې! خدای ج دې خير درپېښ کړي، کالي مينځم اوبه مې يخېږي بيا مو

احوال اخلم ماما او خاله ته مې سلام وايه!

-وعليکوم سلام؛ ځار زويه! کاشکې څوک درتللی، دغه خيرن کالي به دې رالېږلي

و، پاک به مو درلېږلي وو!

-نه مورې! د يخنکاک غاړه مې لړ خيرنه شوې وه، اسانه پاکېږي!

-ښا زویه! څه خدای ج دې مل شه!

موبایل قطعه شو، د خوشحالی تر څنګ د حیرانتیا او ویرې کچه مې هم ساعت په ساعت زیاتې ده، ان تر دې چې شپه راغله، د شپې هم کله به مې د خوشحالی احساس وکړ، کله به اندیښنو په مخه کړم، چې ګواکې هسې نه مور مې پرې غلطه شوې وي، په داسې چا مې واوړي، چې ټوله اینده مې رابرباد کړي.

په همدې چورتونو، فکرونو کې تر دوو بجو بستره کې اړخ په اړخ اوښتم، راوښتم، خوب نه راتلو، پس له دوو بجو ویده شوی وم، سهار داود غږ راباندې وکړ:

-جګ شه وخت دې لمانځه دی!

-ښا درجګیږم!

داود ولاړو زه بیا خوب وړی وم، یو وخت مې چې سترګې رارنې کړې، آته بجې وې یو دوه هلکان نور هم ویده و، مصویر په غولي کړوپ و، خط یې لیکه، نور هلکان وتلي و، د جمعې ورځ وه، چا په چا کار نه لاره، چېرته چکر ته تلل که استراحت یې کاوه، د جمعې ورځ به دایم همداسې معاف وه، راکېناستم کمیس مې واغوست، ببر وېښته مې په ګوتو خلال کړل؛ نور مې له چپرکټ نه پښې راوځړولې، د مخ او لاس مینځلو په پار تشناب ته روان شوم، په عیني روانېده کې مې د مور شمېره هم دایره کړه، اطاق نه له وتلو سره سم مې یې زنګ تېر کړ، دهلېزه کې د دېوال خواته ورسره پښه نیولی شوم، ترڅو زنګونو تېرولو وروسته ئې اوکې کړ، موبایل کې یې ډېرغور او بر و، څو ځل مې غږ پرې وکړ:

-سلام علیکوم! بلې! بلې!... له ډېر ځنډ پس مې د مور غږ راغی کړل یې:

-غږ دې نه اورم زویه! موټر کې یم، مرجان کلا ته رارسېدلي یو!

-ښا ځئ خدای ج مو مل شه!

تماس مې ورقطعه کړ، تشناب ته ننوتلم، مخ او لاس مې پرې مینځل، وېښتو ته مې د نم مساج ورکړ، واپس راووتم.

څه سر مو خوړوم، ورځ د تېرې شپې غوندې د خوشبینۍ او اندېښنو په کربه توب تېره شوه، مازیګر مې مور ته بیا زنګ وکړ، مبایل یې خاموش و، د ماما نمبر مې ونیولو، دې هم زنګ تېر نکړ، همدلته مې راپام شو، چې هاخوا خو یوازې له سلام نورې مخابراتي شبکې کار نه کوي.

د شپې مې بیا زنګ ورته وکړ، زنګ ورنه غلو، پوه شوم چې شپه یې شوه، سهار اوه بجې مې هم دواړه شمېرې داېرې کړې، لا یې هم زنګ تېر نکړ. تقریباً نهه بجې وې، چې مور مې زنګ وکړ، له اوکې سره سم مې سلام ورواچاوه، د سلام له ځواب راکول سره ګډ یې په خوشحاله آواز کړل:

-مبارک دې شه زویه! خدای ج دې بختوره کړي، داسې نجلۍ مې درته وکړه، لکه د کوچو غونډارۍ، خاله دوی دې هم مبارکي وایي!

-خیر یوسئ مننه!

نور مې ورسره اوږده نه کړه څه د شرم احساس راته وشو، د خبرو سور او تال مې ولاړه.

مور مې راغبرګه کړه:

-موټر کې يو چې کور ته ورسېدو بيا به غږېږو، اوس دې غږ هم سم نه آورم!

-ښا ځئ خدای ج مو مل شه!

تلفيون قطعه شو، خو ددې زيري په اورېدو يو عجيب او عريب حالت راباندې راغی، هېڅ داسې الفاظ ذهن ته نه راځي چې د هغه ساعت وضعيت مې درته پرې بيان کړم، نه پوهېږم خوشحالي وه؟ خفګان و؟ لکه خوب چې وينم يا لکه د ټولې دنيا بنګ مې چې څکولي وي، د باقر صيب خبره ښېخي په پنځم موسم کې ګرځېدم، خو خير د وخت په تېرېدو سره کرار کرار خپل نورمال حالت ته راوګرځېدم، برقونه خراب و، موبايل چارچ خلاص کړ، مازيګر او د شپې ونه تاونېدم، چې د کور سره تماس ونيسم. سهار وختي ښه و، برق راغی، مبايل مې چارچ ته کېښود، چای مو چې وخواړه، له ليليې راوتلم، کورته مې زنګ وکړ، ګوشي مدينې پورته کړه، له سلام سره جوخت يې کړل:

-لالا کوزده دې مبارک، په دې موبايل کې پيسې خلاصې دي، کنی مخکې مې زنګ درته کاوه!

-خير يوسې خورې ژوند! تا ته دې هم مبارک شي، څه غورې دي کور؛ مور چېرته ده؟

-خیر یوسې، کور خیرو خیرت دی، مور په وړه کوټه کې ویده ده!

-لکه چې د شپې یې ځان په دریال (دریا) او آتیونو ښه له پښو غوځولی؟

-نه دریال مو ښېخي ونه واهه، پرون چې دوئ راورسېدل، زه ورغلم، په مرواء مې زېری وکړ، دا د برنډې په څنډه ناسته وه، ګیلاسونه یې مینځل، زما د زیري په اورېده سره یې چیغه وکړه، لاندې راولوېده، ترې رامنډه مې کړل، مور مې خبره کړه، واپس ټولې ورغلو، برنډې ته مو پورته کړه اوبه مو پرې واچوې، ډېر وخت ووتلو سترګې یې رارنې نکړې، بیا مو دا نور ګاونډیان هم پرې راخبر کړل، سلیم کاکا یې موټر راویستو، مور مې هم ورسره ولاړه، د حیدرخېلو کلنیک ته یې یوړه، هلته ډاکترانو ورته وېلي و، چې عاجل یې کابل کې جمهوریت شیفاخانې ته ورسوئ. سلیم کاکا د مرواء تره او ښځه یې کلینیک ته ورته راغوښتي و؛ مور مې وېل: چې راغلل داسې غوړمبدل لکه سپي، کنځلې یې ورته کولې موټر ته یې واچوه، یویې وړه، اوس نه یو ترې خبر چې څنګه به شوې وي؟!

-نڅه، نڅه، خدای ج دې ښه کړي، بېچاره، ښه مو کړي چې دریال مو نه دی وهلی، بد کار دی، تر څو نه ده ښه شوې ویې نه وهئ!

-نه چېرې زموږ هم داسې زړونه پرې بد دي، د واده په خوشحالۍ یې ښېخي پوه نکړو!

-ددک یې څنګه دی؟

-د بېګاه ډوډۍ او سهار چای موږ وروړل، ډوډۍ هم نشي خوړلی، خو وروړو یې، وخت ناوخت پرېږ راګرځو، څه یې چې پکار وي کمک ورسره کوو؛ بېچاره یو خو له ځای نه مریض و؛ بل اوس د مرواء غم داسې کړی چې هسې خدای ج ساه پکې چلوي!

-نڅه، نڅه الله ج یې دې مرسته وکړي، سړی څه ووایي؟

-آمین

-ښا مقصد چې جوړ وئ، پوښتنه مې کوله، هو رښتیا خاله دوئ شته که ولاړل؟

-شته، بالا خانه کې چای خوري، زه آشپز خانه کې یم!

-چې ورغلې سلام مې ورته وایه، ځه نور دې په خدای ج سپارم!

تماس مې ورقطعه کړ، راتاو شوم له پنجرې مې لمر ته غوړولی پتلون او یخنکاک راټول کړل، د اطاق ملګري مې لا د کوژدې په موضوع نه و خبر او ما هم کوشش کاوه تر څو کور ته نه یم تللی پیسې مې نه وي راوړې، باید خبر نشي، ځکه هر چا به چې کوژده وکړه، هلکانو به ډېر تاواني کاوه، ساز به یې پرې راوستلو، یوه ښه درنه مېلمانۍ به یې پرې کوله، ددې سربېره ځینو نازولو به په انفرادي ډول هم شیرني غوښته، سړی به یې له حلالو خلاص کړ.

دا خو خیر خبر نه و، اما زما د هیلې برخلاف د کلي له خوا هم هېڅ، کلیوال، دوست، ملګري زنګ راته ونکړ، مبارکي یې رانه کړه، که څه هم تر ډېره مې سترګې وې،

خو دوې، درې ورځې تېرې شوې لا مې هم د چا زنګ، مسيج ونه ليده، انديښمن يې کړم، مور ته مې زنګ وکړ، له لمړي زنګ سره يې اوکې کړ، سلام مې ور واچاوه، پسې پيوست مې د کورنۍ د فرد فرد پوښتنه وکړه، بلمقابل د ځان له صحت او احوال نه مې هم مطمينه کړه، بيا مې د مرواء پوښتنه ترې وکړه؛ مور مې فکر کاوه، چې دی به د مرواء له کيسې بېخي خبر نه وي، د مدينې د هغې ورځې د خبرو په تکرار يې شروع وکړه خبره کې يې ورولويدم:

-ها ورځ مدينې کيسه راته وکړه، اوس احوال ترې لرئ چې څنګه شوه؟

-کاکا او د کاکا ښځه يې سهار خپل کور ته ترې راغلي، مرواء يې خدايزده څه کړې؟ څوک وايي مړه شوې چېرته يې غورځولې، څوک وايي ضعف يې کړی و، په لارو ښه شوې وه، د کډو په کوچيانو يې خرڅه کړې، دوئ ترې راغلي، څوک څه وايي، څوک څه وايي!

ورغبرګه مې کړه:

-هغه مشره خور يې سارا به له کوئټې ورته راغلې وي، له ځان سره به يې بېولې وي؟

-نه د هغو نمبر راسره دی، پرون ماښام مې زنګ ورته کړی و، بېخي پرې خبره نه وه، ما هم خبره نکړه؛ ستا د کوژدې مې ورته ووېل، ډېره خوشحاله شوه، وېل يې: چې درغلم له نژدې يې بيا مبارکي کوم، خو اوس دې هم ډېره ډېره درته مبارک وي، خدای ج دې بختوره کړي!

-ولا عجیب دی، دا به یې نو څه کړې وي؟ کاکا یې رښتیا ډېر بې عقل سړی دی، که یې وژلې وي، چېرته یې غورځولې وي، یا یې خرڅه کړې هم وي شک نشته!

-هو موږ چې کلینک ته راوغښتلو هلته هم لکه ځناور داسې غوړمبېده، مرواء بېچاره بې هوشه وه په هېڅ هم نه خبرېده، کاشکې پلار یې جوړ وی، یا یې ورونه لرلی، دې سپي ته په لاس نه وی ورغلې، خو اوس دې خدای ج خیر ورته پېښ کړي، په موږ یې خپله ښادي پورې نه کړه!

-امین، میلمانه څوک نشته؟

-نه څوک نشته، ما خو هغه ورځ درته ووېل، که دا نجلۍ مې درته وکړه، خلک به له ډېره زوره وچوي، ودې لیدل تر اوسه هېڅوک مبارکۍ ته نه دي راغلي، حتا دا نژدې همسایګان مو هم ځان نه پوهوي!

-ماته هم هېچا زنګ ونکړ!

-بلا دې پسې، زوی به یې هلته مړ شي چې منی یې راناوې کړم، د کور سپوږمۍ مې شي، زور به ولې نه ورکوي؟ د ټول کلي ناوې او پېغلې چې راغوندې کړې، زما د اینګور د یوه نوک په ښایست او انسانیت پسې نشي رسېدلی!

-خدایزده څه مې وېل خبره مې هېره شوه، هو رښتیا دا ځل چې ورغلي وئ، څنګه رویش یې درسره وکړو، خفه کړي خو به یې نه وئ؟

-نه داسې قدردانه خلک دي، دومره خدمتونه مو یې بیا وکړل؛ په هر څه کې مو یې ډېر لحاظ وکړو، یاد کې مې نه پاتې کېږي، د واده څه مصارف یې چې رالاندې ایښي کاغذ کې نوشته دي، چې راغلې پخیر بیا به یې وګورې!

-نجلۍ دې ولیده؟

-نه بېچاره بېخي خبره نشوه، له هرات نه، نه وه راغلې، زموږ تر راتلو وروسته به یې مور او پلار زنګ ورته کړی وي!

-ښا مورې! مقصد چې ښه وئ، حال مې دې اخیستو، که کوم خدمت نه وي؟ په الله ج دې سپارم!

-خیر یوسې زویه! په دې حال شکر دی، تا دې هم خدای ج جوړ لري، څه خدای ج دې مل شه!

تماس مو قطعه کړو؛ دا ورځ او شپه هم تېر شول، مرواء ته مې سودا وه، سهار مې بیا کور ته زنګ وکړ، د مرواء برخلیک لا همغه سې نامعلوم و، مبایل کې مې څه ستونزه رامنځ ته شوه، دوې شپې مې ونشوی کولی، ترڅو احوال یې واخلم، په دریم سهار مې چې زنګ وکړ، لمړی ګوشي فریښتې پورته کړه، بیا یې مدینې ته ورکړه، له سلام کلام وروسته مې د مور پوښتنه ترې وکړه، وېل یې:

-سر یې خوږېده بلاخانې ته وختله، وېل یې: یو څو دقیقې مې آرام پرېږدئ!

-سر یې ولې خوړېده؟

-پرون د مرواء پلار مړ و، کلیوالو تر مینځلو وروسته؛ د مسجد سپاچې ته یووړ، ورور یې (د مرواء کاکا) هم ورته راغلی و، جنازه یې وکړه، سم له لاسه یې خښ کړ، نن سهار وختي یې هغه لېونی وراره راغلی و، د کور ټول کالي او سامانونه یې یووړل، په همدې یې زړه خوړین و، ځکه یې سر خوړېده!

-اففف په دې خو ولا زما هم سخت زړه درد وکړ، خدای ج دې وبښي، خو دې لیوني ته مې بل شان قهر راغی، اقلًا یو دری شپې خو به یې صبر کړی و!

-لالا**!** هغه د مرواء چرګانې دې لیدلې وې؟

-هو!

-په هغه وخت کې چې د کاکا زوی یې کالي وړل دواړه زموږ کره وې، اوس هم شته ترې پاتې شوې!

-ښا، ښې دي چاته مه وایئ، کني که خبر شو، دا حرامونی په دې پسې هم راځي، هر وخت چې مرواء خدای ج راپید کړه بیا به یې پخپل لاس ورته وسپارئ!

-ښا!

-څه احوال یې نه دی معلوم شوی؟

-خلک هر، هر څه وايي خو صحيح حال يې نه دی معلوم!

-څوک څه نه وايي چې ولې داسې شوه؟

-ډېر وايي ملتين (زهر) يې څښلي، ځينې وايي، عصبي حمله پرې راغلې. ملتين خو يې نه دي څښلي چې ولوېده، زه ورته ولاړه وم، عصبي حمله که پرې راغلې وي، وي به، د مور له مرګ راهسې يې ډېره خپه وه!

-ښا خورې! خدای ج يې دې کومک وکړي، موږ به څه وکړو؟ مور ته مې سلام کوه، زموږ چای لکه چې تيار دی، نوکري وال خو چيغې وهي!

-ښا، ښا ځه خدای دې مل شه!

-ستا سره!

موبايل مې راقطعه کړ، د مرواء دوئ په داسې له پلوه د سر او مال ورکه مې واقعاً ډېر زيات طبيعت خراب شو، مور او پلار يې هم په هر صورت، وخت پرې تېر و، ضعيفه او مريضان و، مګر د مرواء پېښه او نامعلومه سرنوشت رښتيا زيات خواشينونکي و، هېڅ مې له ذهن نه، نه وتله.

لنډه يې دا چې تقريباً مياشت تېره شوه، لا يې هم درک معلوم نشو.

د مور په خبره مې چې موبايل کې يې کيسه راته کوله، مشره خور يې سارا ددې علاوه چې په مرواء نه وه خبره، د ددک په مرګ يې هم چا احوال نه و ورکړی،

ممکن په تول ددې دومره وخت کې به يې د کورنۍ د احوال اخيستو لپاره مرواء ته ډېر زنګونه کړې وي، خو دا چې د مروا شمېره بنده وه، دغه و چې له هر څه ناخبره پاتې شوې وه، د ددک له وفات نه يې شل، پنځه ويشت ورځې وروسته خدايزده چا پرې خبره کړې وه، سم له خبرېده سره يې مخه راخيستې وه، دلته په راتلو سره د مرواء په ناڅاپه بې هوشه کېده او ورکه هم خبره شوې وه، د مور په خوله مې چې وېل يې: د کاکا په دروازه کې يې ځان پورته کاوه، له ځمکې يې ويشتو، په چيغو چيغو يې ژړل، خاورې يې په سر بادولې کاکا ته يې وېل:

-ظالمه! که د ددک د مرګه مې دې نه راته وېل، له مرواء خو به دې خبره کړې وم، اوس يې راوښيه مرواء دې څه کړه؟ مړه ده که ژوندۍ؟

کاکا يې له دوو، دريو څپېړو وهلو سربېره ډېرې سپکې سپورې ورته وغږولې، اخير کې يې ورته کړل:

-رنډۍ شی وه، چېرته به مرداره وي، خدايزده څه...... يې خوړلي و، اوس دې هم

مور خير يوسو، چې تر جمهوريت شفاخانې مو ورسوله، شفاخانه کې تر يو وخته ډاکتران ترې تاو و، په هوش رانغله، وروسته يې امبولانس کې واچوله، دوې ډاکترې ورسره وختلې، خدايزده چېرته يې يووړه؟ مور ته يې وېل: تاسو همدلته منتظر اوسئ، چې معاينات يې وشي، واپس يې راوړو، مور يو څه وخت ورته معطل و، اخير مې د فاروق مور (ښځې) ته وېل:

-راځه چې ځو، ولا له ځان نه شرمېږم، چې ددې فاحشې سره شفاخانې ته راغلي

يو، سبا به ددې له رويه په مور آسمان راولوېږي، همدا و چې په مخه ترې راغلو.

ددې خبرې په ورته کولو سره یې، سارا د حېرا او بد دعاییو سربېره، په ژړا او سلګیو نامیده له دروازې روانه شوه، هغه هم ترڅو یې چې له سترګو نه وه پناه بد رد یې پسې غږول. په داسې حال کې چې امنیتي شرایط هم ګډ وډ و، هېڅ کومه حکومتي یا بله داسې مسوله مرجع نه وه، ترڅو عرض یې ورته کړی وی.

خو په هر صورت، که څه هم نور یې مور له احوال نه خبر نشو، چې څه یې وکړل؟ اما داسې انګازه وه: چې سارا یې د تره له دروازې نه مستقیماً کابل ته پسې تللې وه، د ښار ټول روغتونونه یې کتلي و، حتا وېل کېدل، جمهوریت شفاخانه کې د بار، بار پوښتنو په کولو سره، ډاکترانو هم بې آبه کړې وه، چې ګواکې تاسو څه رنګه انسانان یئ؟ په کوما کې ناروغ مو روغتون کې یوازې پرېښی، تاسو ترې تللي یئ، یوه نیمه میاشتې وروسته راغلې یې پوښتنه یې کوې؛ درحالې کې چې دلته هره ورځ له بېلا بېلو ولایتونونه سلګونه ناروغان راوړل کېږي، لسګونه مري، لسګونه جوړېږي، مور کوم، کوم په یاد ولرو چې مړ شو، ژوندی شو، په کومه لاړه؟

خلاصه اخیر یې هم نه وه پیداکړې، له کابل نه داغلی زړه، نامیده واپس خپل کور کوئټې ته تللې وه.

د مور له ژبې ددې کیسې په آورېده یقیناً ډېر زیات خپه شوم، په سارا بېچاره مې خورا سخت زړه بد شو.

خو په هر راز، د دریم سمستر امتحانونو ته کم وخت پاتې و، بالاخره د څو ورځو په تېردو سره شروع شول، تدرسی ته به په اته بجو ورتلو، اما تر څو به استاد راتلو امتحان به یې اخیست، نهه نیمې، لس بجې به شوې، په همدا ترتیب دریم امتحان و، په اتو بجو تدریسی ته ورسېدم، استاد نه و راغلی، واپس راووتم، په انتظار یې د پوهنتون تر مخ پارک کې له یوې ناجو ونې لاندې په چوکی کیناستم، یوه پښه مې په

بله واړوه، یو لاس کې مې د خپل دایمي عادت سره سم، سرې غټې تذبذب اړولې، بل لاس مې پکې د کلوله کړي چپټر سره د ګونډې په سر ایښی و، خدایزده په کوم فکر کې تللی وم؟ تقریباً لس دقیقې به مې وتلې وې، چې یو ناشناخته ډنګر او له قده جګ ښایستوکی ځوان مې په طرف راروان و، له رارسېده سره جوخت یې سلام راواچاوه؛ د سلام له ځواب ورکولو سره یې جګ شوم، د سترې مشي په پار مو لاسونه سره ورکړل، له لهجې یې پوه شوم، چې دی هم وردګ دی، د پښتنو دودیزه دویم ځلي ښه یې؟ جوړ یې؟ پخیر یې؟ مو سره وکړل، پسې پیوست یې کړل:

-خدای ج دې وکړي چې غلط شوی نه وم، اکبر اوسې د...... کلي؟

-هو! وروره همداسې ده اکبر یم او ته؟

زما د پوښتنې په ځواب یې ځان تېر کړ، خپل نوم یې ونه وېلو زیاته یې کړه:

-باور وکړه دا مې څلورمه شپه ده چې مزار کې مسافرانه شپې کوم، او هره ورځ پوهنتون ته راځم، نه دې شم پیداکولی، خوشبختانه نن مې چې پوښتنه وکړه، هغه دروازه کې له غونډو هلکانو یوه وېل: هاا تر ونه لاندې چې ناست دی، همغه وردګ اکبر دی!

-ښا ډېر ښه، په دې چوکۍ کېنه!

هلک مې راسته لاس ته په چوکۍ کېناستو د زنګانونو په راتاوولو سره یو بل ته مخامخ شو، هلک پوښتنه وکړه:

-درسونو سره دې څه حال دی؟

-شکر دی ښه دي!

سړی تعلیم یافته معلومېده، د مجلس په پار یې د مزار شریف د پوهنتون، استادانو، د پښتنو او فارسي ژبانو محصیلینو تر منځ د توپیري چلند په اړه یې ځو ښې منطقي پوښتنې وکړې.

خو دا چې ما نه پېژنده، هغه د چا خبره دومره پې مې نشوی ور پرېښودلی، په لنډو، لنډو ځوابیه الفاظو مې یې پوښتنې ورځوابولې.

له خبرو مې پوه شو چې هسې ځان رانه خلاصوي، غواړي لمړی مې وپېژني.

بالاخره کړل یې:

-ښا اکبر جانه! رابه شو اصلي خبرې ته، اما خبره مې شاید ظاهراً ډېر بد رنګ

ولري، خو تر اوسه سرې وخت دی، پرې غږېدل د دواړو په فایده دي، که همداسې یې پرېږدو، تر بدو بتر کېږي. همدا وجه ده چې تر دې ځایه راغلی یم، ستا د پیداکولو په لټه دا څلور شپې هوټلونو کې پروت یم، د یو هوښیار باتعلیمه ښکلي ځوان په حیث هیله درنه کوم چې درک مې کړې، د خبرې په مقابل کې مې احساساتي برخورد راسره ونکړې، خیر که اوس نه وي، دوې، دری ورځې یې په هر اړخ تر ښه فکر کولو پس په آرامه ذهن ځواب راکړه!

-د څه شي ځواب؟ خیرت دی؟

-تقریباً یوه نیمه میاشت مخکې دې چې مدین خېلو کې له کومې نجلۍ سره کوژده وکړه، هغه زما کلیواله ده، له کالونو راهسې زه ددې او دا زما مینه ده، کومه ورځ چې تاسو جوړ جاړي ته ورغلي وئ، دا کور کې نه وه، کني هرو مرو یې ددې کار مخه نیوله، جیب ته یې لاس کړ، یو غټ موبایل یې راویست، د یوې ډېرې ښایسته سترګورې نجلۍ تصویرونه یې په صفحه راوستل، کړل یې: دغه یې تصویرونه دي، که باور دې نه کیږي، زنګ به ورته وکړم، خپله ورسره وغږیږه، زه تنها نه بلکې ددې سره په مشوره راغلی یم، له دې سربېر مدین خیلو کې چې له هر چا پوښتنه وکړې، زموږ په مینه خبر دي، حتا زما او ددې نجلۍ صدف تر کورنۍ پورې. خو له بدمرغه ان د نیکونو وخت کې مو د کورنیو تر منځ کوم مخالفت رامنځ ته شوی و، پلار یې نن هم همغو ته په کتو قصداً دا کار زما او صدف له خبرېدو پرته کړی و؛ زه خپله د کندهار پوهنتون د ادبیاتو پوهنځۍ د اخېر کال محصیل یم؛ همدې ته منتظر و، له فراغت وروسته مو له یو او بل سره د کوژدې او واده کولو وعده کړې. پسې اوږده یې کړه: ستاسو هم امتحانونه دي ترڅو ډېر وخت دې ونه نیسم، په اخېر کې به صرف دومره درته ووایم، چې جنګ ته نه یم راغلی عذر درته کوم، له همدې شېبې د هغې نجلۍ نوم او یاد بېخي له ذهن نه وباسه، فکر وکړه چې ګویا صرف یو خوب دې لیدلی، تر دې دمه مو چې هر څومره مصارف پرې شوي، په سر سترګو ټول درکوم، نور خو نجونې کمې نه دي، بیا ستا په شان ځوان لپاره، که اختیار راکړې ولاهې په ضرب د یوه هفته کې داسې نجلۍ درته وکړم، چې زړه دې غواړي، حتا خپله هم یوه خور لرم، د قرانکریم حافظه ده، نور به هم انشاءالله تر هېڅ نجلۍ کمه نه وي، کولی شې مور یا د کور نورې ښځینه څوک مو راولېږې، که مو خوښه وشوه، په سر سترګو، البته دا په دې معنا نه ده، چې ګویا زه مې خور د خپلې مینې قرباني کوم، نه اسغفرالله په هېڅ صورت نه، چون په موږ د خپل انسانیت له مخې ډېره ګرانه ده، اما واده کولو ته د هر ځوان هلک او نجلۍ مخه ده او یو الهاي امر

دی، پس د یوې نجلۍ لپاره ستا غونډې ښایسته او باتعلیمه ځوان په برخه رسېده لوړ بخت دی، باوري یم خور به مې هم په ما د خپل باور او عتماد لرلو له مخې څه پکې ونه وايي. تر دې هاخوا هم که زما په سر دې ښه کېده؟ زه مو د حکم منتظر یم!

نور هلک ماته د نوبت راکولو په پار دمه ونیوله، خو دا چې یو ناڅاپه د داسې عجیبې او حیرانونکې کیسې په اورېدو زما حال یو خدای ج لیده، لکه لاس او پښو کې مې چې ساه نه وي، یو قسم ساړه او مړه پړه شول، د خبرو کولو تاب خو بلکل نه و راپاتې او بل دا چې ویلی مې، ښا څه به مې وېل؟ بناءً هغه د کوم چا په اصطلاح خبره ګل جانۍ وه، د دلیل ملیل ځای نه و پکې، صرف دومره مې ورته ووېل:

-ته له دې عکسونو یو دوه زما موبایل ته راولېږه، چې همدا نجلۍ ده کنه؟ نور به بیا غږېږو!

-په سترګو، زاپیا لرې؟

-هو!

عکسونه یې راولېږل، بیا یې کړل:

-د موبایل شمېره دې راکوې؟

شمېره مې ورکړه، په همدې وخت کې مې د یو همصنفي ملګري پروان زنګ هم راغی کړل یې:

-چېرته يې؟ راځه استاد راغلی!

له چوکۍ د جګېدو په حال کې هلک بيا مخ راواړاوه:

-ببښنه غواړم، خپه نشې، پوهېږم چې دا وخت ددې خبرې نه و، ځکه ستا امتحانونه دي، خو زما هم کلک مجبوريت و، قسم دی که ځمکه ځای راکوي، بل خوا کېدی شي ستاسو مصارف هم ورځ تر بلې زيات شوی وی، ولې اخېر کې بيا هم درته وايم، فکر دې مه بېځايه کوه، خپلو امتحانو ته دې متوجې اوسه خدای ج به هر څه سم کړي ځيني وخت په شر کې د سړي خير وي. نور دې نه مزاحم کېږم وروکه! ځه ورشه د امتحان صحنې ته دې، د خدای پامانۍ په پار يې لاس راته ونيولو؛ لاسونه مو سره ورکړل، د لاس ورکولو په جريان کې مې ورته کړل: که زنګ دې کاوه، پنځلس ورځې وروسته يې وکړه چې زه کور ته ولاړ شم!

-ښا، ښا سمه ده!

نور هلک هسې او زه داسې د امتحان صحنې ته روان شوم، په چمن کې د هر قدم له اېښودو سره مې داسې احساس کاوه، لکه په خټه کې چې روان يم، تر ګونډو ګونډو مې پېښې پکې ننوځي، خپل وزن مې ښځي زيات محسوساوه، د سترګو تر مخ مې يو قسم څو رنګه سپرغي تاوېدل، راتاوېدل.

لنډه دا چې د امتحان صحنې ته مې ځان ور ورساوه، د دسمال له پاسه د اوږدې برنډې په څنډه کېناستم، کاغذي پارچه کې مې خپل نوم او ولد وليکل، د مضمون نوم رانه هېر شو، ترڅو پارچه کې مې ليکلی و، په داسې حال کې چې ټوله شپه مې مطالعه کړی هم و، بالاخره ځای مې يې سپين پرېښود، استاد د سوالونو په وېلو شروع وکړه،

نیم او نیمکله مې ونیول، د استاد له امر سره سم مو یې په حلولو پیل وکړو، سر مې بېخي کار نه کاوه، خدایزده څه شی مې پکې ور ولیکل، کوم سوال به مې سم حل کړی وي، کنه؟ دویم نفر زه وم چې استاد ته مې پارچه ورکړه، لکه پوډري ړنګ بنک د لیلیې په لور راروان شوم، په لارو مې بار بار زړه کې راتېردل: کاشکې ځمکه چاودلې وی، زه پرې ننوتلی وی، لیلیې ته له رارسېدو سره، تر طعام خورۍ همداسې تېر شوم، ډوډۍ مې زړه ته نه کېده، اما له بدمرغه مخکې له دې چې د دریم منزل زینو ته ځان برابر کړم، لمړي منزل کې له مخامخ اطاق نه هلکانو ولیدم، طالب رامنده کړل، تر مټ یې ونیولم، د خپل اطاق په لور یې کېکاږم، چې کتل مې باچا رباب په غېږ کې اېښی و، هلکان ور تاو و، په نوبت یې ټپې سره وېلې، طالب ته مې هر څو ووېل:

-خوشې مې کړه مریض یم، خو ویې نه منله، باچا ته ور تاو هلکانو ته یې ور وستلم،

الهام او میراحمد تر خپل منځ ځای راکړ، په کې کېناستم، که څه هم ډېر ښه بندار و، باچا خوندور رباب غږاوه، خو زما له نني خورا خراب طبیعت سره یې هېڅ نه خوړل، اما دوئ زما له زړه څه خبر و؟ مجبور وم یو څه ووایم، په لمړي نوبت کې لاندې ټپې خولې ته راغله:

ښې شوې چې خاورې مې خوراک شوې

ما د شیدو پیالې په ډاګ ویشتلې دینه

دویم نوبت کې:

پرېږده چې خړ سیلاب مې یوسي

زه د اشنا روغې راستۍ وهلی یمه

نور مې ترې رامنډه کړل، طالبي ډېرې منګولې راپسې راواچولې، ښه و ګير يې نکړم، خپل اطاق ته راغلم، د چپرکټ پرده مې راپسې راتيټه کړه، اوږد وغځېدم، کوشش مې کاوه چې ويده شم، که دا عصاب مې لږ آرام شي، تر ډېره پټې سترګې پروت وم، خو خوب له کومه شو؟ لاس مې ورتېر کړ، موبايل مې راواخيست، پوهنتون کې هلک رالېږلي د کوژدنې (صدف) تصويرونه مې په صفحه راوستل، ښه په ځير ځير مې وکتل، رښتيا هم ښکلې ده، د ظاهري ښکلا له لحاظه ته وا د کوم هندي فلم نجلۍ ده.

ترڅو د قيقې مسلسل ورته کتلو وروسته مې موبايل واپس دبالښت تر څنګ کېښود؛ د سبا ورځې د امتحان چپټر مې راکش کړ، څو لحظې مې يې پاڼې هاخوا دې خوا واړولې، ولې فکر مې نه پرې کېناستو، هيسته مې د کتابونو سر ته وارخطا کړ، لنډه دا چې تر ډېرو شپو، ورځو مې وضعيت خورا خراب و، پس له يوې نيمې اوونۍ، کرار کرار څه ښه شوم، اقلاً ځمکه او اسمان مې وپېژندل، کنې خاصه خونده مې لا هم نه وه، ان تر دې چې سبا ته مو اخيري امتحان و، مازيګر يې له کوره زنګ راته وکړ، مور مې وه، له سلام کلام وروسته يې کړل:

-دا څو شپې مې سر په سر داسې بد خوبونه ليدل، موبايل کې مې پيسې نه وې تا هم زنګ نه واهه مړ، مړ مې تر سترګو کېدې!

-نه مورې ژوندی يم کاشکې مړ وی!

-څه دې وويل؟

-شکر دی ماويل ښه يم، سبا مو اخير امتحان دی بله ورځ پخير که ژوند و، درځم!

-ښا زویه! پخیر راشي څومره ښه زېرى دې وکړ!

-مننه مورې آمین! څه غورې دي اینګور ته دې کوم زنګ مګ نه دی وهلی؟

-نه زویه! اوس یې موبایل له څنه کړ؟ چې ته راغلې پخیر پوښ (جوړه) مو اخیسته یو د برابرې بیې موبایل به هم ورته واخلو، خندا کې یې پسې زیاته کړه، بیا به دې زه په یاد هم نه یم، ساعت به دې ورسره تېر وي!

په خبره یې خندا راغله، ورته کړل مې:

-نه مورې ته مې له یاده نه وځې، خو خبر شوم اینګور دې ډېره ټوکي ده، که ژوند و، تنها زما نه ستا به هم ډېر ساعت ورسر تېر شي!

کټ، کټ وخندل بیا یې کړل:

-نه زویه! چا هسې درته ویلي د ټوکو نه ده، هغه ورځ په واده کې داسې ناسته وه، لکه فریښته، نجوني رخسېدې، چا دریا وهلو، دا تر اخېره درنه سنګینه د ېوال ته ناسته وه!

-سمه ده مورې! نورې څه غورې دي، د مرواء څه معلومات ونه شو؟

-نه زویه! څه وخت مخکې یې مشره خور سارا راغلې وه، هغه کیسه خو مې درته وکړه، چې د تره په دروازه کې یې ځان په ځمکه، ځمکه واهه، ژړل یې په سر یې

خاورې بادولې، تره يې ورته وېل: چې په شفاخانه کې مو همغه شان بې حاله پرېښوده مور ترې راغلو؟

-هو! هغه کيسه دې وکړه، نوی څه احوال يې نه دی معلوم شوی؟

-نه، نه خلک د خپلو ګېډو غړېږي، څوک وايي وژلې يې ده، څوک وايي ژوندۍ ده، څوک څه وايی، څوک څه، صحيح حال يې نه دی معلوم!

-ښا مورې! مقصد چې ښه وئ، که کوم خدمت نه وي، په خدای ج دې سپارم، نور به بيا له نژدې غږېږو!

-ستا سره څه زويه! خدای ج دې مل شه، ښه شو چې غږ مې دې واورېده، داسې مې درته سودا وه!

تماس مو قطعه کړ، ددې په اصطلاح د درنې سنګينې اينګور له کيسې نه مې يې خبره نکړه، ماويل هسې نه سکته وکړي، بيا به له نژدې ورسره ګورو.

خلاصه شپه تېره شوه، سبا له چای خوړلو پس د امتحان صحنې ته لاړم، واپس چې ليليې ته راغلم، په جامو ټولولو مې پيل وکړ، چپټر، کتابونه او کتابچې مې د بيک ببخ کې کېښودې، له پاسه مې لباسونه پرې ور واچول، سهار وختي له لمانځه وروسته مې د ملګرو سره خدای پاماني وکړه، بيک مې اوږې ته کړ، د کابل د سه صد چهار موټرو تم ځای ته راغلم، د مخې موټر ته وروختلم، د ډرېور له چوکۍ درۍ، څلور چوکۍ شاته، يو ځوان تر خپل څنګ خالي چوکۍ ته د سترګو په اشارې سره وروبللم،

زه هم ورغلم مننه مې ترې وکړه، ورسره کېناستم، د څو دقیقو په لړ کې موټر ډک شو، ډریور کلي پکې تاو کړه چالاند یې کړ، له شاه چوکیو نه غږ راجګ شو:

-دعا د خیر!

موټر کې ناستو خلکو لاسونه پورته کړل شونډې یې وپسنېدې، د دعا په کولو سره موټر حرکت وکړ، د مزار له ښاره چې ووتلو، ډرېور په جګ غږ د یوې ښځینه سندر غاړې په غږ مسته سندره پلې کړه ( په سالنګ در واوښتمه، د مزار سپینه کفتره یم..... ) همداسې څه یې وېل، مزار او سالنګونه پکې یادېدل، که په ټول کې ووایم، یوخوا د نوموړو موټرو لاوډسپیکر ډېر حساس دي، چې پکې وتوخېږې هم خوند کوي، بلخوا نظر د مزار او سالنګ تر منځ زموږ سفر، او په همدې سیمو پورې تړلې سندره واقعاً چسپېده، هغه د چا خبره د دنیا غمونه مې یې لرې کړل، موټر هم داسې راتلو، ته وا الوتله کې سپاره یو، که څه هم ماته یې خوند راکاوه، خو له شانه څو ځل غږ پرې وشو:

-استاده! احتیاط کوه، خیر څو دقیقې دې پس ورسېږو!

استاد به موسک شو، هنداره کې به یې د سر په ښورولو سره د اوکې اشاره ورکړه، مګر نور یې خپل کار کاوه، همغه شان را الوت، لوی او واړه موټر یې لاندې کول.

خو په هر حال، ترڅو خسته مو نه کړم، د سفر تر کیسه تېرېږم، مستقیماً راځم دې ته چې شاوخوا دولس، بجې یې د کابل ښار په شمالي برخه ( سرای شمالي) کې برېک وواهه، راښکته شوم، د کوټسنګي موټرو ته راغلم، په یوه تونس کې سپور شوم، کوټسنګي ته له رسېدلو سره سم د کمپنۍ موټر ته وختلم، زموږ سیمیزې اډې ته لاړم، له لرې مې په صادق استاذ سترګې ولګېدې، څنګ ته یې ورغلم، سلام مې ورواچاوه،

چې مخ يې راواړاوه، هسې دوې ګوتې يې راته ونيولې، ډېره بې خونده سټړي مشې يې راسره وکړه؛ خو خير دومره يې کيسه کې نشوم، ځان سره مې ووېل: مشر سړی دی په څه به يې طبيعت خراب وي، بيا مې ورته کړل:

-استاده! موټر کې ځای شته؟

-هو يو نفر کم دی، ورتاو شه دروازه راخلاصه کړه، هغه شاه سېټ ته واوړه!

د استاد د رهنمايۍ سره سم د موټر له پوزې راتاو شوم، دروازه مې خلاصه کړه، چې کتل مې موټر مو له کليوالو ډک و، سلام مې ورواچاوه، په يو ټيټ اواز مې د سلام ځواب واورېده، بيا مې دروازې ته نژدې کسانو ته د سټړي مشي په پار لاس ونيولو، چا ته چې لاس نه رسېدو، د سر او سترګو په اشاره مې جوړ، پخير ورسره وکړل، خو برعکس د کليوالو برخورد ډېر بې رنګه وو، يعني هسې مې مجبور کړل، کني دوی شايد هېڅ سټړي مشي نه وی راسره کړي، زړه خو مې له ځای نه خوړين و، ددې خلکو دې ډول چلند بېخي خراب کړم او هېڅ پوهېدم هم نه چې ولې؟ خو هر څه چې و، مقصد موټر حرکت وکړ، په لارو مو کليوالو خپلو منځونو کې مجلس سره کاوه، له ما سره تر اخېره چا بنګ ونکړ، ان تر دې چې کلي کې له موټر نه ښکته شوو، خلکو يو بل ته ساعت کاوه ( راځه ما سره ولاړ شه ) (پاتې شه ډوډۍ دې چې وخوړه بيا به دې رخصت کړم ) او ... ولې ماته غږ څه حتا کتل هم چانه، چې ما ساعت ورته کړی وی؛ بالاخره ټول هاخوا، دېخوا سره تيت شول، زه هم د خپل کور په لور راروان شوم، کور ته نارسيده مې د مرواء دوئ په دروازه پراته لوی قلف سترګې ولګېدې، فقط لکه تر زړه مې چې سل غشي وتلي وي، داسې څړيکې يې وکړې، همدې اصطراري وضعيت کې، خپل کور ته ننوتم، فرېښته لنده دې مخه کې

د دروازې تر شاه تش (لګن) ته ناسته وه، کالي يې مينځل، راجګه شوه، سټړي مشي مو وکړه، د بيک بند يې ور ونيولو، غوښتل يې رانه وايې خلي، غږ مې پرې وکړ:

-پرېږده درووند دی، ته يې نشې وړلی، امم دا خلته درسره واخله!

يوه کيلو غوښه، لږ ترکاري پکې وه، خلته مې يې له لاسه واخيسته، تر مخ مې يې منډه کړل، په نور کور يې زېرى وکړ؛ د دهلېزه وره کې مدينه هم په مخ راغله، څو مې له دې سره سټړي مشي کوله، مور مې هم راورسېده، سلام مې ور واچاوه تر سټړي مشي وروسته اتاق ته ننوتلو ترموز تيار له چايو ډک و، فريښتې ګيلاس ترې را ډک کړ، شيرين داني مې يې ترمخ کېښوده، چې مخامخ دېوال ته مې پام شو، زموږ د محلي دود سره سم، په سپين غټ خامکي جوړ شوي دسمال له پاسه په رنګا رنګ سرو، شنو، آبي مريو او آينو جوړه ستن (ځونډی) راځوړنده وه، همداسې د ستنې له پاسه درى زرګون، دوه پنځه سوي او يو څو د افغانيو سلګون ټومبلي و، يو څنګ او بل څنګ ته يې په تار کې د پېيل شو، لونګو لاړونه په داسې حال کې رازنګېدل چې د څو، څو لونګو تر منځ يوه، يوه غټه، غټه ککوي چاکليت هم پېيل شوې وه.

تر دې مخکې مې له مشرانو ډېر اورېدلي و، چې وېل به يې: پلانکي ته، يا پلانکۍ پېښي ته مي له درده خندا راغله، ماته به يې دا خبره عجيب ښکارېده، زړه کې به مې وېل:

چې له درده کله چاته خندا ورځي؟ باور وکړئ ددې ستنې په ليدو باندې ما ته هم د زړه له درد خندا راغله، هغه د مشرانو خبره مې نيغه سترګو ته ودرېده. خو په هر ترتيب، ځان مې هسې او داسې غلط کړ، د چايو ګلاس مې راپورته کړ، يو غوړپ مې ورکړ، بيا مې مور ته سترګې ور واړولې:

-د مرواء څه حال نه دی معلوم شوی؟

-نه زويه! خدايزده بېچاره د کومو بلاو خوراک شوه؟ له دې خبرې وروسته يې سترګې را ډکې شوې، په ژړاغوني آواز يې پسې زياته کړه: د خوارانو داسې ببخ او بوټی ورک شو، ډېر مې زړه پرې بد دی، چې سرای (حويلۍ) ته يې کله ور وګورم، له يو دوو سپينو کاغذونو پرته چې باد يې پکې رغړوي، رارغړوي، نور هېڅ نشته، د کړکيو پردې يې هم ظالمانو ترې خلاصې کړې، د اطاقونو منځونه يې تور، تور معلومېږي، د سړي وهم ترې وشي!

-افف، سړی څه ووايي مورې! زما خپله ډېر زړه پرې بد دی.

په دې سره مې مور مجلس راپرېښود، د خپلو اوښکو په وچولو شوه، ما مې ګيلاس را جګ کړ، يو ښه غوړپ مې بيا ورکړ، د څو لحظو لپار خاموشي خوره شوه، اخيري غوړپ چای مې هم په سر واړاوه، خالي ګيلاس مې په ځمکه کېښود، مور مې ترموز ته لاس کړ، د ګيلاس له پاسه مې لاس ونيولو کړم مې:

-بس دی نور نه څښم!

-داسې ښه چای دی، وڅښه چې دمه دې جوړه شي، موټرو به خسته کړی يې!؟

-دمه مې جوړه شوه بس دی نور نه شم څښلی!

-ښا زويه! خوښه دې، د چا موټر کې راغلې له کابله؟

-د صادق استاد سره راغلم، خو نه پوهېږم چې څه کيسه و، په اډه کې مې چې ستړي مشي ورسره کوله، هسې دوې ګوتې يې راته ونيولې، په پوزو کې وبنګېده، هغه اخلاق يې نه و، موټر ته چې وختلم سليم؛ حاجي روزي خان، پشم ګل، ډاکتر وحيد، معلم صبور او واسع پکې ناست و، دوی هم همداسې عمل راسره وکړ، هسې ما لاس ورته ونيولو، مجبور شول زړه نا زړه ستړي مشي يې راسره وکړه، له همغه ستړي مشي پرته بيا تر دې ځايه يوه هم اوف راسره ونکړ!

-بلا دې پسې کيسه کې يې مه کېږه زويه! زما او خويندو سره دې هم د کلي يوه ښځه نه غږېږي، کوژدې دې زور ورکړی، ما خو مخکې درته ووېل: چې که دا نجلۍ مې درته وکړه ډېر به وچوي، داسې چيټي نجلۍ مې نه ده درته کړې، ته وا په ګوتو دې جوړه کړې!

-عجيب دی يو نه، دوه نه ټول کلی راسره په ښنګ دی، موږ خو له چا سره بد هم نه دي کړي، دا خلک بيا ولې دومره راباندې نيت بدي دي؟

-امم ته صبر ښځه به دې ووينې زور به ولې نه ورکوي؟ هغه ورځ مې هم درته ووېل: چې د ټول کلي پېغلې او ناوې راټولې کړې ستا د ښځې په يوه نوک پسې نشي رسېدلی!

-ته وايې: چې همدا خبره ده؟

-نور مو نو څه د چا پلار وروژلی؟ خودا!

جیب ته مې لاس کړ موبایل مې راویستو مزار کې له مدین خیلي هلک نه رالیږلي د اینګور یې (صدف) تصویرونه مې په صفحه راوستل، ورته کړل مې:

-دا پیژنې؟

د مور مې چې سترګې پرې ولګېدې، په خندا شوه؛ د ااااالا په جګ آواز ناری سره یې، جوړه لاسونه جګ کړل، د ګونډو له پاسه یې په شړک ووهل، مدینې ته یې مخ ور واړاوه ویل یې:

-ما خو دومره نه پکې ګڼله بې شرمه بیا ځان ور رسولی، عکسونه یې پرې اخیستي؛ توبه څه بې حیا زمانه راغله!

مدینه هم راکږه شوه، د تصویرونو په لیدلو سره یې کړل:

-هووو شکر دا خو رښتیا داسې ښه شی ده!

مور مې ورغبرګه کړه:

-تاته لکه چې زما خبرې ټوکې ښکارېدې؟ ښه ورته وګوره د کلیوالو به دې ولې زوی نه مري؟

د مور او خور ترمنځ ددې خبرو په آورېدو سره مې داسې احساس کاوه، لکه د سر وزن مې چې شل منه وي، غږ مې پرې وکړ:

-تاسو اوتې بوټې پرېږدئ کیسې ته غوږ شئ!

مور مې خوشحالوکې سترګې راواړولې، ددې هیله وه، چې اوس به د نجلۍ سره د تماس او لیدو کیسه وکړي، خور مې هم په همدې امید حیا کې نغښتې خامې موسکا سره راڅکه شوه، خو د دوی د طمعې خلاف مزار ته د راپسې راغلي صدف د انډیوال کیسه مې ورته شروع کړه:

-مزار کې د پوهنتون تر مخ پارک کې ناست وم، یو ناشناخته ځوان راغی ...

بلاخېره ټوله کیسه مې ورته وکړه، مور مې تندي ته په ټول فشار شړک ورکړ، د مخ کاسه یې تکه توره او شنه شوه، خوله یې خلاصه نیولې وه، نور یې خندا او ژړا نه معلومېدل زبون وهلې شوه. خور هاخوا ختلې ختلې له اوښکو او وېرې ډکې سترګې هیجاني ناسته وه، څو دقیقې وروسته مې، د مور له خولې په ډیم او پول جګ آواز غږ راووتلو کړل یې:

-دسمال راکړئ چې سر مې وچاوده!

مدینه جګه شوه، اطاق نه ووتله په منډه واپس راغله، هغه له پخوانیو زېړ او سرو مبارک دسمالونونه یې یو لوی دسمال لاس کې رانیولی و، کلک، کلک یې تر سر ور وپېچلو، شا طرفه ته یې ور غوټه (ګنډه) کړ، د دسمال تر تړلو وروسته، یې څنګلې د ولاړو ګونډو په سر تکیه کړې، د دواړو لاسونو جوړه ورغوي یې په تندي کېښودل، معنا سر یې په لپه کې ونیولو، تر ډېره همداسې ناسته وه، ځنډ وروسته به یې د درد له شېدته یو نیم زګېروی هم کاوه.

مجلس مو د خاموشۍ جامې واغوستې، که څه هم د کیسې مې وروستۍ څو خبرې پاتې شوې، خو مور ته یې نور د اورېدو تاب نه و ورپاتې، وضعیت یې ښېخي خراب شو، د ماښام آذانونه وشول جګ شوم لمونځ مې وکړ، ماخوستن بیا سره راټول شو، د مور وضعیت لا هم ښه نه و، په دسمال تړلی سر لکه واو (و) په ځان راټوله پرته وه، ډبل زمیستاني ځادر یې په پښو اچولی و؛ مدینه او فرېښته هم لکه یخ یې چې کېږي، په مخونو یې د جلد میده وېښته ببر ولاړ و، رنګونه یې تک زیړ تښتي و، سترګو کې یې د خفګان او خلکو نه د شرم دریابونو څپې وهلې، لا هم خاموشه خاموشي وه، د خبرو کولو، آورېدلو تاوان او حوصیله چا کې نه وه، ډوډۍ مو هم په چوفه چوفتیا کې وخوړه، له یو ګیلاس چای څښلو وروسته مې په مدینه غږ وکړ:

-زما کټ کې خو به مو کالي نه وي ټول کړي؟ ویده کېږم!

-نه کالی نشته پکې، ته صبر زه دې بستره درته هواره کړم!

څو لحظې وروسته یې غږ راوکړ:

-راځه!

په جګېدو کې مې په مور غږ وکړ:

-ښنګه شو سر دې، که ښه نه وي؟ زما بیک کې پراستامول ګولۍ شته، یوه وخوره!

غږ یې ونکړ خدایزده چې وایې نه ورېدل، که ویده وه؟

دویم ځل ما هم غږ پرې ونکړ؛ چون که ویده وي، چې ویښه نشي. له اطاق نه راووتم، کټ کې مې وغځېدم، اګر چې بلا چورتونه، فکرونه راسره مل و، اما د اوږده سفر، موټرو جسمي او روحي ستړیا مې په اندیښنو برلاسې شوه، د ځو لحظو په تېرېدو سره ویده شوی وم، یو وخت مې چې سترګې رالوځې کړې سهار و، جګ شوم اودس او لمونځ مې وکړل، واپس ولاړم کټ کې مې پرېوتم، موبایل کې مې ګوتې وهلې، څه وخت وروسته فریښتې غږ راوکړ:

-لالا راځه چای تیار دی!

پسې ور روان شوم، چې کټل مې مور مې مخامخ دېوال ته ناسته وه، تر مخ یې په هوار پلاستکي سور رنګه دسترخوان ځېږې، ځېږې ډوډۍ هاخوا دېخوا کوله، مدینې ګیلاسونو کې بوره اچوله، په ور رسېدو سره مې له سلام وروسته کړل:

-ځنګه دی مورې سر دې**!**؟

اوس خو شکر ښه دی، دروند دی، خوږېږي نه!

-ځه خدای ج مهربانه دی چې دومره شو، نور به هم ښه شي!

په چای څښلو مو شروع وکړه، تقریباً نیمایي ته مو رسولی و، چې مور مې په خورا مظلومانه انداز سرې سرې سترګې راوړولې وېل یې:

-داسې خو هم نه کېږي چې کرار کېنو، هېڅ نه پوهېږم له دې رنډۍ او پلار دوس سره یې اوس سړی څه وکړي؟

-ته به نن ببګا راهسې په دې فکر کې یې، زه دا دولس ورځې له مخه چې خبر شوی یم، شپه ورځ همدا فکر کوم، تر ښځه خو تېر، تېر اما داسې یوه لاره مې هم پیدا نکړه چې صرف ددې کلي کور له شرم او پېغور نه پرې ووځو!

په جګ او توند اواز یې راغبرګه کړه:

-الاااا ځومره بې غیرته خبره دې تر خوله راووتله، بل کوم پښتون دې هم لیدلی چې ښځه یې کړې وي، بیا ترې تېر وي؟

-نو څنګه وکړم، ایا دا بې غیرتي نه ده چې په خپلو سترګو مې یې د هغه هلک سره تصویونه ولیدل، د موبایل شمېره یې ورسره وه او په خپله خوله یې راته وویل: چې کالونه کیږي سره یاران یو، همدې ته کېنم ښځه یې کړم؟

-ترې تېردو خبره مه کوه، بد ښکارې، بې غیرته ښکارې په پښتنو کې تر اوسه نه ده تېره، ورځم دوس ته یې وایم، چې دا خریمه دې په تا مبارک وي، کور کې یې درسره وساته چې شمله دې پرې لوړه وي، ما ته به دې کشره لور راکوې، لږ وړه ده، خو د نجونو تخم دی، سبا بله ورځ پېغله کیږي، تر هغو به ستا پوهنتون هم خلاص شي!

-کراره کښېنه مورې! همدا یو شرم مې بس دی، نور مې ددې خلکو نه توبه ده، سبا به د هغې نتیجه هم همدا شان راوتلې وي!

-ای زما بې غیرته زویه، لعنت دې زما په شیر (شیدو) شي چې تاته مې درکړې!

-بې غیرته نه یم موری! ته لاړې په دومره نجونو کې، نه یې دې پوښتنه وکړه، نه ښه، نه بد، په خرېمه سرېښ شوې، زه دې هم لکه ماشوم خطا کړم، اوس لا تتبه هم یې چې بله یې درته کوم، پرېږدئ اصلًا دا کورنۍ له سره خرابه ده، په دې کیسه یې مور او پلار هم خبر دي، که په دوئ کې غیرت وی، لور یې منه که دومره فاحشه شوې وی!

بالاخره د مور خبرې ډېرې توندې او ترخې شوې، ما تر ډېره ځان کنټرولاوه، په آرامۍ مې یې ځواب ورګرځاوه، اخیر نشوه زما حوصېلې هم کار پرېښود، ښه څه مو سره وکړل، داسې جنګ مو وکړ، چې په ټېر ټول عمر کې مو نه و کړی، که څه هم نور مو جنګ لفظي و، صرف په دې اخیر کې یې یو د چایو نه ډک ګیلاس راخوشې کړ، په دې چپه اوږه یې وویشتلم، په همدې سره له اطاق نه ترې راووتم، کالي مې لانده و، د څو لحظو لپاره د وړې کوټې په کړکۍ کې لمر ته ودرېدم، چای خوږ و، بوره پکې وه، له وچېده سره سم مې د مخې لمن، ګنده او دا یوه پایڅه لکه وچه څرمن شخ پخ شول، واپس ورغلم له وره نه مې مدینې ته ور غږ کړل:

-یو جوړ پاک کالي مې شته؟

مدینې ساه ونیوله، ځکه چې کالي مې یو ساعت وړاندې بدل کړي و، طبعاً زړه کې به یې ګرځېدلي وي چې کالي خو یې سهار بدل کړل اوس یې بیا څنګه غواړي؟

ملامته نه وه، زمونږ د جنګ اخیري شېبو او ګیلاس ویشتلو په مهال دا اشپزخانه کې وه، له دې جریان خبره نه شوه!

له ساه نیولو وروسته یې په ټیټ غږ کړل:

-هو شته!

سمدلاسه پسې راجګه شوه، دهلېزه کې يې چې زما لکه د لرګي شخه پخه لمن او پايڅه وليدل، خندا ورغله، خو ترڅو زه پوه نشم، زر يې مخ واړاوه، روانه شوه، پسې شوم د الماری پلې يې راخلاصې کړې، وېل يې:

-دا دوه جوړه پاک کالي دې شته، دواړه اتو دي، هر کوم چې اغوندې، نور دا رانه روانه شوه، زر زر مې دا خيرن ويستل، زېړ ناخودي رنګه کالي مې غاړې ته کړل، واسکټ مې له پاسه پرې واغوست، په وېښتو مې ګوتې ووهلې، برګ دسمال مې په اوږه واچاوه، بهر ته دې وتلو قصد مې وکړ، را روان شوم، دهلېزه کې مې څپلۍ پښو کړې، راووتم حويلۍ کې دروازې ته څېرمه مې د مرواء په جرګانو سترګې ولګېدې، زمونږ له چرګانو هاخوا جلا د دېوال څنګ ته دواړه جوړه لکه له موره يتيم ماشومان عاجزې، عاجزې د لمر وړانګو ته ولاړې وې، په ليدو يې ته وا زړه ته مې چا خنجر راواچاوه، سخت زړه مې پرې بد شو، يوه شېبه ورته تم شوم، د مرواء د وخت نازونه يې رایاد شول، چې تل به يې د برنډې په بر سر زېړ وړوکي جام کې رنې اوبه ورته اچولې وې، توده ډوډۍ به يې چې پخه کړه، دوی پسې به يې په خورا عاطفي او مينه آواز وکړ:

-بيو، بيو، بيو!....

همداسې نورې خوشامندې به يې ورته کولې، دوئ به هم ورمنډه کړل، مرواء به له ګرمې ډوډۍ نه يوه اندازه ميده کړه، همغه شان ګرمه، ګرمه به يې مخ کې ورته واچوه، اوسني خوار حالت ته په کتو يې سترګې مې له اوښکو ورته را ډکې شوې، اخير کې مې لاس د الله ج حصور ته د دعا په پار لپه کړل:

)یا الله ج د مرواء د مړینې او نورې ټولې بدې آوازې دروغ کړې، ددغو مظلومو چرګانو په خاطر یې جوړه روغه ورته راپیدا کړې(

د دسمال پیڅکه مې راجګه کړه، سترګې مې وچې کړې، روان شوم، د مسجد مخکې سپاچې ته تر رسېدو پورې څو کسه کلیوال په مخه راغلل، لمړی خو به یې کوشش کاوه چې لار رانه چپه کړي، ولې چې مجبور به شول، لکه د یو ناشناخته مسافر سره، هسې د زړه له پاسه سترې مشي به یې راسره وکړه، په سپاچه د راټولو مشرانو، ځوانانو ان تر کوچنیانو پورې د َواړه کلیوالو برخورد مې هم په وړاندې ډېر بې خونده و، حتا هغه نژدې ملګرو مې هم ځنګ رانه کاوه، که څه هم له یوې خوا مې ډېر سخت فکر خراب و، چې دا خلک ولې دومره راباندې نیت بدي دي؟ ما خو به د دوئ په وادونو کې آتنونه کول، خوشحالۍ به مې کولې، بلخوا به مې ځان ته داډ ورکاوه: ځه څه کیسه کې یې، یې؟ خدای ج یې دې ذره وچاووي، خو بیا په دې خبره پسې جوخت به مې دا افسوس هم ذهن ته راغی چې کاشکې نجلۍ (صدف) خو خرابه نه وی ختلې، دا خلک مې چې په کوژده ورسره کولو دومره راباندې نیت بدي دي، که له دې کیسې یې خبر شي څومره به چاغ شي؟

خلاصه د دری، څلورو ورځو په تېرېدو سره، د کلیوالو ددې شوم وضعیت له کبله مې د کلي نه بېخي نفرت وشو، بل خوا د صدف کیسې بنګ راځکولي و، هوایي به ګرځېدم، مګر څه به مې کړي وی؟ نه مې دې جیګرخونیو د حل لاره لرله، چې مټې مې غړلې وی حل او فصل کړې مې وی، نه یې په تېښته سر ورتلو، دغه و چې لیونی سپیلنی به تاوېدم، تر ډېره مې کوشش کاوه، له کوره بهر نه راوتلم، کور کې به هم شپه ورځ خپل کټ کې رغړېدم، چې د ټول فامیل د عمومي ناستې اطاق ته به ورغلم، د مور مې هم عصاب شارټ و، په جنګ به ورسره واوښتم، له دې کبله مې همغه خپل کټ غنمت ګڼه.

په همدې شپو ورځو کې یوه ورځ فکر کړم، له مزار نه د راتلو پنځمه ورځ مې وه، طبیعت مې د نورو ورځو په پرتله بېخي ډېر خراب و، راجګ شوم باغ ته دتلو په نیت مې حرکت وکړ، په لاره کې د فضل دوکان ته ورتاو شوم، کوچنی زوی یې و پکې، پنځه روپۍ مې ورته ونیولې دری داني سیګرېټ مې ترې واخیستل، په داسې حال کې چې تر دې دمه مې سیګرېټ په شونډو نه و لګېدلی، صرف اورېدلي مې و: دا خلک چې معتادان شوي، دوئ اکثریتو لمړی دشدید خپګان په وخت د عصبي آرامتیا په خاطر نیشه کړې، د خوند په ورکولو سره یې دوام ورکړی، بالاخره معتادان شوي، نو ما له ځان سره وېل: ته راشه سړیه! که رښتیا عصاب ارامه وي، نن ته هم ددې اضطرابي وضعیت په وړاندې دې لږ ګټه ترې واخله، له نن هاخوا به بیا دوام نه ورکوې، ترڅو معتاد دې کړي. همدا و چې سیګرېټ مې د سینې له پاسه د واسکټ په پاسني وړوکي جیب کې ودرول، را روان شوم، باغ ته په رسېدو سره د ونو منځ کې په غځېدلې پوله دېښو په سرکېناستم، سیګریت مې په شونډو کې ونیولو، چې راپام مې شو، اووووو له دوکان نه خو دې ګوګرد یا لیتر راوانخېست؛ دې کار مې لا په عصابو فشار راوړه، ولې دوکان هم لرې و، د وسه مې ونشول چې بیا پسې ورشم، سیګریت مې واپس له شونډو راوخیست، لاس کې مې نیولی و، زه په خپلو فکرو کې تللی وم، یو وخت مې چې پام شو، سیګریت مې ګوتو کې سرویلی و، څه تنباکو مې د ګوتو له قاتو ځمکې ته تویې و، دا باقي نور او پلتر یې ما پسې ورخطا کړل، لاس مې ترې ټک واهه.

څو شېبې وروسته، چرسي ثناګی، چې ځینو به لېونی ثناګی ورته وېل، د بر طرف له کونجه په باغ راګډ شو، زما همزولی و، خو په ډېرو چرسو څکولو یې ځان داسې کړی و، چې تقریباً زما د پلار په سن ښکارېده، له دې سربېره عقل یې هم چندان یاري نه ورسره کوله، نو ځکه به خلکو لېونی باله، زما حد ته په رانژدې کېدو، د پنځو، شپږو قدمو په لرې والي سره، نه سلام، نه کلام، په تېز او جدي انداز یې کړل:

-څه وخت راغلی یې؟

-څلور پنځه شپې کیږي!

-ای خدای ج دې خور کړه، ښی لاس یې ورجګ کړ، خپله ګیره یې په موټي کې ونیوله؛ پسې زیاته یې کړه: دغه ګیر دې د خره په (..........) شنه وي، که دې ښه ورځ لیدلې وه!

تر څو مې پوښتنه ترې کوله، چې ولې څه چل دی؟

زما مخکې په ځمکه پراتو تنباکیو ته یې پام شو، خندنوکی، خندنوکی کېده، د وروځو ښورولو په واسطه یې تنباکیو ته اشارې کولې کړل یې:

-امممم بچېش! سګرېټی خو دې هم ډک کړی!

مانا مخکې پراته تنباکو دې له سګریت نه یستلي له چرسو دې ډک کړی.

ورغبرګه مې کړه:

-ورک شه، غرق شې لېونیه! دلته له چا نه خالي سیګریت لوېدلی و، ما راواخست میده، میده مې کړ، ومې غورځاوه، پسې زیاته مې کړه:

-څه چل دی؟ لمړی دې ولې ووېل چې خدای ج دې خوار کړه؛ ولا که دې ښه ورځ لیدلې وه؟

-د رحيم ددک لور دې چې نکړله رنګه يې دې ولې وربدوله؟ د ظالم بچيه ته وايې چې اوس به دې له هغو نه ښايسته ښځه کړې وي؟ بنده يې بوله ولا که دې خير ترې کړی و، ايران مې وهلی، ترکيه مې وهلې؛ پاکستان مې وهلی، کابل کې خو زوړ شوم، په خدای ج کې مې د ددک د لور جوړه ليدلې وي، قسم دی چې ځلور واړه خورانې مې د ادې سره پکې تللی که مې پرېښې وی، خو افسوس چې تا د ناځوانه زوی يې کار نه وی ور خراب کړی، ډېر سخت ظلم دې ورسره وکړ، ته راځه ازار به يې ووينې، ستا له لاسه يې مردګاو تره مړی او ژوندی ورک کړ، درېيمه ورځ يې له ډېر خفګانه د ددک (پلار) زړه هم پسې وچاوده مړ شو، د هغه ګنا هم ستا په غاړه ده، ته غوړ نيسه که همداسې له يوه لبه خدای ج ورک نکړئ زه به سړی نه وم!

-درومه لېونډرته دا مردارې ښځې دې پرې مينځه ما ته مصلح مه کوه!

ځواب کې يې کړل:

-زړه مهم دی چې پاک وي، ښځې خير که خيرنې هم وي!

-عصاب مې مه خرابوه، ځه وايم!

له همدې خبرې سره مخکې تر دې چې ثناګی څه ووايي، موبايل ته مې زنګ راغی، چې راومې ايستلو نمبر ناشناخته و، ورسره راجګ شوم مخامخ د يولې په لور روان شوم، خو تر څو مې اوکې کاوه، قطعه شو، زما اتصلات سيمکارت فري و، خو يوازې اتصلات سمکارتونو ته زنګ ترې تلو، او دا د بلې شبکې روښن سيمکارت نمبر و، نغد کرديت مې نه لرل، ترڅو واپس ما زنګ ورته کړی وی، له همدې کبله د بيا زنګ وهلو په انتظار يې د يولې په څنډه کېناستم، څو لحظې موبايل ته متوجې

وم، زنګ رامعلوم نشو، چې تر شاه مې ور وکتل، ثناګی هم تللی و، خو زه يې په خبرو کې فکر يووړم، که څه هم خبرې يې شخې او بې خونده وې، ولې يو ډېر مهم څه ته مې يې پام کړ، هغه دا چې پوه شوم، هووو ربښتيا دا ټول خلک يا کليوال چې راسره په څنګ دي، د دوئ مې په کوژده کولو نيت نه دی بد، د مرواء د ورکې او پلار د مړينې لامل يې ما ګڼي، زړونه يې پرې دردېدلي، ځکه يې بد رانه راځي .

دويم دا چې د ثناګي خبرو ته په پام، له ګوزدې سره مې سم زما جيګرخونيو او ستونزو ته په کتو، زړه کې راتېره شوه: هووو ربښتيا قسم ده، دا به ربښتيا د مرواء ازار وي؟

چون په وروستيو کې يې چې مزار ته زنګ راوهلی و، بېچاره څومره عذر، زاری وکړې، څه سلګی يې وهلې، کاشکي مې ورسره منلې وی، اوس به زه ولې دومره بدبخته، په شرمو شرمېدلی وم، يا هم ولې به د ټول کلي کور نفرت رانه کېده، ددې به ولې داسې مړی او ژوندی ورکېدل، هی افسوس څه بد رانه وشول.

په همدې فکر کې ډوب وم، چې کړنګار شو، مبايل ته مې بيا زنګ راغی، له جيب نه د رايستلو سره سم مې وليده، همغه مخکنی روښن نمبر و، د اوکې بټنه مې کليک کړه:

-سلام عليکوم!

-وعليکوم سلام، اکبرجانه! ښه يې؟

-الحمدالله ښه يم، ته ښه يې وخت ښه تېرېږي؟

-په دې ساعت شکر دی مننه، شبیر یم د مدین خپلو، مزار کې مې چې درسره ولیدل!

-امنم مهرباني!

-هلته چې دواړه پرې وغږېدو، طبعاً دهغه موضوع په اړه به دې اوس پوره فکر کړی وي او یو تصمیم به دې نیولی وي؟

-هو تصمیم مې نیولی!

-کېدی شي راسره شریک یې کړې؟

-هو، تاته دې مبارک وي!

په دې وخت کې فکر کړم همدغه نجلۍ به یې ترڅنګ ناسته وه، ځکه یو خف ښځینه غږ مې تر غوږه شو چې کړل یې: ځار ځار څه صادق هلک دی، نور یې هم خدیزده څه وېل، خو غږ یې د شبیر خوشحالوکي درانه غږ ورتت کړ، راغبرګه یې کړه:

-آه تر خوله دې قربان ورورکه**!** باور وکړه، چې خبر شوم، پوهنتون وایې باتعلیمه ځوان یې، اویا سلنه د همداسې یو معقول ځواب په امید دروان شوم، پوهېدم چې ان شاءالله درک به مې کړې او هلته مې چې بیا ستا ځواني او انسانیت ولیده، پوره ډاډه شوم، کور دې ودان چې جنجال د اوږد نکړ. هو ربښتیا هغه کومې وعدې چې ما درسره کړې وې اوس هم ورته ژمن یم؛ تر دې دمه مو چې هر څومره پیسې پرې مصرف شوې وي، راته وایې وایه، چېرته چې غواړې در رسوم یې، دویم که غواړې چې دیوې ښې نجلۍ د کوژدې په کولو کې همکاري درسره وکړم ان شاءالله دا کار

هم کولی شم، حتا د خپلې خور په اړه مې چې درته وېلي و، هر وخت کولی شې څوک راولېږې، که خوښه مو شوه، په سر سترګو، له دې هاخوا هم که کوم خدمت وي؟ یا بل وخت څه ضرورت و، همدا زما نمبر دی، زه مو تل خدمت کې یم!

-مننه! سمه ده، که اړتیا شوه بیا به ګورو، خدای ج دې مل شه!

له همدې سره مې تماس ورقطعه کړ، د تماس تر قطعه کېدو وروسته لکه د یولې پوشت چې ښوري یا لکه زلزله چې وي، یو قسم ټال مې واهه، خو اصلاً هېڅ خبره نه وه، بس هسې مې داسې احساس کاوه، لنډه دا چې راجګ شوم، د کور په لور مې حرکت وکړ، سر کې مې لکه ډول چې وهل کېږي، یو قسم دربی و او لا مې هم د ټال وهلو احساس کاوه، پوډري غوندې کوږ او کږ راروان وم، په هرو پنځو قدمو کې به مې یو قدم له پولې پټې ته ښوېده، بالاخره کور ته راورسېدم، کور هم هغه پخوانی کور نه و، چې سره راغونډ به شوو، مجلس ټوکې ټکالې به مو وکړې، و به مو خندل، یو بل ته به مو مینه ورکړه؛ بس د ټولو طبیعت خراب و، هر سړي کوشش کاوه چې ځانګړي اطاق ته ننوځي ور پسې بند کړي، نور خپلې اندېښنې وکړي.

په همدې تړاو زه هم مستقیماً خپل کټ ته ولاړم، په کې وغځېدم شېبه وروسته

فرېښتې غږ راوکړ:

-لالا! راځه ټکله (ډوډۍ) تیاره ده!

-څه شی مو پخ کړي؟

-وریځې او کچالو!

-ځه زه موړ يم اوس يې نه خورم!

فرېښته ولاړه، تر دوه بجو پروت وم، پس له دوه بجو راجګ شوم د اودس کولو په نيت لاندې د مهمان خانې د دهلېزه تشناب ته ننوتلم، اودس مې وکړ، واپس راووتم چې له اطاق نه مې د مور په ډېر لوړ او تند آواز غږ راوځي، خورا سختې سپکې سپورې کنځلې کوي، زړه کې مې وېل: خدايه! خير کړې بيا څه کيسه ده؛ فکر مې وکړ موبايل کې يې له چا سره جنګ دی، ګړندي قدمونه مې ور واخستل ترڅو زر ور ورسېږم، چوف يې کړم، بد کار دی دا چا ته داسې پوچ او سپک وايي؟ چې دهلېزه ته مې قدم ور دننه کړ، له هاخوا دا په مخه راغله، د ډېر قهر نه يې مخ تور او شين و، راته مخاطب شوه وېل يې:

-بې ننګه؛ بې غيرته خو وې، اوس دې چرسالخان هم له ځانه راته جوړ کړ؟

تر څو مې وېل: چې څه چل دی؟

سيګريت يې راته کش کړل په دې مخ يې وويشتلم، د دېوال خوا ته پلاس پروت و، سم دم يې په دې ورترف کړل، څو يې راجګاوه، ترې همم (منډه) مې کړل، د احوېلۍ منځ ته رسېدلی وم، چې سرړړړ شو پلاس مې ددې يوې ډډې سره تېر شو، ښه و خدای ج ترې بچ کړم، د روازې ته له رسېدو سره سم، څنګه مې چې دستګير ته لاس ور واچاوه، تر سر پورې مې يو بل خطرناک ډز شو، د دروازې په سرتاک د چرګانو د اوبو کندولی ولګېده، ښه و، له دې هم خدای ج وساتم، نور له دروازې ترې راووتم.

نيک مرغ سيګرېت دې شي، هغه دوه دانې مې جيب کې هېر شوي و، دلته زما نه و ورته فکر شوی، په کټ کې مې له جيب نه لوېدلي و، د مور مې سترګې پرې لګېدلي وې. خو په هر حال، ښه و تر دروازې راپسې راونوتله، زه مستقماً مسجد ته ولاړم،

د مسجد تر مخ د روانو ابو په چینه مې اودس وکړ، که څه هم اودس خو مې کور کې کړی و، ولې بیا هم ماوېل هسې نه په دې منډو، منډو کې څه زیان ورته رسېدلی وي. بلخوا نوموړې چینه چې اوس هم زموږ د کلي د مسجد تر مخ شتون لري، رڼو او صفا ابو ته یې په کتو بار، بار د سړي شوق کېږي چې اودس پرې تازه کړي. له لمانځه کولو وروسته، بیا باغ ته روان شوم، مجبور وم نور به چېرته تللی وم؟ کلیوال حتا نژدې ملګري هم، هغه د چا خبره ټول ټند و، هېڅوک نه و، ترڅو ورغلی وی، لږ وخت مې ورسره تېر کړی وی. بالاخره په باغ کې وم، وم، ان تر دې چې د مازیګر او ماښام لمونځ مې هم هلته وکړ، ناوخته کور ته ولاړم، دروازه مې، ارامه راخلاصه کړه، نرم، نرم ورغلم، د ناستي اطاق ته مې تر کړکۍ ور وکتل، مدینه او فرېښته ناستې وې، په مجله کې یې د څه شي تصویرونه کتل، مور مې نه ښکارېده، راتاو شوم، کرار مې یې د اطاق ور راخلاص کړ، سلام مې واچاوه، مدینې علیک کړ، پوښتنه مې ترې وکړه:

-مور چېرته ده؟

-سر یې خوږېږي، په وړه کوټه کې ویده ده!

-لکه چې ډېره په قهر وه؟

-هو تر مازیګره یې ژړل کنځلې یې کولې!

-زه یې خبرې ته پرې نښودم، دا سیګریټ مې سهار لاره کې پیداکړل، راپورته مې کړل ماوېل: کوم سیګریتي ته به یې ورکړم، څه خبر وم چې دومره غم به ترې جوړېږي؟ کنې همغلته مې پښه پرې ایښوده میده، میده کول مې!

-ښا مور بېچاره ملامته نه وه، فکر يې وکړ چې ته يې څکوې مور هم خپه شو!

-نه بې غمه اوسئ، زه چې دلته د هر قسم هلکانو سره ګرځېدم عملي نشوم، پوهنتون کې نه عملي کېږم، هلته ټول باتعليمه هوښيار هلکان دي، له دې شيانو ډېر بد وړي، پسې زياته مې کړه: ورکه دا کيسې پرېږدئ، وږی يم څه شی مو پخ کړي کنه؟

-د توپ (غرمې) وريځې او کچالو پاتې دي، که هغه نخورې، په موسکا سره يې کړل: هګۍ هم شته خو د فرېښتې د چرګې دي خرڅوي يې!

-دانه په څو ده؟

مدينې، فرېښتې ته مخ ور واړاوه:

-په څو دې بيه کړې؟

-دانه په شل روپۍ!

په داسې حال کې چې دهګۍ عامه بيه په ټول کلي کې پنځه روپۍ وه، د فرېښتې شلو روپيو لمړی وخندولو بيا مې کړل:

-صحيح ده؛ څه ورشه د څلوېښتو روپيو په منډه راپخې کړه، هسې نه چې مور راشي بيا ويشتل شروع کړي، هر څه پاتې شي.

مدینه ولاړه هګۍ یې راپخې کړې، د ډوډۍ خوړلو سره هممهال مې چای هم غوړپاوه، ډوډۍ مې زر زر وخوړه، ګوتې مې د دسترخوان په صافي پاک کړې، د دعا په کولو سره، راجګ شوم، خپل کټ ته مې راغلم.

فکر کړم زما له تلو، وروسته مې مور راغلې وه؛ خویندو مې کیسه ورته کړې وه، چې ګویا سیګریت یې لار کې پیداکړي و، دی یې نه څکوي، ځکه سهار چې د چای خوړلو لپاره ورغلم، که څه هم په بسم الله؛ بسم الله اطاق ته ورننوتم، له دې سربېره منډې ته مې هم ځان تیار کړی و، له مور نه دېخوا د دسترخوان څنډې ته کېناستم، د چایو په څښلو مې پیل وکړ، خو ښه و تر دې دمه یې هېڅ غږ ونکړ او نه ما جرئت وکړی شوی چې غږ پرې وکړم، یا یې د سر د خوږو پوښتنه ترې وکړم، مخکې یې تیار له چایو ډک ګیلاس ایښی و، وېرېدم چې بیا یې راخوشې نکړي، خو ښه و هېڅ ځان یې راباندې پوه نکړ، له چای څښلو پس نرم جګ شوم، له اطاق نه راووتم، مقصد له دې وروسته که څه هم، منډې او ویشتل نه و، خو نور د کور اوضا ګونګه او ماتمي وه، صرف د ډوډۍ خوړلو لپاره به یوه دسترخوان ته راټولېدو او یوازې د اړتیا په اساس به مو یوه نیمه خبره سره کوله، دې وضعیت تر ډېره دوام وکړ، د نورو ټولو سر دردیو علاوه د کور دې حالت، بې اتفاقۍ یو له بل نه لرې والي سخت جګر خون کړم، څنګه مې چې وړاندې ووېل، د کلیوالو ورځ تر بلې خراب برخورد ته په پام، له کوره بهر وتلو ته مې هم زړه نه کېده، ان تر دې چې د پوهنتون رخصتي پوره شوه، سبا مې د تللو ورځ وه، داسې خوشحاله وم، لکه جنت ته چې ځم، کنې نور کله به پوهنتون ته تلل راباندې بوج و، اما دا ځلې زړه تنګی شوم، همدا و چې پس له ډېرو شپو ورځو خفګان او مرورتیا وروسته ماخوستن مې په مور غږ وکړ:

-مورې! زما رخصتي خلاصه شوه، سبا پخیر ځم؛ د صدف په حساب چورت مه وهه، زه یې یوه چاره کوم، تر دې دمه چې څه شوي، هغه شوي، له دې هاخوا که

جنګ ورسره وکړې، که ملا ته یې کینوې، که هر څه وکړې فایده نه لري، پرته له تاوانه، لا به خلک راکې وغږېږي، لا په شرمو پسې شرمېږو، دا نجلی خو مې نور له سره نه ده پکار، پاتې شوه هغه بله وړه خور یې، هغه هم په درد نخوري، په اول قدم کې خو به اوس لس کاله دې ته انتظار یو تر څو پېغله شي، بیا چې پېغله شي خدایزده دا څه بلا وخېژي، د صدف خور ده. هغه متل به دې اورېدیلی وي؟ چې وایي: ( که سل خویونه نور کړې، یو خو به دې مور کړې ) مقصد ته له سره کار مه ورسره لره، زه ورسره پوهېږم.

دویمه خبره دا درته کوم، چې موږ او تاسو اشتبا کړې وه، ددې کلیوالو مو په کوزده نیت نه دی بد، دوئ فکر کوي چې مرواء په ما مئینه وه، په دروغو مې د واده کولو په بهانه ډېر بد کارونه ورسره کړي، د بل چا سره له واده کولو مې ایستلې وه، خو کله چې ما بل ځای کوزده وکړه، دې ته بله لاره نه وه پاتې، زهر یې وخوړل، بیا یې کاکا له ډېر قهر او خلکو د شرمه خدایزده چېرته ترکي تامه ورکه کړه، درې شپې وروسته یې د زیات غم له وجې د پلار زړه پسې وچاوده، د دې ټولو لامل موږ او تاسو خاصتاً ما ګڼي، ځکه خلکو داسې بد چلند راسره شروع کړی او بد یې رانه راځي!

مور مې راغبرګه کړه:

-خلک لېونیان دي چې څه یې لیدلي نه وي له خپلو ګېډو غېږېږي تورنه لګوي، که رښتیا مئینه وی، زړه یې وی چې ستاسره واده وکړي؟ وېلي به یې و، که تا ته یې نشوی وېلی، ماته به یې وېلي و، که له ما هم شرمېده، دې نجونو ته به یې وېلي و!

زړه کې مې وېل: (چې بېچاره ماته ډېرې زارۍ وکړې، خو بس خدای ج ووهلم ) د مور خبرو دوام لاره کړل یې: خلک چې هر څه پسې وايي، وايي يې دې، مور ته خو خپله معلومه و، مرواء ښه نجلۍ وه، اول زما هم زړه و، ان ستاسو له ماشومتوبه مې نيت کې و، چې څنګه رالوی شوئ، همدا مرواء به درته کوم، دغه خلک چې نن تور پرې لګوي، زه قسم کوم چې ددې يوه په خور او لور کې د مرواء حيا، ديناري، انسانيت نشته، خو د دوئ خولې دې خدای ج په خاورو پټې کړي، کنه مرواء ان له ماشومتوبه ډېره هوښياره او پاکه نجلۍ وه.

د مور خبرې اوږدې اوږدې کړل يې: مخکې مې هم ووېل، اول مې کلک زړه و، چې زه به يې درته کوم، خو بيا مې فقط په دې خاطر زړه ورته ونه نيولو، چې تاسو دواړه له ماشومتوبه لکه خور او ورور داسې سره راستر شوئ، ډېر په دې شان يو ځای راستر شوي، هلکان او نجونې مې ليدلي، چې تر لوېدو وروسته، يې د کورنيو له خوا نکاح تړل شوې وي، پس له نکاح هغه هلک او نجلۍ ته بيا په يوه بستره کې پرېوتل هغه شان ښه نه ښکاري، څنګه چې ښايي، ځکه د دوئ په مينه کې د خور او ورور د مينې رنګ ګډ وي...

په خوله مې دا ځل هم څه ورته ونه وېل، چې اوس به بيا جنګ جوړ شي، کني فکر کې راتېرېده چې: ( څه ورک کړه، اوس دې کار مرادر کړی، چې دا بابولالې ونه غږوې نور به څه وايې؟ کني هغه د هغو هلکانو او نجونو نکاح ښه نه راځي، چې نصبي ريشه سره ولري، خپلوان وي، مور خو صرف ګونډيان و، کاشکې دې راته کړې وی، خو ته هم خدای ج ووهلې، زه دې هم خطا ايستلم، دا دي په شنه آسمان دې غرق کړم)

د مور داستان لا دوام لاره، وېل يې: خداى ج دې وکړي چې مرواء روغ، جوړه پخير راپيدا شي، ددې خلکو آرمان خو به هرو مرو ورپوره کوم او په دې هم يقيني شوم، چې ټوله دنيا پسې چغل کړم، تر مرواء ښه نجلۍ نه شم پيدا کولی.

په خوله مې بيا هم غږ ونه کړ، کني زړه کې راتېرېده چې: ( کاشکي دا عقل دې مخکې درسره وی ) د مور د زړه براس لا نه و ختلی وېل يې: د دنيا په نجونو کې مې په دې يوه نجلۍ مينه راغله، هغه هم دومره سپکه، خطا نجلۍ وختله، نور مې د ناشناخته نجونو نه توبه ده؛ که له سر تر پښو د سرو زرو هم وي، بر پدر يې دې لعنت شي!

-هو مورې! همداسې ده، ستا خبره مرواء دې خداى ج پخير راپيداکړي، دا ځل به حتماً ددې خلکو په خاطر دا کار کوو، هر څنګه چې دي اوس خو مو کلی دی، بده ده، د سړي له ځان نه کرکه وشي، چې ټول کليوال څنګ ترې کوي، خو خير ډېر چورت مه واهه؛ خپل کور، ژوند او لورانو ته دې متوجه اوسه، انشاءالله د وخت په تېرېدو به د کليوالو اړيکې هم د پخوا په څېر راسره ښې شي، ما پوه کول، خو داسې ده چې يو نه دی؛ دوه نه دي، ټول کلی رانه په څنګ دی، کوم يوه ته سړی قناعت ورکړي؟

او بل دا چې فعلاً ډېر غوسه دي، د خبرې کولو موقع راکول څه؛ حتا خواته مې نه راګوري، مګر بيا هم وايم انشاءالله د وخت په تېرېدو به هر څه سم شي، تاسو مو فکرونه نور خپل ژوند ته راوګرځوئ، ډېر هاخوا او دېخوا چورتونه مه وهئ، زه زنګ درته کوم حال مو اخلم او بل مې هم خدايزده چې څه درته وېل خبر مې هېره شو، خو خير تاسو دا ډوډۍ راواخلئ تر هغه ګوندې راياد شي!

مدينه او فرېښته جګې شوې، شېبه پس فرېښتې چلمچي او کوزه راکړنګول، تر لاس مينځلو وروسته يې دسترخوان راخور کړ، قابونه يې پرې کېښودل، سابه يې پخ کړي و، فکر کړم وچه ريشکه وه، يوه، يوه پخه کړې هګۍ يې هم له پاسه پرې اچولې وه، ډوډۍ مو وخوړه چې ساعت ته مې وکتل ناوخته وه، پاڅېدم لمونځ مې وکړ، مور او خوندو ته د (شپه مو پخير) په وېلو سره خپلې د خوب بستري ته لاړم، تر څو سبا د سفر لپاره دم راسته وم، لنډه دا چې شپه تېره شوه، سهار وختي مې خدای ج پاماني وکړه، بيک مې اوږې ته کړ، له کوره راووتم، که څه هم د کليوالو موټر مو هم و، خو څنګه چې دوی څنګ رانه کاوه، ماته يې هم خوند نه راکاوه، چې ورسره وخېژم، ترڅو تر کابله ټوله سواري بد، بد راته وګوري، مستقيماً ولاړم د ولسوالی له عمومي سرک نه په ناشناخته موټر کې وختلم، کابل ته تر رسېدو وروسته، د خيرخانې کوتل سر کې د مزار د غټو سفري بس موټرو تم ځای ته ورغلم، اول نمبر موټر ته ورپوته شوم، نيم ساعت پس يې حرکت وکړ، تر چهاريکارو چې تېر شو، هغه تېر کال د سفر په مهال د مرواء بوسراغې راياد شوې، چې په دې ساحه کې مې خوړلې، مرواګۍ پسې مې زړه درد وکړ، سترګې مې راډکې شوې لاس مې ورجګ کړ، د ګوتو په څټ مې اوښکې وچې کړې، عين حال کې هغه ټپې هم ذهن ته راغله:

څوک چې په خپله په ځان وکړي

نه دې ګيلې کړي نه دې اوښکې تويوينه

خو په هر راز بالاخره تر سالنګ واوښتو، خنجان مينجان مو هم لاندې کړل، ان تر پلخمري مې يې د صحنې، صحنې انځورونه سترګو کې تاوېدل، خو ترڅو سر مو ونه خوړوم، لنډه دا چې د شپې اووه بجې وې ليليې ته ورسېدم، د ملګرو سره مې ستړي مشې وکړه، طعام خانې ته ننوتلم، ډوډۍ مې هم وخوړه، واپس راغلم اطاق کې مې ملګرو سر چای وڅښلو، څه هاخوا دې خوا غورې مو سره وکړې، نور مې د

تېر په څېرعادي ژوند او خپلو درسونو ته دوام ورکړ، وخت ناوخت مې د کور د احوال اخیستو سربېره د مرواء پوښتنه هم کوله؛ تقریباً دوې میاشتې مې د مسافرۍ وتلې وې، یوه ورځ مې مور راته کړل:

-د کلي خلک د صدف په کیسه خبر شوي، داسې خوشحاله دي، رښتیا زویه! همغه ستا خبره ده، له ډېرو مې واورېدل چې وايي: همداسې ښه دي، خدای ج یې دې حال تر دې بتره کړي، دا ټول د رحیم ددک او لور آزار یې دی پسې!

که څه هم ددې خبرې په اورېده مې سخت زړه بد شو، خو بیا هم مور ته مې دتسلیت په پار کړل:

-بلا دې پسې، غم یې مه کوه، خلک څه، څه نه وايي؟ خپل ژوند کوئ چې کاسه کې یې رالېږي، غلبېل کې یې دې راولېږي چې تر مور راونه رسېږي...

فکر کړم د شبکې ستونزه وه، همدلته مو پرته له خدای پامانۍ تماس قطعه شو، زه هم په لارو وم، له تدرسۍ نه لیلیې ته راروان وم؛ دویم ځلي زنګ مې ورته ونه واهه، موبایل مې جیب ته کړ، لیلیه ته راوسېدم د تېر په څېر شپې ورځې، هفتې تېرېدې ان تر دې چې دا سمستر هم ختم شو، امتحانونه شروع شول، د تېر کال برعکس د هر امتحان په تېردو او رخصتۍ په رانژدې کېدو مې زړه تنګېده، ولې چې د کلیوالو مخکني وضعیت او اوس د صدف په کیسه باندې هم پسې خبرېدو ته په کتو، کلي ته مې بلکل زړه نه کېده، له همدې کبله یوه ورځ چې دوه امتحانونه لا پاتې و، ښار ته لاړم، د یو کندهاري ډاکتر دواخانې ته ورغلم، د ډاکتر کور هم همدلته مزار کې و، چون له دې مخکې هم چې دوا به مې پکار شوه، ورتلم به، مانا له مخکې مې یو

شنګ پېژنده، یوازې دا دواخانه یې نه و؛ د دواخانې له پاسه (حیات کلینیک) هم دده و، ډاکتر ته مې ور یاده کړه:

-ډاکتر صیب! په دې دواخانه یا کلنیک کې دې کوم کارمند ته ضرورت نشته؟ که وي زه غواړم کار درسره وکړم!

-نه کارمندان پوره دي، ته څه کار کولی شې؟

-هر څه چې وي، د شپې وي، که د ورځې پروانه کوي، چوکیداري، یا بل هر کار چې وي کولی یې شم، له دې سربېره د کمپیوټر ساینس د پوهنځی محصېل یم، په انګلسي او کمپیوتر هم تر یوې اندازې پوهېږم، ددې دواخانې او دې ته ورته کارونه ان شاءالله کولی شم!

-کمپیوتر دې لږ زده دی که ډېر!؟

-پنځه پروګرامه مې زده دی!

-ښا، ماشاءالله د کوم ځای یې؟

-د وردګو یم!

-ډېر ښه، کارمندانو ته خو ضرورت نه لرم، ولې که همداسې کار راسره کوې د دواخانې کارونه زده کوې؟ راځه دری وخته ډوډۍ او که دشپې ځای نه لرې؟ پاس

کلنیک کې ځانګړی وطاق هم درکوم، تیار فرش او ظرف لري، د یوه ډاکتر اطاق دی هغه ترې ولاړو!

دا چې ما هم له خدای ج نه همدومره یوه سرپنا غوښته، پرته له چون او چرا مې ورسره اوکې کړه، اما دا مې ورته ووېل: چې دوه امتحانونه مو پاتې دي، د هغه له خلاصون وروسته راځم او پسرلی کله چې بیا درسونه شروع شول، پس له نیمې ورځې راځم.

دا یې هم راسره ومنله؛ دوې ورځې وروسته رخصتي شوه، هلکان کورنو ته روان شول، د لیلېې ساتونکي قلف په ګوته کې ګډولو، لیلیه کې په پاتې هلکانو یې نارې وهلې:

-زود، زود برايي دروازه را قلف مې کنم!

ما هم بیک غاړه کې راوچاوه، کلنیک ته راغلم، ډاکتر مې اطاق راته تسلیم کړ، بیک مې پکې کېښود، نور وربښکته شوم، دواخانه کې مې کار ورسره پیل کړ، لمړی خو دا کېږده؛ دا راکړه، د شپو ورځو په تېرېدو سره د سړي عتماد راباندې زیات شو، ډېری وخت به دواخانه کې تنها وم، دی به بل ځای تللی و، که څه هم راته ویلي یې نه و، خو خیر دې یوسي هره پنجشنبه یې ( ۱۵۰۰ ) افغانۍ د حمام، ویښتو جوړولو او موبایل د کارت لپاره راکولې، ښې وې، ډوډۍ او اطاق مې مفت و، دا ( ۱۰۰۰ ) افغانۍ زما د حمام او ځینو نورو اولیه ضرورتونو لپاره بس وې، په (۵۰۰) روپیو مې د کمپیوټر او انګلسي یو کورس ونیولو، پس له مازیګر په څلورو بجو به ورتللم؛ مور ته مې هم همدا کورسونه سبب ژمي د نه ورتلو بهانه کړې و .

البته ماما مې لږ ذهني تکلیف لاره، خو بیا هم ښه و، وخت ناوخت مې په مور او خویندو کرځېده، که څه ضرورت به یې و، رسیده ګي یې ورته کوله، ځکه زه ترې ډاډه وم، همدا و چې د ډاکتر سره مې د ژمي علاوه ټول اوړی هم کار وکړ، پس له پسرلیه به نیمه ورځ پوهنتون کې وم، نیمه ورځ مې دواخانه کې کار کاوه، تر څنګ مې یې خپل کورس هم تعقیباوه، په دې وروستیو کې ډاکتر د موټر یوه کلۍ هم راکړې وه، تر پوهنتون او دواخانې به پکې تلم راتلم، همدې وخت کې یوه ورځ چې د جمعې ورځ وه، پوهنتون او دواخانه دواړه رخصت و، له حمام نه راووتم، دوې هګۍ یو څو رومیان او یوه د نانوایۍ ډوډۍ مې په لاره کې راسره راواخیستل، د اطاق په لور رارون شوم، که څه هم کلنیک کې ډوډۍ وه، خو هسې نن مې د هګیو شوق وکړ، اطاق ته له رارسېده سره سم چې لا مې د لاس خلته په غولي نه وه ایښې، موبایل ته مې زنګ راغی، را ومې ایستلو، چې کتل مې نمبر ناشناخته و، لمړی مې خلته هاخوا کونج کې د ګاز ډبې تر څنګ کېښوده؛ واپس راتاو شوم د بسترې له پاسه لوړ کېناستم، د اوکې د بټنې له وهلو سره سم مې غږ پرې وکړو:

-بلې سلام علیکوم!

له مقابل لوري لمړی څښو پېښ راتلو، وروسته په نرم ښځینه آواز ځواب راکړل شو:

-وعلیکوم سلام اکبر جانه ښه یې؟

فکر مې وکړ: حتما له دوستانو مو څوک دي، ورغبرګه مې کړه:

-الحمدالله ښه یم، تاسو ښه یی کور خیرت دی؟

-شکر دی ښه یو!

-وبښه ولاکه مې پېژندلې یې؟

-اففف له کومې خبرې چې وېرېدم همغه دې وکړه!

-څنګه په مطلب دې پوه نشوم!؟

-باور وکړه، میاشتې کیږي هره ورځ موبایل راجګ کړم، غواړم زنګ درته وکړم، اما د همدې پوښتنې له وېرې به مې دې واپس کیږدم!

-ته څه وایې؟ صحیح وغېږه!

-نوم مې درته اخلم، خو ته او (خدای ج) ته او (رسول ص) ستا دې په خپله ځوانۍ او خپله مردانه ګۍ قسم وي، که به مې رټې!

-دا څه چیټیات وایې، نوم دې ووایه ځوک یې؟

-نه داسې نه وایم، په پورتني قسم وعده راسره کوې کنه؟ چې رټې به مې نه او خبرې به مې تر اخیره اورې!؟

-هو څه ووایه:

-صه صه صه، افففف په کومو سترګو په کومه خوله، څه رنګه درته ووایم؟

-الګویي مه کوه، که وایې ووایه، که نه وایې موبایل قطعه کوم!؟

-نه، نه قطعه يې نکړې صه صه صه.... صدف يم، له مدين خپلو نه مې زنګ وهلی!

ددې خبرې په آورېدو مې له ټول وجود نه، سور تاو پورته شو، خو خير بيا هم خپل احساسات مې کابو کړل، د مخکې په شان عادي غږ مې ورته ووېل:

-ښا غواړې څه ووايې؟

-غواړم ښښنه درنه وغواړم؛ په ژړاغونې غږ يې پسې زياته کړه: ښېله شکه ته د خدای ډېر نازولی يې، افففف ستا له آزاره توبه!

-ما ښښلې يې!

-نه، نه داسې ښښنه نه يادوم، ماته موقع راکړه درځم لمړی دې پښو ته ټيټېږم، بيا ښېله کوم قيد او شرطه او پرته له کوم مالي لګښته، د شرعي نکاح په مشروعيت کې دې د ژوند تر پايه په ټوله مينه او اخلاس خدمت کې حاضرېږم، داسې ښښنه يادوم!

ورغبرګه مې کړه:

-لا زړه دې نه دی يخ غواړې نورې ملنډې هم راباندې ووهې، تر دې زيات خلک راوخندوې؟

-نه؛ نه؛ خدای ج دې نکړي، صرف دا څو خبرې مې واوره!

خرپ له همدې خبرې سره مې يې موبايل پرې ورقطعه کړ، جګ شوم په هګيو پخولو مې شروع وکړه، د پخلي په جريان کې يې پرله پسې څو زنګونه نور هم ووهل، پرې اوکې مې نکړل، فکر مې د صدف خبرو کې و، هګيو هم څه ببخ رانه ونيولو، سوی بوی يې جګ شو، تبخۍ (تخم پزي) مې د ګاز له سره راښکته کړه، په خوړلو مې يې پيل وکړ، سر سر مې يې ترې راټولاوه، بيخ يې سوځېدلی و، په دې وخت کې د صدف زنګونه هم بند شول.

َتر څو مې ډوډۍ خوړه، چايبر هم واېشېده، چای مې ورواچاوه، د دم تر اخيستو مې يې، دوې، درې ګولې ډوډۍ نوره هم وخوړه، وروسته مې دسترخوان او تبخۍ ټول کړل، چای مې راواچاوه، نيم ګلاس يا څه زيات به مې څښلی و، چې کړنګ شو موبايل ته مې پيغام راغی، لاس مې ور اوږد کړ، د بسترې له سره مې راواخيست، چې کتل مې پيغام هم د صدف له نمبر نه را استول شوی و؛ له راسپړلو سره سم مې يې په لوستلو پيل وکړ، لا مې پوره نه ولوستی، چې کړنګ شو، بل پيغام يې راواستاوه، د لمړي تر لوستلو وروسته مې د دويم په لوستلو شروع وکړه، دا مې هم پوره نه و لوستی چې بل راورسېده، خلاصه پرله پسې يې اووه پغامونه راواستول، د خورا زر زر ليکلو او د ليک ترتيب ته په کتو يې، نجلی په لوړه کچه باتعليمه معلومېده، مدين خپلو کې د نجونو ليسه وه، بلخوا ددې پلار سرمعلم و، د دولسم شهادت نامه خو به يې طبعاً اخيستې وي، که څه هم د ليک له ديدګاه يې په لوړه کچه باسواده معلومېده.

خو په هر صورت راځم د پيغامونو محتوا ته يې، که څه هم دې په ډېر ادبي او هنري بڼه ليکلي و، خو زه به يې صرف هغه مفهوم درته راواخلم، په لمړيو دريو کې خو يې يوازې زارۍ کړې وې، په خپلو بدو عتراف او ببننه يې غوښتې وه، ددې سرببېره

یې هیله کړې وه، چې موبایل مه را قطعه کوه؛ په وروستیو نورو څلورو پیغامونو کې یې هم تقریباً یو بل پسې تړلې او نژدې خبرې را استولې وې، لیکلي و:

-ستا غوسه او خپګان په ځای دي، ته ملامت نه یې، طبعاً زما که کبله به ډېرې

اندېښني، بې خوبۍ او پرېشانۍ... دربانديې تېر وي او ماته به مو هم ډېر آزار کړی وي، چې دا دې په سزا یې هم ورسېدم، په بدبختیو بدبخته شوم، شبیر مې له لاسه ورکړ، موټر پرې چپه شو، تر روغتونه هم ونه رسېده، د تل لپاره یې له دنیا سره مخه وکړه، دا هر څه له خدایه ګڼم، ستا له ازاره یې ګڼم، خو یقین وکړه، زه په هېڅ نه وم خبره، تاسو ته زما د کوژدې ګل زما په غایب کې مور او پلار مې درکړی و، ولې بیا هم ځان په دې خبرو له ملامتیا نه وباسم، نه هم له درسره کړو بدو مې دفاع کوم، منم حتماً به د کلي کور شرم، د دوست، دښمن خبرې او بېغورونه زما له وجې درته جوړ شوي وي، مګر بیا هم قسم کوم چې دا هر څه زما په بې خبرۍ کې شوي او یوازې تاسو نه، بلکې زه هم له حده زیاته پرې ودردېدم.

خو په هر ترتیب؛ چې خبرې مې ډېرې اوږدې نشي، راځم اصلي مطلب ته مې، څنګه چې یو باسواده ځوان یې، په هر څه پوهېږې، طبعاً د هر ځوان هلک او هرې پېغلې هیله دا وي، چې یو شریف او باالحساسه څوک یې د راتلونکي ژوند ملګری اوسي، پس همدا و، څومره چې ما پېژنده شبیر یو ډېر هوښیار او باادبه انسان و، ممکن زما به یې هم کومه ځانګړنه خوښه وه، له دې وجې مو د خپل آینده ژوند د ملګرتیا په پار یو او بل انتخاب کړی و، خو شاید درته د منلو نه وي، مګر الله ج مې په سر ولاړ دی، باور وکړه، چې تر دې دمه مو لاس یو دبل په لاس نه دی لګېدلی، ملګرتیا مو یوازې په تش سلام او د ضرورت په اساس ډېرو کمو لفظي خبرو ولاړه وه، هغه هم د ټول ادب په ساتلو سره، البته دا نه وایم، چې زه ښه نجلۍ یم، د ځان ساتنه مې کوله، نه بلکې شبیر خپله ډېر دینداره پاک نفسه انسان و، حتا ما به چې کوم

قدم لړ. له چاوکاټ نه بهر کېښود، ده به مې په کلکه ممانعت کاوه، په ټول ددې ټول عمر د شناخت کې مو بې ادبي یا زیاتی هغه څو عکسونه اخیستل و، چې شبیر مزار ته دروړل، هغه هم د ډېرې اړتیا په بنا، چون پرته له هغه عکسونو، کېدی شي تا د شبیر په خبرو دومره اسانه باور نه وی کړی، له دې هاخوا څنګه مې چې وړاندې وویل، الله ج شاهد دی، په ټوله معنا مو ډېره پاکه او سپېڅلې رابطه ساتلې، خو دا چې تقدیر زیاتره وخت د انسانانو د فکر او غوښتنو برخلاف څه وکړي، بدبختانه دغه و چې زموږ په هیلو یې هم خاورې واړولې. اما د الله ج رضا قربان شم، مګر زه خو بیا هم مجبوره یم، چې ژوند وکړم، د دنیا د ستړي او سخت ژوند د مخ ته وړلو لپاره یو ښه همسفر یا ملګری ولرم. پس څنګه چې ته پوهېږې، د ځوانانو خو کمی نشته، ولې دا چې زه له نورو نجونو سره متفاوت فکر لرم، دغه دي چې د ژوند د ملګري د انتخاب په برخه کې هم د یو ځوان مادیات، ظاهري ښکلا نه، بلکې د هغه دینداري، پوه او انسانیت راته ارزښتمند دي، بناءً شبیر چې کله مزار کې ستاسره تر لیدنې وروسته راغی، ستا له شرافت او حاصېلې نه ډېر متاثره شوی و، سره ددې چې هېڅ وخت به له چا نه غږېده، غیبت څه حتا صفت یې هم نه کاوه، یوازینی کس ته وې چې وخت ناوخت به یې دې ستاینه کوله، بلخوا د پښتنو په دې بد فرهنګه او له پېغوره ډک ملک کې تر کوژدې وروسته له یوې نجلۍ دومره په ښه شان او پرته له هېڅ نوع مشکل جوړولو واپس تېرېده، واقعا سخته ده، یوازې د ډېرو لویو کسانو کار دی، یقیناً دا واړه ستا په ډېر اچت شخصیت او اصلیت دلالت کوي، پس د خپل انسانیت او فضیلت په روی دې، هیله درنه کوم، ما له ځانه سره ځان کړه، کنه نو بل هر ځوان زما سکه ورور دی، د ژوند تر وروستۍ سلګۍ به ستا د ترحم په طمعه ناسته یم.

پیغامونه همدومره و، اخیر کې د دعا په پار د لپه شو، لاسونو یو قطار ستېکر یې هم پسې وهلي و.

ټول مې ولوستل، خو د ځواب ورکولو نه مې یې ډډه وکړه، ولې چې زړه کې مې وېل: اول خو دې شاید کوم بل فساد زړه کې وي، بیا که هېڅ فساد هم نه وي، زه دومره بېغیرته درته ښکارېږم؟ چې په خپلو سترګو مې دې عاشق ولیده؛ حتا خپله هم وایې: چې له ډېره وخته مې ملګري ورسره کړې، اوس به په دې ټولو سترګې پټوم او تا ته به خپل عزت او ناموس وایم؟ موبایل مې واپس د بسترې له پاسه کېښود، ګلاس مې راپوته کړ، چې غوړپ مې ترې وکړ، چای مې د عادي اوبو په شان یخ کرخ شوی و، په چیبر مې لاس کېښود، دا هم د کوما په حال کې و، له ښځنلو وتلی و.

جګ شوم خیرن ګیلاسونه مې سره د ظرفشویی په تبخی کې واچول، د دهلېزه د لوښو مینځلو په آخوره (دست شویۍ) کې مې یې په مینځلو شروع وکړه، واپس چې اطاق ته راغلم، د آذانونو غږ مې واورېده، چې سترګې مې ورجګې کړې، د دېوالي ساعت ستنې په څلورنیمو بجو ولاړې وې، د مازیګر د لمانځه وخت و، اطاق مې قلف کړ، مسجد ته روان شوم، په لارو مې موبایل ته بل زنګ راغی، راومې ایستلو، بیا هم صدف وه، واپس مې ورقطعه کړ، مسجد کې وم چې بل زنګ ئې وواهه، خو ښه و، د موبایل غږ مې مخکې له مخکې خاموش کړی و .

څه سر مو خوږوم، لنډه دا چې په هر نیم ساعت کې یې یو زنګ واهه، یا یې پیغام کاوه، زنګ خو مې یې نه اوکې کاوه، په پیغام کې کله په یو رنګ عذر، زارۍ، کله په بل رنګ، کله به یې د موبایل د اوکې کولو هیله کړې و، خوب مې نه ورکاوه، دا لړۍ شپو، شپو او هفتو ته وغځېده؛ بالاخره تنګ یې کړم، دواخانه کې له ډاکتر او کلنیک کې له نورو کارمندانو هم شرمېدم، دم په دم به مې جیب کې موبایل لړزېده، د شرم تر څنګ وېرېدم هم ترڅو هسې نه چې نور شکونه او بدګمانۍ وکړي.

بالاخره شمېره مې یې بلاک کړه، زنګ او پیامونه مې یې وربند کړل، له دې سر دردۍ مې ځان خلاص کړ، په آرام فکر مې د مخکې په شان د دواخانې د کارونو تر څنګ خپل کورسونه تعقیبول.

دا چې د تېر ژمي سره سره د اوړي په رخصتۍ کې هم کور ته نه وم تللی؛ پس له امتحانونو ددې دویم ژمي په را رسېدو مې مور وېل:

-نور که ته نه راځې؟ زه درځم!

زړه مې نه کېده، ولې چې که د کلیوالو له مانه بد راتلل، برعکس ما یې هم په وړاندې ډېر سخت حساسیت پیداکړی و، هېڅ مې نه خوښېدل چې مخ یې په مخ راولګېږي، خو مور مې مجبور کړم، چې ورشم، که څه هم په موبایل مې یې ورځ کې درې ځلور کرته احوال اخیست، تر څنګ مې د مرواء پوښتنه هم ترې کوله، مګر په دې یې بسنه ونکړه، له ډاکتر نه مې تر پسرلیه اجازه وغوښته، د ډاکتر لاس راباندې سپک و، زړه یې نه راباندې کېده، چې ترې ولاړ شم، وېل یې:

-مه ځه وردګو کې جنګونه دي، خوږ به شې!

اما د مور خبره مې چې ورسره شریکه کړه، نور یې غږ ونه کړ، جیب ته یې لاس کړ، پنځه زره افغانۍ یې راته ونیولې کړل یې:

-اممم دا دې د لارې کرایه کړه!

-خیر یوسې پیسې لرم!

سړي په جدي انداز کړل:

-واخله!

پیسې مې ترې راواخیستې خدای پاماني مو سره وکړه، ترې راروان شوم، سهار وختي له مزار نه د کابل په لور موټر کې راسپور شوم، تر ټولې ورځې مزل وروسته، قضا مازیګر کور ته راورسېدم، مور او خویندې مې ډېر راته خوشحاله شول همداسې زه یې هم په لیدو خوښ شوم، منتها رنګونه یې ډېر سخت خراب شوي و، د سبب پوښتنه مې یې ترې وکړه:

-ولې مو رنګونه داسې الوتي خیرت خو به وي؟

-هو شکر خیرو خیرت دی!

کومه ستونزه یې راپه ګوته نکړه، خو فکر کې راغلل چې ممکن د کلیوالو د بد سلوک او صدف د کیسې په خبرېده سره یې د پیغورونو او پسخند له وجې رنګونه بې ځایه وي، ما هم په همدې تړاو ډاډګیرنه ورکړه:

-د چا کیسه کې نشئ، خپل خوشحاله ژوند کوئ، خلک چې هر څه وایي وایي یې

دې، مورې او تاسو هېڅ بد یا د شرم کار نه دی کړی، صدف مورې وکړه، چې پوه شو بې لارې ده، واپس مو ورپرېښوده، دا بې غیرتي نه ده، بلکې غیرت مو کړی، زمورې کور خو څه فاحشه خانه نه ده، چې فاحشې ورته راټولې کړو او همداسې د مرواء دوئ سره مو کوم بد کړي؟

مدینه خوشحالوکې شوه کړل یې:

-مورې! لالا رښتیا وایي، مور. هم دا دومره وخت له فکر کولو پرته هسې ځانونه د خدای ج په وړاندې لوی ګناهګار او د خلکو په نېز تور او بدنام ګڼل، د زړه وینې مو ورسره خوړلې، بلا مو پسې!

که څه هم مور مې مدینې ته په خوله څه ونه وېل، ولې د تندي له ورین والي یې معلومېده چې خبرو مې دې ته هم خوند ورکړ.

خو په هر حال شپه تېره شوه، سهار له چای خوړلو وروسته بهر ووتلم، لمړی د مسجد سپاچې ته ولاړم، چې نوموړې سپاچه د ټول کلي مرکزیت و، لوی او واړه به پکې راټولېدل، خو په ورتګ او له کوره راوتلو پښیمانه شوم، چون په وړاندې مې د خلکو چلند نظر تېر ځل ته لا زیات ترینګلی و، هغه وخت خو ښه و، یو نیم به چې مجبور شو، زړه نازړه به یې دوې ګوتې راته ونیولې، دا ځل نه یوازې دا چې هېچا سترې مشې راسره ونکړه؛ بلکې خپلو منځونو کې به یې خندل ټوکې کولې، نتیجه کې یې د صدف پېغورغېرې مستیقیم په ښکاره ښه تر ما رارساوه، زړه کې راتېره شوه: افرین مې په مور او خویندو، ددې یهودو منځ کې به یې ولې رنګونه نه وي الوتي؟

همدا و، چې له سپاچې نه د باغ په لور روان شوم، فکر مې ډېر زیات خراب و، باغ کې مې هم ټیک ونشو، څو د قیقې وروسته واپس کور ته راغلم، نور هفته کې هم یو ځل نه وتلم، ژمی مې په همدې شان تېر کړ، پسرلی غزني ته ولاړم، د کور تر ټوله سودا راپوره کولو وروسته مې مور او خویندو ته په لاندې کلماتو ډاډګیرنه ورکړه:

-فقط تر راتلونکي منی صبر وکړئ، چې زما دا يو اخيرنی کال پوهنتون هم خلاص شي، تر هغه پورې د هېچا کيسه کې مه کېږئ، منی که ددې کفارو چلند په همدې شان و، هرو مرو مو غمه خورم داسې ځای ته مو بوځم چې...

خبره مې د همدې خوشبينۍ په نقطه ګونګه پرې ښوده، نور مې څه ونه وېل، سبا مې بيک اوږې ته واچاوه، د خدای پامانۍ په کولو سره، روان شوم، پوهنتون کې دری څلور ورځې د ځينې ضروري کارونو له کولو وروسته بيا ډاکتر ته ورغلم، داکټر مې په ليدو ډېر خوشحاله شو، که څه هم ډوډۍ مې خوړلې وه، اما ده پرته له دې چې ما وپوښتي، روستورانت ته يې زنګ وواهه، شېبه وروسته يوه هلک د يو کوچني پاوکټ سلاټ علاوه په پلاستيکي يک بار مصرف کاسه ګکه کې يو خوراک ښه اوزبکي پلو راوړه، ما هم په بسم الله سره شروع پرې وکړه، خو موړ وم، تر نيمايي زيات مې ونشوی خوړلی، واپس مې د کاسه ګکې سر پوښ پرې ورنسکور کړ، جګ شوم بهر مې د يوه کانتنر تر څنګ کېښوده، چې سپايان يا پشکې يې وخوري، دواخانې ته په راګرځېدو مې له ترموز نه چای راواچاوه، تر چای څښنلو وروسته مې له ډاکتر نه د خپل اطاق د کليو پوښتنه وکړه، د مېز روق يې کش کړ، کلي يې راته ونيوه، اطاق ته جګ شوم، بيک مې کېښود، واپس راښکته شوم، دواخانه کې مې په کار پيل وکړ؛ ډاکتر نوې راوړې دواوې راته معرفي کړې، شېبه وروسته يې کړل:

-زه يوې جنازې ته ځم، ته کولی شې دواخانه وکړې؟ که خسته يې بيا ممتاز راغواړم**!**

(ممتاز يې د زوی نوم و) ډاډ مې ورکړ:

-نه، نه زه شته يم، بېغمه ورځه!

ډاکتر مې رخصت کړ، په همدې ډول شپې او ورځې تېرېدې، بالاخره دا اوړی هم د تېر کال په شان نیمه ورځ به پوهنتون کې وم، پس له نیمې ورځې به مې دواخانه کې کار کاوه، څنګ کې مې یې د مازیګر او ماښام تر منځ یو کورس هم ورسره تعقیباوه، د شپې له خوا به مې تر لس نیمو، یولسو بجو د پوهنتون د ورځنیو درسونو سره پخوا کې د کورس درسونه هم تمرینول، لیکچرونه به مې رسول، د فسبوک او نورو انترنیتي اپلیکشنونه ډېر علاقمند نه وم، بلخوا قصداً مې هم هڅه کوله چې لرې ترې و اوسم، ترڅو له درسونو مې ونه باسي، هسې په هفته کې به مې که یو ځل ډیټا کلیک کړه، په فسبوک یا کوم بل اپلیکشن کې به مې څو دقیقې تېرې کړې. همدې اساس وخت کې یوه ورځ نه پوهېږم چې د څه په خاطر ملي رخصتي وه؟ د ماسښین له لمانځه وروسته مې کمیس په کوټ بند راځوړند کړ، یوازې پرتوګ او زېرپېراني مې ځان کې و، بسترې ته مې څنګ وواهه، ډیټا مې روشن کړه، ګوګل کې مې په څه معلوماتو پسې سرچ وکړ؛ د معلوماتو تر راپیدا کېده مخې کړنګ شو، واټساف ته مې یو پیغام راغی؛ راومې سپړلو نوم یې نه و، د یو ناشناخته کس لخوا رااستول شوی و، لیکلي یې و:

-سلامونه او نیکې هیلې، الله ج دې وکړي اکبر جان اوسې اشتباه مې نه وي کړې؟

په ځواب کې مې ورته ولیکل:

-وعلیکوم سلام مننه؛

نه اشتباه دې نه ده کړه؛ هو اکبر یم؛ خو په ښښنې سره ته مې هم ونه پېژندې؟

-چېرته یې؟

-مزار کې یم، خو خپل اسم مبارک دې راته ونه وېلو؟

-کور ته دې څه وخت ځې؟

-نوم دې نه وایې؟

-په قهر شوې؟

-نه په قهر نه یم، خو اقلًا دومره باید سړی پوه شي چې د چاسره تماس کې یم؟

-صحیح ده، نوم درته وایم، ولې ستا دې په خپله ځوانۍ یا دهغه چا په سر قسم وي، چې تر ټولو ډېر درته ګران وي، که به مې بلاک کوې، واتساف مې دې د موبایل د شمېرې له مخې ډېر په خوارۍ پیداکړ، صدف یم!

قسم را اچولو ته په کتو یې، که څه هم ځان مې دومره راته مهم نه و، خو مور مې او ورسره خویندې مې راباندې ګرانې وې، بلاک مې نکړه، ولې د ځواب له ورکولو نه مې یې ډډه وکړه.

د څو دقیقو په تېرېدو سره یې بل پیغام وکړ؛ خلاصه تر څو آنلاین وم، څلور لوی لوی متني پیغامونه یې راواستول، خو محتوا یې همغه پخوانیو د سیمکارت پیغامونو ته ورته په بېلا بېل ډول عذر، زاریو، قناعت آور او رضا کوونکو مفهومونو راڅرخېده، که څه هم ټول مې ولوستل، مګر په ځواب ورکولو مې یې بیا هم خوله پټه کړه، ګوګل ته راغلم د اړتیا معلومات مې ترې کاپي کړل، نور مې ډیټا بنده کړه.

راځم د صدف تر پیغامونو مخکنۍ خبرې ته مې، ترڅو هېر شوي مو نه وي، تکرار یې وایم ځنګه مې چې مخکې ووېل: دا اوړی مې هم د تېر کال په شان نیمه ورځ پوهنتون کې نیمه ورځ د دواخانې په کولو سره تېر کړ، ان تر دې چې منی د امتحانو له ورکولو څخه څه وخت وروسته نتایج اعلان شول، د (۹۰) فیصده نمرو په تر لاسه کولو سره بریالی شوی وم، پس له وختونو مې ډېره د خوشحالۍ ورځ وه، کور ته مې زنګ وواهه، په مور او خویندو مې زېری وکړ، هغه هم ډېرې خوشحاله شوې، مور مې د خپل عادت سره سم له ډېرې خوشحالۍ په ژړاه شوه، زړه کې په ډېر افسوس سره راتېره شوه: کاشکې مرواګۍ هم وی، پوهنتون ته مې د راکامیابېده په ورځ څومره خوشحاله وه، قسم ده اوس خو به یې له خوشحاله ښخې هوا کړې وه.

خو په هر دستور د همصنفیانو او ملګرو سره مې وروستۍ خدای پامانۍ وکړې، د پوهنتون ټول ماحول خدای پامانۍ، خدای پامانۍ، خنداوې او ژاړوې وې، تقریباً دولس نیمې بجې وې، دواخانې ته راغلم، په ډاکتر مې زېری وکړ، واقعاً ډاکتر هم ډېر خوشحاله شو کړل یې:

-زېری دې هرو مرو در کوم!

له ډوډۍ خوړلو وروسته مې بیا تر تیاره ماښامه دواخانه کې کار وکړ، ماښام مې ډاکتر ته کړل:

-ډاکتر صیب! زه سهار وختي پخیر ځم، شاید بیا دې ونه وینم، غواړم خدای ج پاماني همدا اوس درسره وکړم!

ډاکتر د ټوکې په انداز همغه د تېر کال خبره وکړه:

-څه کوې سړیه! مه ځه هاخوا جنګونه زیات دي سبا به مړ یې؟

په موسکاه مې ورته کړل:

-توکل په خدای!

بیا یې وېل:

-راشه بله وکړه!

-څه؟

-دا موږ ته مخامخ د شاهین د لوړو زدکړو موسسه په عالي کچه، د ماسترۍ زده کړې ورکوي، د بین الملل تایدي هم لري، سند یې ټوله دنیا کې د باور وړ دی، رائیس یې زما ملګری دی، لمړی خو دې بېله فیسه پرې شاملوم، ولې بیا هم که کم او زیات څه یې غوښتل، زه یې ورکوم!

-مننه ډاکتر صیب! نه اوس خو نشم کولی، پسرلی پخیر که ژوند و، تماس درسره نیسم، که ممکن و راځم!

-ښا سمه ده، پسرلی هم کېدلی شي!

نور د ډاکتر سره غېږ په غېږ شوم، خدای پاماني مو وکړه، ترې راروان شوم دوه درې قدمه مې لا نه و اخیستي چې له شاه نه یې غږ وکړ:

-آآآآآ ته صبر، صبر اوس دې نژدې زېرى رانه هېر و!

مېز کې يې د پيسو د دخل روق راکش کړ، پيسې يې ترې راټولې کړې چې شمار يې کړې، ديرلس زره اوسوه (۱۳۷۰۰ ) افغانۍ شوې، لمړى يې لس زره ترې رابېلې کړې، وېل يې:

-دا دې زېرى؛ ښه خو نه پرې کېږي اما يو برابر موبايل به پرې واخلې، پسې زياته يې کړه: داسې يو ناڅاپه دې د تلو خبره وکړه، کنې ما وېل چې زه به سم زېرى درکوم!

مننه مې ترې وکړه، بيا يې په لاس کې له پاتې۳۷۰۰ پيسو نه دوه زره راته ونيولې کړل يې: دا دې کرايه! که څه هم هر څو مې ورته ووېل: پيسې لرم، جيب ته مې لاس کړ، درى زره روپۍ مې ورته را وايستلې، خو ده يې په جدي انداز د راکولو ټينګار وکړ، ددې پيسو ترې اخيستلو وروسته يې له ورسره پاتې (۱۷۰۰) پيسو (۷۰۰) نورې راته ونيولې، کړل يې: په دې به په لارو ډوډۍ خورې، ددې پيسو ترې راخيستلو وروسته يې وروستى يو زرګونى راته ونيولو زياته يې کړه: په دې به د کور لپاره، له کابل نه لږ ترکاري مرکاري درسره يوسې!

په داسې حال کې چې ښى لاس يې زما لاس کې و، د چپ لاس په واسطه يې د اوږې له پاسه و ټپولم کړل يې:

ځه نور مې په خداى ج سپارلى يې؛ همچنان ځوابيه مننه مې ترې وکړه، اطاق ته ولاړم، شپه چې تېره شوه سهار له لمونځ وروسته د کابل د سفري موټرو تم ځاى ته راغلم، يو موټر چې له اډې نه راوتلى و، د عمومي سرک په څنده ولاړ و، کلينډر يې

تیکټونه لاس کې نیولي و، ناريې يې وهلې: کابل، کابل دو نفر کم است. چې په ما يې سترګې ولګېدې:

-کابل میری؟ بیایې بچه کاکا حرکت است!

ورغلم موټر ته له ختلو سره سم کلینډر د ډرېور تر شاه چوکۍ ته اشاره وکړه، په فارسي يې کړل:

-اینی چوکی پیش روی هم خالي استه، اما کرایه شان از پوشت سر کرده صد افغاني بلا است!

همدلته کېناستم، تقریباً د لس، دولس دقیقو په تېرېدو سره سواري پوره شوه، د ډرېور له وېلو سره سم په دسته جمعي ډول مو د دعا په کولو سره حرکت وکړ، ټوله ورځ په سفر تېره شوه، ماښام کور ته را ورسېدم، د مور او خویندو په روغ او جوړ لیدلو مې خوشحاله شوم، همداسې دوی زما په لیدو خوښ شول، د مجلس په جریان کې مې د مرواء پوښتنه وکړه، مور مې وېل:

-نه د بېچاره تر اوسه هېڅ احوال نه دی معلوم، بېګاه مې په خوب لیده چې مړه وي، حوېلۍ کې يې په برنډه چارپایي کې اېښې وي، زه ورغلمه کفن مې يې له مخ نه واړاوه، موسکۍ شونډې، ورین تندی لکه ویده ماشوم چې ملایکې خندوي، سپوږمۍ غوندې ځلېده غونډه منډه پرته وه!

-توکل په خدای ج موريږ! په خوب کې مړی، ژوندی دی؛ الله ج ته څه دي؟ کېدی شي يوه ورځ يې جوړه روغه راپيداکړي، همداسې خوشحاله يې ووينې!

-وی‌ی‌ی‌ی کاشکې زويه! داسې مې يادېږي، نور يې ستونی را ډک شو، په ژړا شوه، خبرې ترې ولاړې، په خپلو اوښکو وچولو شوه.

ما مدينې ته مخ ورواړاوه، د کورنيو څو محرم خبرو اترو له کولو وروسته مې ورسره د کليوالو د چلند پوښتنه ترې وکړه، راغبرګه يې کړه:

-همغه شان دي، موږ له کورنه بهر نه وځو او نه څوک راغلي!

د مدينې په وړاندې مې مايوسانه خاموشي اختيار کړه، هېڅ مې ونه ويل؛ يوه لحظه وروسته فريښتې غږ راوکړ:

-لالا حمام کې مې اوبه درته اېښې، يخېږي ورشه حمام دې وکړه!

ورجګ شوم حمام مې وکړ، جامې مې بدلې کړې، ماخوستن له ډوډۍ خوړلو وروسته مې مور راته کړل:

-زويه! تلفون کې مې نه درته ويل چې مسافر يې جګرخون کېږي، څو ورځې مخکې چې غزني کې ستره چاونده وشوه، زموږ د دوکانونو مخکې شوې وه، درې واړه دوکانونه مو يې ړنګ کړي، کاکا دې ورغلی و، ويل يې: ښخي يې له خاورو سره خاورې کړې و، د دوکانو په ځای پرته له کوټ کوټ خاورو نور هېڅ نه معلومېدل!

چې خدايي شي د مور په خبرو مې سخت خپه شوم، ځکه زموږ ټول عايد همدا دوکانونه و، مياشت په مياشت به مو يې کرايه اخستله، کاکا مو له موږ جلا و، نيمه کرايه دده او نيمه زموږ حق کېده، له اقتصادي اړخه مو ژوند ښه خوندور پرې روان و.

خو دا چې اوس شوي و، مور ته مې د تسليت په پار ور وګرځوله:

-خير مورې! مه خپه کېږه، فعلاً خو دومره څه لرو، چې ويې خورو، وروسته هم الله ج مهربانه دی، دغه دي اوس خو زه هم فارغ شوم، پسرلی پخير کوشش کوم چې يوه دنده راپيدا کړم، يوه مړۍ (ګوله) حلاله روزي لاس ته درې راوړم!

-ښا خير يوسې زويه! زړه مې دې راتکيه کړ، زړه شوم که خدايزده څه بلا؟ هغه پخوانی غټ زړه مې نشته، راهسې چې خبره شوې يم، شپه ورځ همدا انديښنه کوم!

-نه، نه مورې! الله ج روزي رسان دی، اوس به يې وخته له بلې خوا راته حواله کړې وي، انديښنه مه کوه!

دې مجلس ته مو په همدې خبره د پای ټکی کېښود، د ويده کېدو لپاره مې خپل کټ ته ولاړم، تر څو چې خوب راتلو، موبايل مې راوخيست، ډيټا مې کليک کړه، فسبوک افشن مې راوسپړلو، څو صفحه عيارېده، کړنګ، کړنګ واتساف ته پرله پسې د دوه ليکلو پيغامونو سربېره تر لسو زيات صفتي پيامونه راغلل، چې ومې کتل بيا هم صدف وه، په د سته جمعي ډول د ټولو پيغامونو هدف يې دهمغه مخکنيو پيغامونو په مطلب يا هم زما په قانع کولو را څرخېده؛ خو يو تر بل ډېر د عاطفې رنګ ور زيات

والي، ژبې فصاحت او بلاغت، ښو هنري ادبياتو کارولو، له وجې هېڅ داسې نه ښکارېدل چې ګويا دا ټول پيغامونه دې د يوې خبرې تکرار وي، يا يو مقصد دې پکې نغښتی وي.

خو په هر صورت د پيغامونو تر لوستلو او اورېدلو وروسته مې يې بيا هم له ځواب ورکولو ډډه وکړه، واتساف نه راووتم، د فسبوک په صفحه مې يو دوه کرته ښکته، پورته ګوته کش کړه، نور خوب راغی واپس مې ډيټا بنده کړه، ويده شوم.

د سهار په رارسېدو سره مې خپلو کورنيو چارو ته ملا وتړه، لنډه دا چې دريم ژمی هم د تېرو ژميو په څېر پرېشانه او ګونګ تېر شو، د کليوالو بد کردار لا هم دوام لاره، ټول ژمي کې نه پوهېږم، چې درې کله څلور ځله بهر ووتلم، هغه هم د زياتې اړتيا له مخې.

بناءً د پسرلي په راسېدو سره چې د ډاکتر اشرف غني د واکمنۍ لمړۍ دوره وه، ناامنۍ او جنګونو زور واخيست، اکثره وخت به مو کلی د طالبانو او دولتي ځواکونو د جګړې تر منځ راتلو مرمۍ د خزان د پاڼو په شان آورېدلې، هوانونه د کورنو منځ کې لګېدل، ددې سربېره د شپې به امريکايانو چاپې وهلې، دروازې يې په بمونو آلوزولې، خلک يې له کورونو ايستل، وهل ډبول يې، په چا به يې چې د طالب شک شو، له ځان سره يې وړل، بالاخره د خلکو تر زغم او حوصيله خبره لوړه شوه، د چا چې وس کېده، د پېړيو پېړيو، مېنې، شنه باغونه، فصلونه، مالونه يې پرېښودل، يوازې د سر ساتنې په پار د خپلو څېړيو څړوکيو سره امن ځايونو ته د کډوالو په حيث روان شول، اصلاً امن ځای ټول وطن کې نه وو، خو بيا هم ځينې ځايونه نظر ځينې نور ته ښه و، په ټول کې ښارونه څه ښه و، لږ دسکن ساه پکې اخيستل کېده، اګر چې ښارونو کې که جنګ نه وو، ولې ډېرې درنې، درنې موټر بم چاودنې پکې کېدلې،

روزانه لسګونه انسانانو خپل ژوند په داسې شان له لاسه پکې ورکاوه، چې خپلې نصبې به یې، لا نه پېژندل، لاس به یې په یوه و؛ پښې په بله، حتا ډېرې داسې شول چې کورنۍ ته یې یوه کیلو غوښه هم په لاس ورنغله، د بم له درز سره ذره ذره شول، مګر بیا هم د کلیو او باندو په پرتله ښارونه څه ښه ګڼل کېدل، نسبي حکومت والي او امنیت پکې و.

په همدې اساس زموږ خو نو هسې هم د کلیوالو له بد چلند نه زړونه په چاود او توره تېښته و، له دې زرینې بهانې نه په استفاده ټوله زندګي مو تر شاه کړه، څړې او کېږې مو رابار کړل، کابل ته راغلو، کوټه سنګي کې مو د کلا واحد کوچه کې، وړاندې په یوه فرعي پس کوڅه کې د (۵۰۰۰) افغانۍ په مقابل کې یو کور په کرایه ونیولو، سر له سبا د یوې دندې پیداکولو په لټه کې شوم، هرې دولتي ادارې او شخصي شرکتونو ته مې سیویانې ورسولې، امتحانونه مې ورکړل، خو بدبختانه په نوموړو اداراتو کې به د امتحان د نتایجو سربېره سیویانې، میویانې هم ورک شوې. لنډه دا چې میاشتې میاشتې مې په دې منډو ترړو، تېرې کړې؛ کومې پیسې مو چې لرلې، څه د کور کرایې یووړې، څه مو وخوړې، نور نو د بېخرڅۍ سر هم مخ شوو، تر لرې، لرې ساحو به پلی تلم راتلم، خو بیا هم کوم مصروفیت مې پیدانکړ، دوخت په تېردو د دندې له پیداکېد بلکل نامیده شوم؛ چون سر مې خلاص شو چې په دې ملک او دې شرایطو کې دنده پیداکول زما غوندې بې پیسو او بې واسطې افرادو له سوبه ډېر لوړ کار دی؛ حتا نور ورپسې په ګرځېدو یې هم ځان بې عقل راته ښکارېده، له دندې، مندې بېخي تېر شوم، هېڅ مې ځان باسوداه نه ګاڼه، د لاس د مزدوریو له طریقه دیوې مړۍ ډوډۍ پیداکېدو په هڅه کې شوم، لمړي قدم کې چې کراچۍ مو تیاره لرله، په (۸۰۰) افغانۍ مې نجار باندې یو تخت ورته جوړ کړ، له دې وروسته مارکېټ ته لاړم په (۲۵۰۰ ) افغانۍ مې درې منه اوړه (سیر) واخیسته (۱۰۰۰ ) افغانۍ مې په تله، پاویو، چارکیو...... ورکړې، پس له نیمې ورځې مې په کار پیل وکړ، کوټسنګي

کې مې هاخوا دې خوا ګرځوله، تر مازیګره مې د ( ۳۲۰ ) افغانیو وپلورله، چې حساب مې وکړ، یوسلو شل (۱۲۰) افغانۍ مزدوري راته پکې پاتې کېده، نور نو ماښام و، یو نیم متر فراشوټي تیکه مې واخیسته، له پاسه مې پرې کش کړه، کراچۍ مې یو سرای ته ننه ایستله، تر سهاره یې په ساتلو شل روپۍ کرایه اخیسته، سرای لوی و، وړاندې تر یوه رپکي لاندې مې ودروه، سبا مې چې کتل سخت باران و، کار کول پکې ناشوني و، ټوله ورځ ښه په شړک واورېدل، په دې بل سبا هم همداسې، خلاصه پوره څلور ورځې باران دوام وکړ، په پنځمه ورځ اسمان شین و، ښکلې تازه هوا وه، زه هم ډېر په طبیعت د خپلې کراچۍ او مزدورۍ په لور ور روان شوم، کرچۍ ته چې ورسېدم، پرې خور پراشوټ یو قسم بمبوخ جګ ولاړ وو، لکه باد چې پکې ایسار وي یا پشکه ورننوتلې وي، چارچاپېر ترې تاو شوم، کوم سورى یا د باد او پشکې د ورننوتلو لاره مې ونه لیده، بالاخره پرې اخته شوم ترې تاو تسمه مې خلاصه کړه، چې پراشوټ مې تر پورته کړ، بووووو تک شین باغ ترې جوړ و.

د خدای ج په قدرت دې څلورو ورځو کې په هر پلي اوږه کم او زیات یوه، یوه ګوته شین بلګ (ډنډر) ولاړ و، چې ببخ (غوزې) ته به مې یې لاس وروړه، چیشته پیشته وه، لکه څه شی درته وښایم؟ افففف څه وران مثال ذهن ته راغی، بې ادبي کېږي، له ویلو یې تېرېږم، مقصد نور بلکل ددې نه وه، چې سړی یې وباسي خرڅه یې کړي، هاخوا یو مازدا موټر ولاړ و، ورغلم د شاه له ټیر سره مې یې ګراچۍ ورخالي کړه، سرای غټ و، ساتونکي ته نه ښکارېدم؛ مخته ډېرې نورې کراچۍ او موټر ولاړ و، په خالي کراچۍ مې واپس پراشوټ هوار کړ، را روان شوم، دروازه کې مې شل روپۍ کرایه ساتونکي ته ورکړه، له سرای نه راووتم، له تور وینو ډک زړه د کور په لوري راروان شوم، کور ته له داخلېده سره سم مې مور وړاندې د دهلېزه له وره غږ راباندې وکړ:

-زويه! څنګه واپس راغلې؟ سهار خو دومره وارخطا وې، په نيمه شپه دې پراته غوښته، چې کار ته ځم ناوخته کيږي!

مور ته مې هسې يوه بهانه وکړه، ترڅو جګرخون نشي زړه ښځه ده.

خلاصه يو ځل بيا بېکاره شوم، خو لا هم کور کې کرار نه وم غزېدلی، بلکې ټوله ورځ به بازار کې ګرځېدم، ترڅو يو بل کار او کسب پيدا کړم، اما له بدمرغه ډېر وخت ووتلو، لا مې هم کوم روزګار پيدا نکړ، په همدې وختونو کې يوه ورځ مازيګر له ښاره راغلم، ډېر ستړی هم وم، د کوټه سنګي تر هوايي پله راتېر شوم، دلته به دايم ګڼه ګوڼه وه، هڅه مې کوله چې د کلا واحد کوځې ته ځان برابر کړم، همدې ګڼه ګوڼه کې د نوم په اخيستو سره مې چا له چپ لوري په جګ آواز غږ راوکړ، چې سترګې مې ور واړوې، يو سپينږيری کاکا يې د کرچۍ تر څنګ ولاړ و، لاس يې ښوراوه، ورتاو شوم، دا هغه کس و، چې څه وخت مخکې مې د کراچۍ لپاره د تخت جوړولو مشوره ورسره کړې وه، نجار يې راته ښودلی و، په ستړي مشې پسې پيوست کاکا پوښتنه وکړه:

-نه ښکارېږې، څنګه دې وکړل، هغه تخت دې جوړ کړ کنه؟ کوم کار او بار دې شروع نکړ؟

ومې خندل ورغبرګه مې کړه:

-ربښتيا درته ووايم که دروغ؟

-دروغ ولې وايې؟ ربښتيا ووايه!

د اوږې کيسه مې ورته پيل کړه، د کيسې په اوربېده سړي ډېر وخندل، عين حال کې يې زړه هم بد شو، آخېر کې يې کړل:

-راشه يو بل کار دروښايم، مخکې ما خپله کاوه، ښه مزدوري پکې پاتې کېده، خو لږ سرګرداني يې زياته وه، زه سپينږيری يم، رسيده ګي مې پسې ونشوی کولی، ښځې يې ستړی کړم، ته يې ښه کولی شې!

-څه کار؟

-د ښار د مراد خانيو ساحې په قصاب کوڅه کې د پسونو سرونه او پښې (کله پاچه) پاک کوي، بيا يې دعمده فروشۍ په حساب خرڅوي، دانه په اويا، اتيا، افغانۍ درته لوېږي، د ورځې لس، پنځلس راوړه، دلته په دوه سوه، يوسلو اتيا، يونيم سل افغانۍ ښه صحيح وځي، ما ډېر وخت دا کار کړی، ښه مزدوري پکې پاتې کېږي، خو افسوس چې زه سپينږيری نه وی!

-کوم يې ولا دا کار مې خوښ شو، هر ځای يې چې وينم خلک ترې ورتاو وي، ښه خرڅېږي، ته يې لږ سم آدرس راکړه!

ادرس يې راته تکرار کړ، پسې زياته يې کړه: له مازيګره، مازيګره يې راوړه، ګڼه ګونه ده، لار بندې وي، که سهار پسې لاړ شې تر دولسو بجو نشې رارسېدلی، د کار وخت درنه تېرېږي!

-سمه ده!

سترړی وم، نور له کاکا نه د مخه ښې په کولو روان شوم.

مشوره مې یې واقعاً خوښه شوه، یو دوې چاړې، یوه ستره مجمه او همداسې څه نور وسایل ورته پکارېدل، اتکلاً څلور، پنځه زره پیسې پرې لګېدلې، چې کور ته لاړم، له مور نه مې پوښتنه وکړه ( ۱۸۰۰ ) افغانۍ ورسره وې ( ۸۰۰ ) مې ور پرېښودې ( ۱۰۰۰ ) مې ترې واخیستې، تر دوو دریو ورځو تېرېدو وروسته مې (۴۰۰۰) نورې هم په ډېره سختۍ له یوې او بلې خوا قرض ورته راپیدا کړې، ټول ټال پنځه زره افغانۍ شوې، په څلورم سبا پسې روان شم، ښار کې مې قصاب کوڅه پیداکړه، یو ځای ته ورغلم چې همدا د پسونو سرونه پکې پاکېدل، دلته یې له ( ۱۵ ) پنځلسونه کم نه خرڅول او څومره به دې چې زیات اخېستل، ارزانه یې درکول، حساب مې ورته وکړ، یو سر په ( ۹۰ ) افغانۍ تمامېده، دوکاندار ته مې کړل:

-زما لمړی ځل دی چې دې کار ته مې ملا تړلې، نن یو پنځه دانې راکړه، له یوې خوا ورسره نابلده یم، بل خوا تر څو کوټه سنګي ته رسېږم، کار شروع کوم، دری بجې کېږي، د شپې خو نه خرڅېږي!

دوکاندر راغبرګه کړه:

-که تر پنځه لسو، یو هم کم اخلې له ( ۱۵۰ ) یې کم نه حسابوم!

چونې چونې، ایله مې ( ۱۱۰ ) افغانیو ته پرې راوستل، نور مې نو پنځه دانې په یوه پلاستکي ګونۍ کې ترې راپه شاه کړل، که څه هم اول خو مې زړه و، چې تر سینما پامبره مانا د کوټه سنګي د ملي بسو تر تم ځایه یې په شاه راوړم، کوټسنګي ته په رسولو سره به مې یې پنځه روپۍ کرایه پرې ولګېږي، خو نشوه، ډېر درانه وو، د

پلخشتي له مسجد سره مې تصميم بدل شو، له لنډ چوک نه د کوټسنګي په يوه ټکسي کې وختلم، سرونه مې ډاله کې ورواچول، سواري پوره شوه حرکت مو وکړ، پاو باندې دولس بجې وې، کوټه سنګي ته ورسېدم، تر څو مې کرچۍ او وسايل برابره ول، دوې بجې شوې، په دوو، دونيمو بجو مې د امنيتي پستې چپ لاس ته د خلکو په ګڼه ګوڼه کې د سرک څنډې ته کرچۍ ودروه، کار مې شروع کړ، لکه څنګه چې هر کار په لومړيو کې ستونزې لري، همداسې زما هم اولو کې د دکاندارانو او نورو کرچۍ واله و سره د ځای هغه او دغه په سر لړ، لړ لانجې رامنځ ته شوې، کله به مې له دوئ سره دعوې وهلې، کله به مشتريانو سره په چونو لګيا وم؛ پنځلس، شل دقيقې به لا نه وې وتلې چې يوه پاخه سن واله ښځه راغله کړل يې:

-دا په څو دي؟

لمړی مې په دوه نيم سوه ورته ووېل، بالاخره په پوره دوه سو جوړ شو، پيسې يې راکړې چې پلاستيک کې مې ورته اچولو، وېل يې:

-زامې يې ترې وباسه داسې يې نه اخلم!

شروع مې پرې وکړه، وښکالو کې مې يې چاړه وربنده کړه، پرې غوڅ مې کړل، اما په زامو مې يې چې هر څومره زورونه ووهل، ومې نشوی ايستلی، لا هم پرې اخته وم، وخت ووتلو عين حال کې دا وېره هم پيدا شوه، چې ښځه روانه نشي، همداسې يې پرې نږدي، خو خير دې يوسي، چې پوه شوه وس يې نه پرې رسېږي کړل يې:

-لکه چې کار دې نوی پيل کړی؟ دا چل غواړي، په بدماشۍ نه وځي، څه خير پرېږده يې، زه به يې کور کې پرې وباسم!

د خاله جانې خبره ملهم غوندې راوګېده.

-هو، ولا نن مې اوله ورځ ده، نور يې تر زامو ايستلو تېر شوم، زر زر مې پلاستيک کې ورته واچاوه، خاله مې رخصت کړه، څو دقيقې وروسته يو بل بايسکېل واله را وګرځېده، د دوه سوه ( ۲۰۰ ) افغانيو په بدل کې مې يو دانه په دې خرڅ کړ، ترڅو روانېده، يو بل غټې ګېډې واله چاغ سړي راتاو شو، په کندهارۍ لهجه يې کړل:

-يه ځوانه! په څو يې ورکوې؟

خبرې يې سمه راته ښکاره نشوه، تو‌ند مې وروکتل:

-نوم يې ياده وه، څه شی؟

-بارا نيغېژې څله؟ سرونو ته په لاس نيولو سره يې کړل، دا شی په څو ورکوې؟

سړی بيا هم سم سړی تر نظره رانغلو، غوښتل مې چې هسې يې مخ ورک شي، ورغبګه مې کړه:

-دانه په دری سوه!

پرته له چونه وهلو، يوه ته په ګوته نيولو سره يې کړل:

-یه هغه پلاستیک کې راته خطا کړه!

درې سوه روپۍ مې ترې واخیستې، د پسه سر مې په لاس ورکړ، یو قدم چې ولاړو بیا یې مخ راواړاوه: ځوانه هر وخت همدلته درېږې!

ځان مې پرې پوه نکړ، هېڅ مې ونه وېل، نور ده هم غږ ونکړو، روان شو.

لنډه دا چې د کم وخت په تېرېدو سره مې یو بل هم خرڅ کړ، پاتې شو یو دانه، دا هم په ( ۱۸۰ ) او ( ۱۹۰ ) ځو کسانو رانه وغوښتلو، خو دا چې یو پاتې و، ډاډه وم خرڅېږي، تر ( ۲۰۰ )مې چا ته نه کماوه، اما خبره زما د باور برعکس شوه، کرار، کرار بازار په سړېدو شو، لمر لمنې ټولې کې د ماښام رنګ احساسېده، نور نو زما سره هم چا بیه نکړ، که څه هم په مخکنیو مشتریانو د نه پلورلو له وجې پښېمانه وم؛ خو بیا هم د مور مې ورسره جوړه وه، دا مې دهغه لپاره په پلاستیک کې واچاوه، کراچۍ مې سرای ته ننه ایستله، له پوره خوشحالۍ سره د کور په لور روان شوم، چون یو خوا نن چې نابلده هم وم؛ پس له نیمې ورځې مې ( ۲۸۰) مزدوري وکړه، یو سر پاتې دی په دې به د مور دعا واخلم، بل خوا له بېکارۍ خلاص شوم، ډېر ښه کار مې پیداکړ، دغه نیمې ورځې ته په کتو، فکر کې راتېرېدل: که سهار له سره یې شروع کړم، اووه، آته سوه مزدوري ښه سمه جوړوي، زما د کور له خوراک او پوشاک رانیولې، تر کرایه پورې رسیدګي کوي، پس طبعاً یوازې زه نه، بلکې زما په ځای که بل هر څوک هم وی، د خوشحالۍ احساس به یې کاوه.

په همدې طلایي خیالونو کې کور ته ورسېدم، تر دروازه له ننه وتلو سره سم اشپزخانې ته ورګرځېدم، د پسه سر او پښې مې د داش په سر کېښودل، نور ولاړم له مور سره تر لیدو وروسته مې فرینتې ته غږ وکړ:

-سخت ستړی او وږی یم، ډوډۍ موډۍ څه شی شته؟

-هو لالا شته دروړم یې!

شیبه وروسته یې ډوډۍ راوړه، زر زر مې څو غټې غټې ګولې ترې پورته کړې؛ یو ګلاس چای مې هم پسې وڅښلو، جګ شوم، په منډه منډه مې لمونځ وکړ، نور مستقیماً بسترې ته ولاړم ویده شوم، فکر کړم د ستړیا تاثیر و، چې مور مې غږ وکړ، لکه پنځه دقیقې چې وتلې وي، خو چې سترګې مې وغړولې سهار و، راپورته شوم، اودس او لمونځ مې وکړل، پس له لمانځه جګ شوم بام ته د تلویزون آنتن خراب و، دا مې جوړ کړ.

لنډه یې دا چې د ماسښین تر دوو، دریو بجو مې کور کې په هغه او دغه ځان غلت کړ؛ په دریو بجو بیا ښار ته د پسونو په سرو پسې روان شوم، ښار ته له رسېده سره سم، په لمړي قدم کې منډوي ته ولاړم، یو وړوکی تبر مې واخیست، نور همدسې د پلخشتي په پله ور ورتېر شوم، د مراد خانیو، قصاب کوڅې ته مې ځان سیخ کړ، پروني مشتري ته مې ورغلم، دا ځل مې پنځلس سرونه ترې واخیستل، دوه ورته پاتې شول، نور دده سره هم نه و، کړل یې:

-دا دوه نو څه کړم؟ دا هم واخله!

هغه مې هم ترې واخیستل، ټول اولس دانې شول، په یوه ګونۍ کې نه ځاېدل، دوو کې یې راته ځای په ځای کړل، دا ځل یې د کوټه سنګي د موټرو تر تم ځایه په شاه راوړل ناشوني و، د سرک له سر مې یوه ټکسي راوګرځوه، ډالې ته مې یې ورواچول ماښام

د آذانونو کړنګ او پړونګ و، چې کوټه سنګي ته راورسېدو، سرونه مې د سرای مخکې، له ټکسي ښکته کړل، چوکیدار ته مې کړل:

-دې ته ګوره!

زه لاړم کراچۍ مې له سرای نه راویستله، نیم پراشوټ مې په کراچۍ کې تر سرو لاندې کړ، پاتې نیم مې له پاسه پرې راواړاوه، نور مې تسمه ښه کلکه ترې تاو کړه، کراچۍ مې روانه کړه، تر ډېرو موټرو کراچیو مې تېره کړه، وړاندې د سرای په بر سر کې د یوه غټ موټر تر څنګ مې ور ودروه، زه د کور په لور ترې راروان شوم، تیاره وه، کوڅو کې وېرېدم هم، د مبایلونو غله، چرسیان، لنډغر ډېر و، یو دم به له یوې خوا درباندې راپورته شول، چاقوګان به یې لاسونو کې و، ځان خو دې نشوی پرې وژلی، مجبور وې، چې مبایل کومه پیسه میسه دې جیب کې وی ورکړي دې وی. خو خوشبختانه څه مې ونه لیدل، پخیر کور ته ورسېدم. بالاخره دا شپه هم تېره شوه، سهار وختي پاڅېدم، له لمانځه مخکې مې په مور د پراټې پخولو چیغې ګډې کړې، مور مې په مدینه حکم وکړ، بیا مې ورته کړل:

-مدینه یې هسې نشي پخولی، ته یې پخه کړه، ستا له لاسه ښه مزه کوي!

-له تانه خو زه په سپین سره هم خلاصه نشوم، سبا به دې ښځه هم وي ته به په ما پسې چیغې وهې !

په همدې سره پسې جګه شوه، ترڅو مې اودس او لمونځ کول او د کار جامې مې آغوستې، د پراټې بوی هم ولګېده، آشپزخانې ته ور روان شوم، قریب پخه وه، یوه

دوې دقيقې نور هم ورته تم شوم، څو ښه سمه پخه شوه، دا مې نوشيجان کړه، نور د کار په لور روان شوم، مور مې له شانه آواز راپسې وکړ:

-زويه! له ځان سره دې ډېر پام کوه، د شپې مې داسې ګډ وډ خوبونه ليدل، خدای ج دې خير کړي!

-بېغمه اوسه مورې! هېڅ خبره نشته!

شل، پنځه ويشت دقيقې وروسته کوټسنګي ته ورسېدم، سرای کې د تل په څېر سل ګونه موټر او کرچۍ ولاړ و، په قات او قوت کې وړاندې تېر شوم، د خپلې کرچۍ د درېده ځای ته لا نه وم رسېدلی، تقريباً پنځلس متره را دېخوا د يوې بلې کرچۍ په ټايرو کې مې يو د پسه سر وليده، د يوې ډېرې غوښې يې شکېدلې وې، بله خوا يې جوړه وه، په ليدلو سره مې يې د سر ويښته نيغ ودرېدل، کلمه مې درسته کړه، مخې ورتېر شوم، څومره چې وړاندې تلم د کراچيو، موټرو ټايرونه په وينو او غوښو ککړ و، نيم او نيمکله سرونه پکې رغړېدل، کرچۍ لا نه ښکارېده تر وروستي کاشتر موټر چې راتا شوم، يوه غټه تار، تار په وينو او غوښو لېت، پيټ لته پرته وه، چې سم ورته ځير شوم، ومې پېژنده، همغه په سرونو غوړولی پراشوټ مې و، په ليدو سره مې يې تر سترګو لسګونه سپرغي باد شول، باور وکړئ، هېڅ داسې الفاظ مې ذهن ته رانغلل چې د هغه صحنې درد او رواني حالت مې درسره پرې شريک کړی وی، خو په هر صورت، د کاشتر له دې بل کونج نه هم ور واوښتم، چې کتل مې ځای شته کراچۍ نشته، هاخوا دېخوا درى، څلور کنډو کپر سرونه پراته دي، يو قسم ضعف مانندہ حالت راباندې راغی ټول وجود مې سست پست شو، د يوې لحظې لپار مې د کاشتر په دې يوه ډډې همداسې په ولاړو د مړوند له پاسه سر تکيه کړ، لږ مې چې په سترګو را رڼا شوه، سر مې راپورته کړ، کرچۍ پسې مې شا او خوا سترګې وغړولې، تر

سترګو مې نشوه، راتاو شوم چپ لاس ته د زړې لارۍ موټر تر ګېډه لاندې مې سترګې ور ونيولې، يو چاغ لکه خر غټ خړ رنګی سپی ترې لاندې پروت و، دوه د پسو سرونه يې مخکې يو يې له لکۍ سره پراته و؛ زما په ورکتلو وغورېده؛ زر ترې راشاته شوم، تر څنګ يې ولاړ بل زاړه موټر لاندې مې وروکتل، دوه درۍ سپي دلته وېده و، د پسو سرونه ترې چارپېر و، ددې نه هم راشاته شوم، د کرچۍ په لټه مې د ځمکې څربندې پسې تعقيب کړه، مخکې راغلم، د موټرو له قات او قوت نه راووتم، چې کتل مې هاخوا دېوال ته څېرمه د کباړونو خوا کې، سر په تلاق چيته چمبوله، په داسې حال پرته وه، ته وا له آسمانه دې راغورځولې، تر لاستيو مې ونيوه راسمه مې کړه، په پايو پورې يې لوېشت، لوېشت، تسمه زنګېده، د دېوال څنګ کې څو غټ غټ شنه بوټي ولاړ و، راومې شکول، د کراچۍ څنګونه، منګوه مې له وينو او پرې سرېښ د غوښو، له ټوټو لړ لړ پاک کړل، د کباړ له پاسه اخبارونه (کاغذونه) پراته و، يو څو مې ترې راوخيستل، په کراچۍ کې مې خواره واره واچول، تر څو دروازه کې پيردار د کراچۍ په وينو سور منځ ونه وينې، پرې پوه نشي، چې سرونه سپيو خوړلي، غوښې او هډوکي يې په سرای کې باد دي، کني منه سم جنجال به وکړي.

کرځۍ مې د راروانولو په پار تر لاستو ونيوله، چې ټېله مې کړه، کغ کغ غږ ترې جګ شو، په ځای ددې چې ټاير يې ورغړي، په ځمکه ښوېده، واپس مې چپه کړه اوسپنې مې يې لړ سره لغت کړې، ټاير مې ترې خلاص کړ، بيا مې را روانه کړه، که څه هم ډېره په نه زړه راروانه وه، خو خير يوه اندازه ښه شوه، هغه کغاری يې ورک شو، يو لس متر به راغلی وم، چې له شانه يوه سپي راپسې وغپل، سترګې مې وروااړوې، يو تور ډنګروکی يې تر مخ و غپل يې، درۍ څلور نور له اخېره پسې و، کراچۍ مې ودروه، يوه تېږه مې ور وار کړه، تر څو وګرځي، د تېږې وارول نه و، بلا مې ځان ته وګټه، د هر موټر او کراچۍ له ګېډې درۍ څلور راووتل، غپ او غوپ يې ونيښلاوه، ټول سرای يې په شور واخيست، خو ښه و، ډارن و، ډېر نژدې

نه راتلل، له لرې لرې يې غپل منډې رامنډې يې وهلې، وېرېدم چې سرای وان راتېر نشي، په سپيانو مې ځان ناګومانه واچاوه، کرچۍ مې بيا راروانه کړه، دروازې ته چې راورسېدم، چوکيدار په خپله سره پلاستکي چوکۍ ناست و، سر يې شاه طرف ته ځوړند کړی و، نصوار يې توف کول، کراچۍ مې دې خواته د يو کرولا موټر له پوزې سره د دروازه وان له سترګو پناه ودروله، زه ورتېر شوم، مخ يې راواړاوه، لا يې هم خوله کږ وږ کوله ترخې لاړې يې پکې راتولولې، شل روپۍ مې ورته ونيولې، پيسې يې واخيستلې، ورمېږ يې واپس شا ته کوږ کړ، خوله کې پاتې نصوار يې توف کول، له همدې موقع نه په استفاده مې کراچۍ بېغمه راويستله، ښه و پوه نشو، له لويې لانجې خدای ج خلاص کړم، نور مې نو د کلا واحد خامې کوڅې ته سيخه کړه، ګړزه ګړزه، ګړزه ګړزه، بالاخره کور ته ورسېدم، تر دروازه د ننه کېدو سره سم، لمړی مې چپ لاس ته د آشپزخانې په دور پورې سرېښ د خښتو نغري سره کراچۍ کې پراته اخبارونه خالي کړل، وروسته مې کرچۍ د بلاخانې تر زينه لاندې ودروله، خپله راتېر شوم د برنډې په اوله پايکه کې له قدم اېښودو سره سم مې مور د دهلېز له وره راووتله، فکر کړم مخکې يې له کړکۍ ليدلی وم، وارخطا غږ يې وکړ:

-الااااا رنګ دې ولې داسې تک تور دی، جنګ دې کړی؟

-نه مور سترړی يم!

-ښا ځار زويه! سترړی خير ودې وېرولمه، پسې زياته يې کړه: ځنګ ببرته زر راغلې؟

-رخصتي وه، کار نه و، د همدې خبرې په جريان کې له مور نه تېر شوم، د دهلېزه

د وره تر څنګ مې بوټ ويستل، لمړی دهلېز ته د حمام په راوتلي وره ورننوتلم، پښې مې پرېمنځلې، واپس اطاق ته راغلم، خوشبختانه په غولي تيار د ترموز تر څنګ د مور له چايو ډک ګيلاس ايښی و، راجګ مې کړ، لمړی مې په شونډو لمس کړ، تقريباً برابر و، سوځول يې نه کول، په سر مې واړاوه، ټول مې په يوه ساه وڅښلو، لا مې هم تنده ماته نشوه، ګيلاس مې بيا ډک کړ، د سړېدو په انتظار يې، د مور په ځای ايښې پوشتۍ ته مې ولې تکيه کړل، د غولي منځ ته راوغځېدم، له غځېده سره هممهال مې په وجود يو قسم يخني راغله، پوست مې ځيګ ځيګ شو، اول خو مې باک پرې رانه وړه، ولې د څو شېبو په تېرېدو سره لړزه هم ورسره مل شوه، بالاخره ښه سمه لړزانده تبه مې شوه، په همدې لمړي قدم کې يې له دې وغوځوم، ترڅو جګ شم يوه کمپله، ممپله راوخلم، په خويندو پسې مې نارې وکړې، خو لکه څنګ مې چې د جګېدو توان له لاسه ورکړی و، همداسې کاپې اندازه غږ مې هم له خولې نه وتلو، وامې نشوی آورولی، صرف دومره مې وکړل چې په دې يوه اړخ راواوښتلم واو غوندې په خپل ځان راټول پرېوتم، د زګېروېو سره ګډ د خياطۍ ماشين ته ورته کړفی مې د زامو لګېده، ګومان کړم، زګېروی مې يې آورېدلی و، مور مې وارخطا اطاق ته راننوتله، په وېرېدلي غږ يې کړل:

-ولې، څه دربانډې شوي، اوو وړکيه؟

-تبه مې ده، يخ مې کېږي، يوه ګمپله رابانډې راواچوه!

-بازار کې به دې ناپاک څه خوړلي وي؟

-نه؛ نه همغه سهار مې چې پراټه خوړلی بيا مې هېڅ نه دي خوړلي!

کمپله یې راباندې راواچوله؛ بیا یې کړل:

ددې ځنګ ګاونډیانو ته به غږ وکړم، که کوم نارینه یې کور وي؟ چې ډاکتر ته دې بوځي!

-نه، هغه پرېږده، ته الماری وګوره یوه ورځ مې مدینې ته د ځان دردی ګولی راوړې وې، که پاتې وي، له همغو نه یوه راکړه، که ښه نشوم بیا به ګورو!

تر څو مې مور روانېده مدینې برنډې ته له وروتلې خلاصې کړکۍ غږ وکړ:

-وی‌ی‌ی ولې؟

-تبه مې ده، ها ورځ مې چې ګولی درته راوړې وې، له هغو کومه یوه پاتې ده کنه؟

-هو، شته، پسې منډه یې کړل، د سترګو رپ کې یې ګولی راوړې، لړزه څه کوې، ته وا برق نیولی یم، اوس نر ځوک دی چې د ګولیو خوړلو لپاره راجګ شي، بالاخره د مور او مدینې په مرسته راپورته شوم، ګولی مې خولې ته کړه، نیم ګلاس چای مې پسې وڅښلو، واپس پرېوتم، په مدینه مې غږ وکړ:

-ښه مې پټ کړه، یو بل څه هم راباندې راواچوه، بله کمپله یې هم راواخیسته، زما عادت نه دی هېڅ وخت کمپله کې سر نه پټوم، ساه مې پکې ایساربږي، دلته نو داسې یخ اخیستی وم، چې سر مې هم په کمپلو کې ننه ایستلو، مور مې د بالښت تر څنګ ناسته وه، شېبه په شېبه به مې یې تر کمپل لاندې لاس په تندي را اېښوده، که څه هم

ډاډ مې ورکاوه، چې انشاءالله ښه کېږم عادي تبه ده، اوس به مې خوشې کړي، خو بیا هم مور ده، یو وخت و، چې تر کمپله لاندې مې یې د سلګیو غږ واورېده، کمپله مې هاخوا کړه، چې کتل مې، پلو یې سترګو ته نیولی اوښکې پاک کوي، غږ مې پرې وکړ:

-ولې ژاړې؟ څه سرطان خو نه یم، دا دي وجود مې کرار کرار راګرم شو!

راښتیا هم څه ښه شوی وم؛ خو څه مې ددې لپاره ځان بیدار ونیولو؛ راجګ شوم، بالښت مې دېوال ته کېښود، تکیه مې ورته وکړه، له چایو مخکنی ډک کړی ګلاس مې راپورته کړ، مور مې کړل:

-صبر ګرم چای درته واچوم!

-همدا صحیح دی!

-وږی نه یې، څه شی خورې؟

-څه شی مو پخ کړي؟

-سهار مدینې وېل: لوبیا پخوم، له ما سره شل روپۍ شته، ته که مستې، یا هګۍ څه شی خورې چې درته رایې وړم؟

که څه هم وږی وم، خو له یوې خوا مې مور په فارسي نه پوهېده، موږ ته لنډ دوکان د یو هزاره و؛ په ټکي پښتو نه و خبر، مخکې هم څو ځل خالي لاس ترې راغلې وه،

هغه شی به دوکان کې و، خو دوئ به نه و سره پوه شوي، بل خوا دوکان هم دومره لنډ نه و، څه لاره وه؛ زړه مې پرې ونشو، ورغبرګه مې کړه:

-صحیح ده مورې! که پخه وي همدا لوبیا راواخلئ!

فریښته پسې یې غږ وکړ: لوبیا یې ترې راوغوښته، ښه وه زر یې راوړه، څو غټې غټې ګولې مې ترې پورته کړې، نیمایي قاب مې نوشیجان کړه، ترڅو مې دا خوړله تبه هم په مکمل ډول وشکېده، په بدن مې خوله راماته شوه او د ګولۍ (دوا) ترکیب کې د مخدره موادو د فیصدۍ له وجې مې د کاذبې خوشحالۍ احساس هم کاوه، خو بیا هم د سرونو د رایادېدو، له کبله به مې په زړه څړیکه تېره شوه، د پام په بله کولو په پار مې موبایل راواخیست دوې درې سندرې مې پلې کړې، خو خوند به یې رانکړ، واپس به مې بندې کړې، بل ځل د یوه محلي سندر غاړي په سندره وربرابر شوم، سروکی یې داسې و :

د دنیاګۍ ړنګه بازاره دا څه دې وکړل؟

له زندګۍ دې کړم بېزاره دا څه دې وکړل؟

خدایي چې شي، سندرې که له یوې خوا په زخم مالګې راته دوړولې، بلخوا یې ډېره عمیقه زما د نن ورځې د زړه د درد ترجماني کوله، داسې ولګېده لکه ختې، د سندرې له اورېده وروسته مې ډېټا کلیک کړه، فسبوک ته مې سر ورښکاره کړ، خو په عین حال کې کړنګو پړونګ شو، د واتساف سرببړه مسېنجر ته هم څو پیغامونه راغلل، لمړی مې د مسېنجر پیغامونه وکتل، له بېلا بېلو کسانو درې پیغامونه راغلي و، یوه درودې شریف را استولی و، بل صرف سلام کړی و او همداسې دریم یو طنزي تصویر و، دا مې ځای په ځای پرېښودل، واتساف ته راغلم، دلته هم لمړی پیغام اوردو لیکنه وه، د یو ناشناخت نمبر نه را استول شوې وه، پسې ونه کړځېدم، دا صفحه مې

بنده کړه؛ تر دې لاندې د صدف په شمېره هم د نويو راغلو پيغامونو شنه علامه ښکارېده؛ ګوته مې ورواچوه کليک مې کړه، بووووو شاوخوا دېرش، څلوېښت متني او صفتي پيغامونه يې را استولي و، ګوشکې مې ورته غوړو ته کړې له نورو تېر شوم، دا وروستي دوه، درې مې پلې کړل، دا ځل له نجلۍ نه هغه د ژبې فصاحت او بلاغت يا هم د ښکلو ادبياتو کارول تللي و، لکه په اور چې ناسته وي، په چيغو چيغو يې ژړل، ويل يې: د خدای په لحاظ، د قران په لحاظ...

د پيغامونو تر اورېدو وروسته، بيا مې يې هم په ځواب ورکولو خاشه واچوله، هېڅ ځان مې پرې پوه نکړ .

له واټساف نه را ووتلم، په فسبوک صفحه مې څو دقيقې ښکته پورته ګوته کش کړه، دلته هم د ساعتېرې خاص څه نه و، نور له دې هم راووتم، ډيټا مې کليک کړه، انټرنيټ مې بند کړ.

خلاصه دا چې پاتې ورځ او شپه هم تېره شول، سهار بيا د يو بل کار پيداکولو په نيت له کوره راووتم، که څه هم، دويم ځل تبه راباندې رانغله، اما همغې يوې تبې دومره بې سيکه کړی وم، د کور تر مخ کوڅه مو خامه وه، منځ کې يې د کورنو له تشنابونو راوتلې اوبه ډنډ وې، صرف دواړو څنګونو کې يې د دېوال خواو ته نرۍ، نرۍ لارې وې، خلک به پرې تېرېدل، زه هم په راسته لاس همدې نرۍ لار روان وم، ستونی مې وسوځېده، ټوخی راغی، د ټوخي سره ځان رانه بې واکه شو، اندې، په اندې شوم، خو ښه و، نور مې ځان راټکيه کړ، ونه لوېدم، صرف دا يوه پښه مې له نرۍ لارې هاخوا په مردارو ابو او ختو کې ننوتله، بوټ مې په چيکړو ليت پت شو، هغه بلې خواته دوې مکتبۍ نجونې روانې وې، وخندل، چې ور ومې کتل، زر يې سترګې واړوې لاړې، د دېوال چاق کې مې په کاغذ سترګې ولګېدې، راومې يستلو بوټ مې

لړ لړ پرې پاک کړ، واپس روان شوم، په عین حال کې لا هم ښه شدید ټوخی راتلو، خو وېرېدم چې بیا ختو ته ونه لوېږم، ټوخی مې ستوني کې اسیار کړی و، له ډېره فشاره مې نفس پاک بند و، کوز چې راغلم، همدې کوټه کې د یو کور دېوال ته جوخت د برق وسپنیزه ډبله پایه ولاړه و، غېږ مې ترې تاو کړه، ترڅو ونه لوېږم، ښه د زړه له خلاصه وټوخېدم، دمه مې جوړه شوه، نفس وچلېده، بیا مې حرکت وکړ، ان تر دې چې کوټسنګي ته راووتم.

لنډه یې دا له دې وروسته مې چې کوم کارونه وکړل، که همداسې په جوزیاتو یې بیان کړم، نو داسې یې وګڼئ، چې د کیسې یوازې دا برخه به تر پنځه سوه صفحو واوړي، له همدې کبله نه غواړم خسته مو کړم، صرف یو څو ته یې په لنډو کې اشاره کوم. نور مستقیماً ځم د کیسې وروستۍ یعني هغې برخې ته چې ایا مرواء څه شوه؟ د صدف اوږد مهاله هڅو یا عذر زاریو نتیجه ورکړه کنه؟ دغه راز زما او کورنۍ مې اخري سرنوشت څه شو؟ دا درې پوښتنې په ډېر روښانه او شفاف ډول ځوابوي، البته وروستۍ برخه کې به ددې تر څنګ د ډېرو نورو نادرو شاهدان هم اوسئ، تاسو راځئ اندېوالي مې وکړئ. خو د اوس لپاره د لنډې شېبې په مخه واپس ورګرځم، د همدې برخې پاتې ټکو ته، هغه دا چې که څه هم د سرونو له کار او بار وروسته، ډېر چسپ پسې ګرځېدم، منتها بیا هم تر ډېره وخته بې کاره شوم، ان تر دې چې اقتصادي وضعیت مو داسې حال ته راغی، د کور کرایې خو په ځای پرېږده چې راباندې واوښتې، ډوډۍ مو هم نه لرله، زه، مدینه او مور مې څه ښه و، په وچو توتو، اب ګینه شوله، هغه او دغه چل مو ځان غولاوه، خو فرینتې ببخي د لوږې زور نه لاره، وجود یې ضعیفه و، اکثره وخت به بوڅه راواوښته ضعف به یې وکړ، د وخت په تېرېدو مې مور د فرینتي دا حالت ونشوی زغملی، سهار وختي یا مازیګر به له کوره بهر ووتله، یو ساعت، نیم ساعت وروسته به یې درې څلور ډوډۍ خلته

کې رااچولې وې په دروازه به راننوتله، ښه پوهېدم چې د کوم مسجد مخکې کینې سوال کوي، مګر پوښتنه مې نه ترې کوله، ترڅو ددې له خولې خو وانه ورم.

پس طبعاً د داسې صحنې په لیدو یوازې زه نه بلکې زما په ځای که بل هر ځوان وی، په هېڅ به نه و بند شوی، همدا مجبویتونه سبب شول، سره ددې چې ډېر وړوکی، عاطفي زړه مې لاره، مګر څنګه چې فارسي زبان وایي: تنګ آمد به جنګ آمد! بدبختانه دغه و چې زه هم خپلو سختو مجبوریتونو د ډېرو غټ زړو، بې رحمه او محشر د ورځې له سوال او ځوب نه منکر وحشي انسانانو له جملې وګرځوم، ولې چې د یوې ګوله حلالې ډوډۍ یا ژوند د اولیه اړتیاو د پوره کولو لپاره بل هېڅ کار او کسب نه وه، تنها زه نه عالم بېکاره و، چوکونه (پلکې) له کارګرانو ډک و، د سلګونه کسانو له جملې په ورځ کې لس کسه هم نه پکار کېدل.

بناءً بله چاره نه وه، لمړی مې په پوښتنه؛ پوښتنه ځان تر رئیس ښامار پورې ورساوه، رئیس ښامار د چمن حضوري په ساحه کې هغه کس و، چې له خیرخانې رانیولې، تر دارالمان او کمپنۍ نه تر څرخي پله یې د خپلو سلګونه کارمندانو په مټ د ښار د هرې برخې معتادانو ته مخدره توکي رسول، ما ته یې هم په کارمندانو کې د نیولو سره سم لمړی د هغه وخت د لوچکانو بوټ او لباس راپه تن کړل، چلتار مې وواهه، له سپین ډبل ځنځیري جوړ شوی لاس بند یې لاس کې راواچاوه، نور مې د دری سوه افغانیو ورځنۍ مزدورۍ په مقابل کې په کار پیل وکړ، البته له یادولو دې پاتې نه وي، ددې دری سوه پیسو اعلاوه یو، یو ګرام پوډر به یې هم هر سهار ټولو کارمند ته ورکول، څوک چې پرې روږدي و، خپله به یې څکول، زما په شمول د ګوتو په شمېر کوم هلکان چې روږدي نه و، په نورو به مو پلورل، سل افغانۍ ددې هم کېدې، ټول ټال څلور سوه افغانۍ ترې جوړېدې، اګر چې دې څلور سو پیسو مو هم تر ټولو ستونزو رسیدګي نشوی کولی، خو ښې وې ورځنۍ ډوډۍ او لمړني ضرورتونه مو

تر یوې اندزې پرې پوره کېدل، اما د کور کرایه لا هم راباندې آوښته، په داسې حال کې چې هره اوونۍ به یې په جدي ډول غوښتله هم، مګر یوه او بله بهانه به مو ورته کوله.

خلاصه له ښامار سره مې څه وخت کار وکړ، د ښار په سطحه چې څه لوچک پوچک خدای ج وهلی، مخلوق و، دلته راټول و، کار یې ورسره کاوه، له ټولو سره مې وپېژندل، تر څه زمان کار کولو وروسته، د کوم نامعلوم دلیل له مخې د موقعت وخت لپاره ښامار خپل کارونه متوقف کړل، زما سربېره ټول کارمندان یې بېکاره شول، له بې پیسه ګۍ سره خو نه کېده، لکه ما به چې د ورځې کار ونکړ، بېګا ته به مو ډوډۍ نه وه، په دې نورو هلکانو کې هم ځینو یې زما په شان ستونزې لرلې، ځینې بیا معتادان و، چې مخدره مواد به ورونه رسېدل اور یې اخیست، لهذا مجبور و، چې هر چا، په هر قېمت او له هره طریقه د ځان غم خوړلی وی.

دغه و ترڅو چې د ښامار کار بیا پیلېده، موږ هم څو ملګري سره یو ځای شو، یوه څلور کسیزه ډله مو جوړه کړه، ښار کې به ګرځېدو، کوم نوی کرولا یا سراچه موټر به مو چې ولیده، دربس به مو کړ، چېرته به چې ګوښه ځای ته ورسېدو په ډرېور به مو تفانچه او چاقوګان راویستل، که مقامت به یې وکړ ویشتلو مو، کنې پرته له وهلو ډبولو صرف کلي به مو ترې اخیستې موټر مو ترې بېولو، د کمپنۍ د بازار شاه ته د درېګراشن سیمه کې زموږ د دې یوه ملګري د زړې حویلۍ په تکاوه کې به مو ټوټه، ټوټه کړ، بیا به مو پرزه، پرزه په مستریانو پلورلو، یوه ورځ مو دهمزنګ کې یوه نوې سره کرولا قرغې ته دربس کړه، یو ببر سری شین سترګی هلک یې جلب ته ناست و، له چهارهي کمبر نه تېر شو، وړاندې د قرغې امنیتي قرارګاه ته نارسیده، متین د شاه له سیټ نه په سر تفانچه ورکېښوده، له ډرېور سره د مخې سېټ کې ناست

مردا چې په شیر شار مشور و، چاقو پرې راویستلو، موټر یې د سرک څنډې ته پرې ودراوه، متین غږ پرې وکړ:

-که غواړې چې ماغزه دې درباندې باد نکړم، فقط پټه خوله له موټر نه ښکته شه!

ډرېور شنې غټې غټې سترګې ور واړولې کړل یې:

-خوښه دې ماغزه مې بادوې که یې پرېږدې، کور کې مې وړوکې بچیان دي، چې موټر تاسو ته درکړم، زه هغوئ ته ډوډۍ له کومه کړم؟

ددې خبرې په کولو سره، شېر شار له څنګه په تشي کې په چاقو وواهه، د چاقو تیغ یې تر اخیره پکې ننیستلو؛ ډرېور د چیغې په کولو سره شیر شار ته مخ ورواړاوه، متین له شانه ډز پرې وکړ، په سر یې وویشتلو، هلک چوکۍ کې را ړنګ شو، رزاق دېوانه لاس ورتېر کړ، دروازه یې ورته خلاصه کړه، ډرېور یې ترې وغورځاوه، پسې ور ښکته شو، په جامو کې یې ګوتې وربندې کړې د سرک له څنډې یې هم لاندې ژور ته وغورځاوه، ما له سره د خپل چلتار دسمال راخلاص کړ، زر زر مې په چوکۍ کې ډنډ وینې پرې وچې کړې، تر پښو لاندې پای پاک مې راپورته کړ، د چوکۍ له پاسه مې واچاوه، جلب ته کېناستم، پښه مې پرې تخته کړه، موټر مې ځای ته راورساوه، که څه هم له دې مخکې مو څو ډرېواران نور هم له دنیا رخصت کړي و، خو ددې هلک په وژلو مې سخت زړه بد و، رڼې رڼې شنې سترګې او ببر سر مې یې هېڅ له سترګو نه واته، کور ته له راتلو وروسته مې پرېکړه وکړه، چې نور به دا کار پرېږدم، چندان پیسې هم نه وې پکې د څلورو، پنځو لکو افغانیو موټر به مو ټوټه، ټوټه کړ، ایله به مو دېرش یا څلوېښت زره پیسې پرې جوړې کړې، هغه هم تر ډېر وخت ستړیاو منډو تړړو وروسته.

اګر چې ما صرف ډرېوري ورته کوله نور د ډرېوانو له وهلو، ویشتلو او پرزو له پلورلو خلاص وم، فقط اخیر کې مې خپل حق پیسې ترې اخیستې، خو بیا هم له دې وروسته يې چې هر څومره زنګونه ووهل، ورنغلم، هر سهار به له کوره راوتلم، که څه هم کارونه نه و، خو هسې د وجدان له ملامتیا د ځان ایستلو په پار به تر بېګاه د زرګونه نورو کارګرانو سره د مزدورانو په چوک ولاړ وم، ډېر وختونه پس یوه ورځ چې د تېر په څېر د کار پیداکولو لپاره د چوک په څنډه ولاړ وم، هغه د مخدره مواد د فروش د دورې یو ملګری مې عارف چې په ګرګ مشهور و، لوکسه دریشي يې کړې و، ویښته يې اړولي و، عینکې يې د سینې په سر د یخنکاک تکمو کې ټنبلې وې، بل شان په سټایل کې روان و، غږ مې پرې وکړ:

-ګرګ!

شاوخوا يې وکتل، چې سترګې يې راباندې ولګېدې را وګرځېده، ستړي مشي مو وکړه، سم دلاسه يې کړل:

-بچېش په دې کارونو يې نشې شل کولی، راشه چې پیسو ته دې سیخ کړم!

-چېرته؟

-ډرېوري خو دې زده ده، کنه؟

-هو ښه ټایټه!

-بس راځه یو چاته د معرفي کړم، ضمانت دې زه کوم، نور یې چې هر ولایت ته

ولېږلې، تیار بار موټر په لاس درکوي، فقط جلب ته کېنه په کابل کې یې ورته وسپاره، صرف درې پېرې دې چې وکړې داسې یې وګڼه، چې نور به د کاغذ تشناب په ځای ډالرو باندې ..... پاکوې!

ومې خندل کړل مې:

-د څه شي موټر دې؟

-د څه شي موټر! دا ښار کې چې هره ورځ له چاودیدونکو موادو بار موټر چاودنې کوي، له آسمانه را آوري؟

-ورک شه غرق شې، په هره چاودنه کې دښځو او ماشومانو په شمول څومره بې ګناه خلک مړه کېږي، هر کار به وکړم دا کار نه کوم!

هلک په خندا شو، راغبرګه یې کړه:

-چېرته جومات ونیسه، سم ملا درنه جوړ شوی، بیا یې پسې زیاته کړه: دا افغانسان دی په دې وړوکي زړه منه که سپوره ډوډۍ هم پکې پیداکړې، چې د خلکو د مړکېدو غم درسره دی بیا نو ودرېږه همدلته تر بیګاه وچې شونډې، په دې چوکونو مې ډېر ختونه تېر کړي، که له لوږې مړ نه شوې، زه به د سړي زوی نه وم، نور یې په ولي وټپوم، د بای بای په وېلو سره یې حرکت رانه وکړ.

له ګرګ سره د لیدني به مي تقریباً لس ورځې وتلې وې، مازیګر و، پیسې نه وې راسره، له همدې پلکې مې پلی حرکت وکړ، تیاره ماښام کور ته ورسېدم، سخت ستړی وم، د ماخوستن تر ډوډۍ خوړلو وروسته مې مور راته کړل:

-درته وېلی هم نشم زویه! جګرخون کېږې، خو که نه درته وایم هم نه کېږي، نن د کور صاحب راغلی و، ډېر په قهر و، نور خو یې چې هر څه ووېل بلا پسې، اخیر کې یې وېل د راتلونکې جمعې په ورځ راځم که کرایه مو نه و تیاره کړې لور دې درنه بیایم!

-ددې خبرې آورېدل نه و، سم برق ونیوم، له ډېر قهر نه مې د سر وینې پښو او د پښو سر ته وختلې، سخت احساساتي شوم، کله به مې وېل د جمعې په ورځ کور کینم، چې راغی چاقو به یې ګېډه کې وراچوم، کله به مې څه وېل، کله څه، بالاخره تر سهاره دې پرېکړې ته ورسېدم چې مبایل مې راویستلو عارف ګرګ ته مې زنګ وکړ، له سلام وروسته مې ورته کړل:

-هغه موټر راولم بچېش، فقط ور معرفي مې کړه!

په خندا یې راغبرګه کړه: هغه ورځ خو د له ځانه کاکا صالح راته جوړ کړ، د خلکو د مړک غم درسره و، نن دې بیا څه شی خوړلي؟

-هغه کیسې پرېږده، دا وایه چې چېر ته درشم؟

ادرس یې راکړ، ګرګ ته تر ورسېدو وروسته د پنځه سوه فاملیو په ساحه کې د سمندر صیب په نوم یو چاغ سړي ته ورغلو، توره ګڼه ګیره یې درلوده غټې غټې ګوتمۍ یې

په ګوته وې، د سرک په سر يې د ايلکس موټر سيټ کې ورسره کېناستو، ګرګ د يوه زړور او راز ساتونکي ملګري او ښه ډرېور په حيث ورته معرفي کړم، سمندر صيب کړل:

-کنړ کې د راتلونکې جمعې په ورځ يو موټر بارګيري لرو، ماته يې مخ راواړاوه وېل يې:

-ځوانه! نمبر دې راکړه!

ورغبرګه مې کړه!

-سمندر صيب! د جمعې له ورځې مخکې به کوم يو آمده نشي؟

-ولا پرون ملګرو له زابل نه يوه مازداه راولېږله، ډرېور يې په لارو کم جرئته شوی و، د وردګو دوراني ساحه کې يې پرېښې، دی ترې تللی، ورشه رايې وله، زه به زموږ ملګري آغا صيب ته زنګ وکړم، چې درته ويې سپاري!

-په څو؟

-د دشلو دقيقو لاره ده، ځه ورشه څلوېښت زره ( ۴۰۰۰۰ ) افغانۍ درکوم!

افف‌ف له دې خوشحالۍ نه، اصلي پېژندپاڼه او د مبايل شمېره مې سمندر رانه واخيستل، زه مازدا پسې روان شوم، د دوراني بازار ته له رسېدو سره سم مې زنګ ورته وکړ، وېل يې آغا صيب درځي، د څو لحظو له تېرېدو وروسته مې آغا صيب يوه سپينه

ټوډي تر مخ ودروله، ورسره وختلم، کوز د اندړو او بادم په سیمه کې له سرک هاخوا یو خوړ کې ولاړه مازدا یې په لاس راکړه، له هغه غټو ډمټرک مازاګانو نه وه؛ بېخ کې یې  چاودیدونکي مواد و، په سر یې جغل یا چهارمغز مانند غټ غټ ګاټي ور اچولي و.

لنډه دا چې حرکت مې راوکړ؛ که څه هم ما غټ موټر نه و چلولی، لمړی ورسره نابلده وم، کرار کرار مې یې ګېرونه پیداکړل، آغا صاحب مې ډېر لرې تر مخ روان و، د میدان ښار له چوک نه راتېر شوم، چې زنګ یې راوکړ، ویل یې:

-د کوتل سر کې امنیت ولاړ دی، مه پرې راځه، موټر مې د سرک څنډې ته ودراوه، زه ترې راښکته شوم، ټایرونه، میرونه مې ډبول نیم ساعت وروسته یې بیا زنګ وکړ:

-راځه لاړل!

بیا مې حرکت وکړ، د چوک ارغندۍ تلاشۍ ته په رسېدو مې زړه درببېده، خو ښه و، پولس ببخي له چوکۍ راجګ نشو، د سر په ښورولو سره یې د تلو اجازه راکړه، ما هم له موقع نه په استفاده ګاز پسې ونیولو، ترې راتېر شوم، څه چې راغلم، اغا صیب بیا زنګ وواهه کړل یې:

-له چوک ارغندۍ راتېر شوې؟

-هو!

-ښېشکه ولا، نور ښېغمه راځه، دي خوا هېڅ ممانعت نشته!

خلاصه د ماښام شپږ بجي نکاش یا هم د کابل ښار غربي دروازې ته را ورسېدم، دلته پولس ولاړ و، د شپې تر اوو بجو مخکې یې ښار ته غټ موټر نه پرېښودل، همدې وخت کې سمندر صیب هم زنګ وکړ؛ وېل یې:

-چېرې یې؟

ورغبرګه مې کړه:

-نکاش کې ولاړ یم، پولس تر اوو بجو مخکې غټو موټرو ته اجازه نه ورکوي!

بالاخره په اوو بجو یې موټرو ته اجازه ورکړه، د کمپنۍ له بازار راتېر شوم، سمندر ته مې زنګ وکړ، وېل یې:

-سیده راځه د بلاکونو په سرک راوګرځه، د خوشحال مینې سپین کلي په چوک مستقیماً د سیلو سرک ته راووځه، د کابل بانک نمایندګۍ ته مخامخ د دغو، دغو ښنو لرونکي دوه نفره درته ولاړ دي، موټر ورته تسلیم کړه، څلوېښت زره پیسې او پېژندپاڼه دې ترې واخله، نور دې موبایل فعال ساته، د پنج شنبې په ورځ یوه بله بارکیري هم تیارېږي، په هغه کې دې بیا نازوم!

د سمندر له لار ښونې سره سم، په ټاکلي موقعیت کې مې موټر همغه ښنو لرونکو کسانو ته تسلیم کړ، خپلې پیسې او پېژندپاڼه مې ترې واخیستل، ډېر ناوخته کور ته

ورسېدم، مور او خویندې مې د ناوخته راتلو له وجې ډېرې اندېښمنې او ورسره څنګ کې غوسه هم وې.

خو په هر صورت ډوډۍ مې وخوړه؛ د چای خوړلو په جریان کې مې جیب ته لاس کړ، پیسې مې راویستلې، په غولې مې کېښودې، مور ته مې مخ ورواړاوه:

-دغه دي مورې! مخکې مې چې چمن حضوري کې له کوم نفر سره کار کاوه، د اضافه کارۍ پیسې مې پرې پاتې وې، خو رانه ورک و، نن مې پیدا کړ، خپلې پیسې مې ترې واخیستې، د جمعې په ورځ چې د کور مالک په کرایه پسې راغی، په دا مخ یې پرې وله.

د پیسو په لیدو مې د مور او خویندو په څېرو د خوښۍ څادر خور شو، چې حساب مو وکړ، دېرش زره (۳۰۰۰۰) د کور د کرایه قرضدار و. پنځه ۵۰۰۰ زره څو میاشتې د برق د بېل باقي و، لمړی مې دا پنځه دېرش زره افغانۍ مور ته ورکړې، بیا مې پاتې (۵۰۰۰ ) افغانۍ هم د کور د خرڅ لپاره ورته ونیولې.

نور جګ شوم، ستړی وم له لمونځ کولو وروسته بېغمه ویده شوم. سهار تقریباً ( ۹ ) بجې وې، د کوتسنګي ګلبهار سلمانۍ کې مې وېښته جوړول، چې یو غرذ شو، ډېره درنه چاودنه وشوه، ټول ګوتسنکی یې وښوراوه، له کړنګاهار یې ښکارېده چې د ځینو تعمیرنو شیشې یې هم راتویې کړې، په سلمانۍ کې علاوه ددې چې ځینې وسایل له مېز نه لاندې ولوېدل، تر سرپورې مو په چت کې راځوړند د ګروپ ګل هم ټالۍ وهلې، ځوندې یې شرنګېدل، له سلمانۍ بهر خلک ترېدلې، ترېدلې، یو تر بل تېرېدل، ډېرو یې سترګې د باغ بلا طرف ته نیولې وې، د څو دقیقو په تېرېدو سره تلوېزون ته تازه خبر راغلی کړل یې:

-د کارت معامورین په ځلور لاري کې ډېره درنه موټر بم چاودنه وشوه، چې زیات تلفات هم له ځان سره لري، د بشپړو معلوماتو لپاره له طلوع نیوز سره اوسئ!

بالاخره د څو دقیقو په تېرېدو سره د رسنیو کېمرې هم ور ورسېدلې، د پیښې سیمه یې په ژوندۍ بڼه ښکاروله، افففف هغه شان د عرصات ورځ و، د خلکو نیمه، نیمه تنې په ونو کې بندې وې، سرک لکه په قالینو فرش، په وینو سور پور و، پولس او روغ خلک اخته و، مړي، زخمیان او پاشل شوې غوښې یې ټولولې، لږ دې خوا چې کېمره راغله، د یوه وړوکي سپین ډډ بډ ماشوم بې لباسه نیمه تنه پرته وه، یوازې سر او سینه یې ښکارېدل، ښکته چهاربند او پښې یې نه وې، تر څنګ یې یو آبي رنګه ټیکری او ښځینه کمیس ته ورته په وینو کې خیشته یوه بله ګل داره لته هم پرته وه، فکر کړم له دې ماشوم سره به یې مور وه، دا به د هغې لباسونه و او ترې چارپېر پاشلې غوښې به هم ددې وې.

خو په هر حال د نوموړې پېښې په لیدو مې لمړی همدې سلمانی کې خپل یخن ته توف کړل، مګر یوازې ځان ته په لاړو توف کولو مې تسکین نه کېده، څو ځل مې قصد وکړ، چې د کوټسنګي له دې جګ هوایي پله نه ځان راخطا کړم، خپل ځان خپله په مناسب سزا ورسوم؛ ولې بیا به مې چې مور او خویندې رایاد شوې، زړه به مې پرې ونشو، ترڅو په دې نابلده ځای، پردي کور کې، هغه هم په داسې حال یې تنها پرېږدم، چې نه یوه په فارسي پوهېږي او نه هم حتا تر کوټسنګي لار رایستلی شي، همدا و، چې له دې پرېکړې مې واپس شا ته شوم، ټوله ورځ د زړه له درد او خفګانه لکه په سر وهلی مار تاو شوم، بیګاه ته چې کور ته ولاړم، د مور او خویندو مې هم چاودنه کې په مړو شو خلکو ډېر زړونه بد و، حتا مور خو مې یې لا عامیلینو ته حېراوې او بد دعایی هم کولې. زړه کې مې وېل: چې حېراوې مه کوه مورې! ځان به غرق کړې، اما په خوله مې څه ونه وېل، ډوډۍ مو چې وخوړه، د خوب بسترې

ته مې ولاړم، خوب له کومه شو؟ د شپې تر دریو بجو ویښ په ځای کې رغړېدم، رارغړېدم، په دریو بجو جګ شوم، دولس رکعاته د استغفار لمونځ مې وکړ، وروسته مې سر په سجده د قسم په کولو له الله ج سره وعده وکړه، چې نور مې که خور څوک په قرض کې بیایي، که مور، نه به له چاودیدونکو موادو بار موټر راولم، نه به مخدره توکي وپلورم، نه به د موټرو غلا وکړم، همداسې د نورو ټولو کړو بدو کارونو د یادونې سربېره مې له رب سره تحد وکړه، چې نه به د بل کوم ناروا کار هڅه وکړم، له همدې وعدې تر کولو، وروسته مې د هغه ټولو ملګرو د موبایل شمېرې وربندې کړې، چې د مخدره توکو دپلورلو په وخت کې مې ورسره پېژندلي و، سر له سهاره مې لباس کار راسره وخیست، د مزدورانو د چوک په لور ولاړم، ډېر وخت صرف تلم راتلم، کار نه و، ان تر دې چې بیا له سختې بې خرڅۍ سره مخ شوو، حیران وم چې خدایه اوس څه وکړم؟ شیطان کافر ګام په ګام له هغه مخکنیو هلکانو سره بیا تماس نیولو ته هڅه وم، خو لاحول ولاقوة... به مې ووېل، واپس به د الله ج په امید د چوک په لور روان شوم، په داسې حال کې چې کار نه، نور مې هسې خوشې چوک ته له تلو راتلو هم استفراق راتلل، خو د خدای ج مهرباني وه، ورسره کړی قسم او وعده مې الحمدالله په ځای پاتې شول، تر خپل امتحان یې بریالی راویستلم، هغه داسې چې په همدې اساس وخت کې یوه ورځ د نورو ورځو په څېر د چوک په ژۍ لباس کار په لاس ولاړ وم، یو سوزکی موټر مې تر مخ ودرېده، ډرېور یې تر شیشه سر را بهر کړ وېل یې:

-کارګر مې پکار دی!

مخکې له دې چې مزد او یا د کار نوعیت ورسره معلوم کړم، موټر کې ورکېناستم، تر څو بل څوک ورسره ونه خېژي، حرکت مو وکړ په لارو مې پوښتنه ترې وکړه:

-استاده! ودې نه وېل چې کار مو څه دی؟

-راځه وبه یې وینې، کار مې دایمي دی، دوه نور کارګر هم لرم، څه چې هغه کول

ته به یې هم کوې!

-څو معاش ورکوې؟

-میاشتانه ۸۰۰۰ افغانۍ ورکوم، پسې زیاته یې کړه: یو حمام او سلماني لرم، البته

خپل مې نه دي په کرایه مې نیولي، دوه صفا کاران لري، هغه رسېدګي نشي کولی

ته به یې هم ملګری شې!

زړه کې راتېره شوه: سړیه! دا دحمامونو او سلمانیو کار خو په وطني اصطلاح یوازې د ډمانو کسب دی، کوم کلیوال، شناخته مې ونه ویني؟ ټول عمر به مې نوم ډم وي، منه که څوک لور راکړي. واپس زړه کې راتېره شوه: ځه ورک کړه بلا پسې، ډم نوم له دې ښه دی، چې بیا دې مور د کوم مسجد مخکې ناسته وي سوال کوي، کور ته دې ډوډۍ پرې راوړي.

همدا و چې سر مې ورته وښوراوه، ګواکي صحیح ده!

سړي کړل:

-خو کار درنه غواړم، ځکه چې د میاشتې مې په دولس لکه ( ۱۲۰۰۰۰۰ ) افغانۍ

کرایه نیولی، دا خو هم پوره کول غواړي!

ددې په ځواب کې مې هم د موافقیت سر ورته وخوځاوه.

لنډه دا چې د شهرنو په مرکزي سیمه کې یوه ډېر ستر حمام ته ورننوتلو، مخکنۍ برخه یې سلماني وه، لسو سلمانانو هممحال کار پکې کاوه او دې بل طرف ته یې مردانه آرایشګاه وه، چې دې کې هم آته آریشګرو په کار مصروف و، وړاندې برخه حمامونه و، ټول ټال پنځوس نمریي حمامونه یې لرل، سم له لاسه یې د حمام د کار کوونکو ځانګړی لباس، بورسونه، میکروب ضد ډیټول راکړل، کار مې پیل کړ، تر څو ورسره بلدې دمه مخکني دوه صفاه کاران مې تعقیبول، څه چې دوی کول، ما هم همغه کار کاوه، پس له دوه دریو شپو بلد شوم، نور مې خپل کار وپېژنده او د مخ ته وړلو طریقه مې یې زده کړه، کاشیان مې لمړی په ډیټولو مینځل، وروسته مې رنې اوبه پرې تېرولې، د تشنابونو په نولو به مې پام کاوه، تر څو بندې نشي، دغه راز د سلمانانو له پېښو نه مو ویښته جارو کول، همداسې نور کارونه زما او هغه دوه نورو صفاه کارانو مسولیت و، دوی دواړه سپینږیري هزارګان و، دا وجه وه چې ما به نظر دوی ته ډېر کار کاوه.

څه وخت مې چې ورسره تېر شو، بله ورځ یو نوی د هغه وخت قیمت بها فرونر موټر د حمام تر مخ د سرک په څنډه ودرېده، یو ډېر ښکلی جګ ځوان ترې راښکته شو، د حمام له منځ نه تر شیشه مې ورته کتل، هلک بېخي شناخته راته معلومېده، صد فیصد یقیني وم، چې دا ځوان مې چېرته لیدلی، خو هر څومره زور مې چې په حافظه راوړه، رایاد مې نشوی کړی، هلک د موټر دروازه بنده کړه، د حمام په لور راروان شو، زه هم له مخې چپ شوم، فکر مې وکړ چې دومره شناخته راته ښکاري، ممکن چېرته مې ورسره لیدلی وي، شاید دی مې هم وپېژني، له سلمانیو وړاندې تېر شوم، په دې وخت کې د آرایشګرو هم پرې پام شو، خپلو منځونو کې یې زر زر یو بل ته ویل: د حمام ملک راغی، د حمام مالک راغی...

د حمام تر عمومي دروازه د هلک له را داخلېده سره سم د حمام مشر چې تل به راسته لاس ته د پیسو د دخل مېز ته ناستو و، د نوموړي ښایسته ځوان په لیدلو سره زر جګ شو، له مېز نه د راوتلو په حال کې یې کړل:

-اوووو انجینر صیب پخیر راغلې!

نور سره غېږ په غېږ شول، سترې مشي یې وکړه، هلک سلمانانو، او رایشګرانو ته مخ ورواړاوه، جوړه لاسونه یې جګ کړل، د سر ښورولو په اشاره یې هر یوه ته جلا، جلا په جګ غږ وېل: سلام، سلام، سلام.... څنګه یاست؟

د سلمانانو او آرایشګر له خوا همچنان په ډېر احترام ځواب ورغبرګ شو، له دې وروسته د حمام د مشر په ځای د پیسو د دخل مېز ته په اېښې چوکۍ کېناست، د حمام مشر ته یې کړل:

-څه غورې دي رئیسه!؟

-ولا تر اوسه خو خیرت دی! پسې زیاته یې کړه: د څه اشتیا لرې، چای، مېوه...؟

-ژوند، ژوند کار لرم، ځم د دفتر صفا کار مې بېچاره مریض و، کار یې راپېښود لاړو، اوس تاته راغلم یو ښه تکړه صفا کار دې که راکړ ځواني به دې وي، موسکی شو زیاته یې کړه: ته خو هسې ورځ کې پنځه نیسې پنځه رخصتوې!

د حمام مشر زما همکار هزاره کاکا ته د لاس په نیولو سره اشاره وکړه وېل یې:

-په سترګو، بابه درسره بوځه!

هلک خندا کې ورغبرګه کړه:

-بابه قربان شم، زما د دفتر زينې خو دې ليدلې، بابه بېچاره کله دومره انرژي لري؟

چې په هغو کې بښکته پورته شي!

دا چې دريم صفا کار ملګرى مو هم سپينږيرى و، مشر مو مجبور شو راناړې يې کړې:

-اکبره!

نور به مې نو څه کړي وى؟ ور روان شوم، څو متره لرې د هلک سترګې راباندې ولګېدې کړل يې:

-آآآ ريسه**!** دا ملګرى صحيح دى!

چې ور نژدې شوم، له سلام وراچولو وروسته مې لاس ورته نيولو، سترې مشي مو وکړه، پس له سترې مشي مو مشر سترګې راوړولې، کړل يې:

-د انجينر صيب، د دفتر صفاکار ترې تللى، اوس يې نو څنګه کړو، که خوښه دې وي؟ ته به ورسره ولاړ شې!

که څه هم زړه کې ډېر خوشحاله شوم، دلته وېرېدم، څنګه چې وړاندې مې ووېل، فکر کې رالوېده، که کوم شناخته مې ووينې، ټول عمر به ډم راته وايي، موږ پښتانه خو هسې خلک يو، بلخوا ډېر چټل کار هم و، حمامو کې به مردار ويښته باد و، پوزې

به یې پکې سغ کړې وې، غولي به په نورو سرېښناکو مایع سرېښ و، واقعاً مینځلو یې زور غوښتلو؛ اما د مشر په وړاندې مې ناخوښه انداز کې کړل:

-ښا صحیح ده!

-بیا نو ورشه لباس دې بدل کړه، په حساب پسې به دې، ځو ورځې ورسته راشې!

روان شوم، له لباس خانې مې خپل لباس راوغوست، واپس راغلم خدای پاماني مو وکړه، انجینر مې تر مخ شو، موټر ته وختلو، له حرکت سره سم یې موبایل راویست لړ، لړ غږ مې اورېده، د کومې ښځې سره په ګپ شپ لګیا شو، وروسته، وروسته یې له خبرو پوه شوم، چې خپله ښځه یې ده، خو ما ټوله لار سترګې په ده کې خښې کړې وې، ځکه له یوې خوا یې ځېره لا هم بېخي آشنا راته ښکارېده، بل خوا یې د بیدارۍ او ښکلې دنګې ځوانۍ، سرببېره شاته پرېښنو په ولیو پرتو او واپس پورته ورکلوله وېښتو بل شان خوند ورسره کاوه. خو په هر ترتیب تقریباً دنیم ساعت په تېرېدو سره دفتر ته راوسېدو؛ که څه هم ډېر لرې نه وو، ګڼه ګونه وه لارې بندې وې، کني د پنځو دقیقو لار نه وه، له رسېدو سره سم، د دفتر مسلح ساتونکي دروازه خلاصه کړه، ورننوتلو ډېره یوه ښایسته حویلي وه، ټوله ځمکه یې چمن، چمن ګلان او ګلدانۍ وې، د ګلدانونو منځ کې نرۍ نرۍ په مزایکو پوښل شوې لارې پکې تېرې وې، مخکې لاړو وړاندې یوه وړوکي درې پوړیزه تعمیر ته چې خورا ښایسته نقشه یې وه، ور دننه شو، د لاندیني پوړ ډېره برخه یې یوه سالون نیولې وه، چې په قالینو فرش وه، میزونه او کوچونه پکې ایښې و، د مهمان خانې کار یې ترې اخیست، هاخوا پاتې نوره څه برخه یې آشپزخانه وه، دویم پوړ یې د بیلا بېلو دندو مخ ته وړونکو کارمندانو شعبې وې، دریم پوړ مکمل خپله د همدې انجینر دفتر و، کوچ کې له کېناستو هممهال بیا زنګ ورته راغی، موبایل یې اوکې کړ، تقریباً پنځه شپږ دقیقې له چا سره

ښه په ټوکو ټکالو او خندا وغږېده، زنګ یې ځل هم د ښځې و، ځکه اخیر کې یې د ایاز په نوم ماشوم پوښتنه ترې وکړه، دوخت په تېرېدو مې وپېژنده ایاز یې زوی و.

د تماس تر قطعه کېدو وروسته یې ما ته مخ راواړاوه، کړل یې:

-نوم دې څه دی؟

-اکبر!

اکبر جانه! دفتر خو دې ولیده؟

د سر له ښورولو سربېره مې کړل:

-هو!

-ښا وروركه! بس همدلته لاندې باندې به ګرځې، کوم کاغذ ماغذ، پاڼې یا بل داسې څه دې چې لیدل ټولویې کثافت دانی کې یې اچوه، د جمعې، جمعې په ورځ دې که په دې دهلیزو لړ لړ اوبه درسره تېرې کړې هم ډېر به ښه شي، بس ستا مسولیت به همدومره وي!

-سمه ده!

کړل یې:

-ښا چې سمه ده، بیا نو داسې وکړه، لمړی لاندې منزل کې د منشي شعبې ته ورشه، ځان دې ورته معرفي کړه، بیا آشپزخانې ته ورښکته شه، آشپز ته ووایه چې اول خو یو چای درکړي، ترڅو دمه دې جوړه شي، وروسته به د سامانونو اطاق هم درته وښيي!

همداسې مې وکړل، لمړی منشي ته ورغلم، منشي مې نوم، د داخلېدو نېټه او د پېژند پاڼې له مخې ادرس کتاب ته ورساوه، بیا لاندې منزل کې اشپزخانې ته راښکته شوم، آشپز ته مې د ځان تر معرفي کولو وروسته، د سامانونو د اطاق راښوده ووېل، که څه هم انجینر راته ووېل، خو ما آشپز ته د چای څښلو خبره ونه کړه، ولې آشپز ډېر ښه سړی و، خپله یې مېز ته اېښې چوکۍ ته په اشاره سره ووېل:

-ته کېنه یو ګلاس چای وڅښه، د موسکا په کولو سره یې پسې زیاته کړه: اطاق نه اطاقونه به بیا درته وښایم!

-مننه اشتیا یې نه لرم، د چای څښلو وخت هم نه دی!

-اوووو د چایو لپاره چا وخت تعین کړی؟ کېنه زوروره!

نور ما هم نه او نو ونکړل کېناستم، د اوسط سن لرونکي، میانه چاغ آشپز کاکا زېړ رنګه کونډۍ ګیره ښوروله ځان سره یې په ټیټ آواز زمزمه کوله، چای یې راتیار کړ، له چای څښلو وروسته مې تر مخ شو، د اشپزخانې تر څنګ اطاق ور یې خلاص کړ، اطاق کې د غټ او واړو بورسونو، سټلونو، علاوه رنګ رنګ میکروب ضد، د تعمیر مینځلو مایع اېښې وې، آشپزکاکا خندنی شو کړل یې:

-امم نور دا ته، دا دي سامانونه!

-ښا مننه!

تر دې خبرې وروسته آشپز رانه روان شو، څو قدمه تللی و، بیا مې غږ پسې وکړ:

-کاکا! دفتر د کارمندانو لپاره ځانګړی لباسکار نه لري؟

-انجینر ایجاز پیسې درکوي لباس کار به دې خپله ځانته واخلې، دلته چې هر څوک نوي راشي پیسې ورکوي، تر هغو دې په همدغه خپل لباس کې ګرځه!

-ښا مننه!

نور آشپز خپلې آشپزخانې ته لاړ، ما متې راونغړلې د انجینر د خبرې په تعقیب لمړی مې د یونیم هاخوا دې خوا پرتو کاغذو په ټولو شروع وکړه، کرار کرار مې خپل ټول مسولیت ته غېږه ورکړه، زما علاوه دفتر شپږ خدمت ګاران نور هم لرل، چې دوه خپله همدا آشپز او شاګرد یې و، دریم یوازې د مهمان خانې حفاظت کونکی و، څلورم حویلۍ کې د چمن او ګلانو پالنه کوله، دوه یې ساتونکي و.

زما کار دومره نه و، هسې به په تعمیر کې ښکته پورته کېدم، صرف د جمعې په ورځ د دهلېزونو او زینو مینځل څه ستونزمن و، نور ډېر ښه کار و، انجینر هم بلها مهربانه او خوږ ژبی ځوان و، که څه هم دفتر ته به زیات نه راتلو، په هفته کې به یو ایلا که دوه ځله راغی، خو د راتلو سره به یې زیاتره وخت ډېره ګنه ګونه شوه، مېلمانه به ورسره و، کله ناکله به چې تنها راغی، بیا به نو زموږ هم ساعت ورسره

تېر شو، خورا جالب مجلس يې کاوه، اګر چې هغه به هم ډېرى وخت موبايل کې غړېده.

د څه وخت په تېرېدو سره زما او اشپز کاکا کلکه ملګرتيا شوه، دايم به مو چې وخت پيداکړ، د يو او بل څنګ ته به ورتلو، د نور بنډار سربېره يګان شخصي راز ماز به مو هم سره کاوه، په همدې باب يوه ورځ مې ورته وېل:

-دا انجينر ايجاز مې چې په لمړي ځل وليده، بېخي ډېر شناخته تر نظره راغی، اوس هم چې ورته ګورم داسې راته ښکاري، لکه له مخکې مې چې ښه ډېر چېرته ليدلی وي، اما هېڅ يې په ياد نشم راوړلی؟

آشپز راغبرګه کړه:

-ليدلی به دې وي، دا دومره ډېر ګرځي، يو ځای په وزارت فوايد عامه کې د معين دنده مخ ته وړي، بل ځای په کوم شخصي پوهنتون کې استاد دی، دوه يې ساختوماني شرکتونه دي، دولتي ستر قراردادونه ټول دی نيسي، درى يې په شهرنو کې حمامونه دي، په کرايه يې ورکړي، شايد نور کارونه به هم مخ ته وړي!

-اووو هووو دا دومره کارونه په يوازې ځان څه رنګه مديريت کوي؟

-امممممم دا داسې بلا بيدار سړی دی، اوس يې هم ښځې له کاره ايستلی، کني دومره نور کارونه يې هم مخ ته وړل!

خندا کې مې ورغبرګه کړه:

-ښځې يې څنګه له کاره ايستلې؟

-ته يې نه وينې چې ګرده ورځ يې موبايل غوږ ته نيولی وي، خاندي ټوکې ټکالې سره کوي؟ افففف بل شان پرې ګرانه ده، ته باور وکړه په ټوله ورځ کې دری برخې له خپلې ښځې سره لګياه وي غږيږي، په دې يوه برخه کې يې دا نور ټول کارونه کوي!

-څه وايې؟

-ټوکه مې ونکړه، ته صبر کرار کرار به يې خپله وپيژنې، يو وړوکی زوی يې دی، هغه هم ډېر پرې ګران دی، اوږده ساه يې ونيوله بيا يې وېل: افففف داسې ښه نوم يې و، له ياده مې ووتلو، هووو فياض، نه، نه رښتيا اياز نوميږي!

همدې وخت کې چا له لاندې منزل نه غږ راوکړ، په نيشه کې مو يې تېشه ووهله، آشپز کاکا ورښکته شو، زه هم جګ شوم په خپل کار مې پيل وکړ .

خو رښتيا هم څنګه چې آشپز کاکا وېلي و د وخت په تېرېدو مې خپله وپيژنده، چې ډېر چالاکه او بيدار سړی و، له ښځې سره د بې انتها مينې پاللو تر څنګه، کوم چې آشپز کاکا يې يادونه کړې وه، هغه ټول کارونه يې هم په يوازې ځان مديريت کول.

اصلاً خدای ج د خپلې مهربانۍ او انسانيت له مخې دا توفق ورکړی و او د رزق هره دروازه يې په مخ خلاصه کړې وه، چون له دومره زياتو شتمنيو او په لوړو موقفونو

کې د دندې اجرا کولو سره سره بيا هم ډېر بې کبره او بې غروره سړی وو، نه يوازې له ما سره بلکې د دفتر له هر کارمند سره يې ډېره ښه رويه کوله، هېڅ وخت يې داسې چلند نه راسره کاوه، لکه موږ چې دده مزدوران يو، فقط لکه ښه نژدې ملګري يا دوستان يې چې اوسو، همدا و چې موږ هم ډېره مينه ورسره لرله، په ټوله راستۍ مو يې راته سپارلې مسوليتونه مخ ته ورته وړل.

خو متاسفانه زه يوه ورځ زښته زيات ترې خجالت شوم، هغه ځکه چې وړاندې مې هم يادونه وکړه، له آشپز کاکا سره د ځيني شخصي رازونو شريکولو په لړ کې مې د خپل غربت او سختو شپو ورځو حال هم شريک کړی و، همدا و چې آشپز کاکا به بيا هره ورځ له ورځني کتغ (پخلي) نه يوه اندازه په وړوکي پلاستيکي ستل کې راته ستون کړی و، له مازيګر به يې راکاوه، ترڅو کور ته يې راسره يوسم او ددې علاوه هره هفته به له مهمانخانې نه را زياته شوې يوه ګونۍ وچه ډوډۍ هم برابرې ده، دا به هم اشپز ماته راکوله، ترڅو د ځان لپاره يې خرڅه کړم، خو بدبختانه يوه ورځ چې له وچې ډوډۍ ډکه ګونۍ مې په شاه و، ستل مې لاس کې و، څنګه چې تر دروازه راوتلم، کغغغ شو، انجينر مې له مخې سره موټر ودراوه، له شيشې نه يې زما په شاه ګونۍ ته د سترګو په اشاره سره کړل:

-اکبرجانه: دا څه دي؟

افففف له خجالته ځواب رانه ورک شو، هغه د چا خبره که چاړه دې را اچولې وی، ځاځکی وينه به نه وه رانه تللې، خو بله لار هم نه وه، غلي مې ووېل:

-وچه ډوډۍ ده!

انجینر مې له خجالته په خراب وضعیت پوه شو، زر زر یې ووېل: ښا، ښا ډېر ښه دې وکړل، ورځه چې ستړی کوې دې، که څه هم انجینر ته دا شیان بې مانا و او نه پسې ګرځېده. مګر زما حالت تر ډېره خراب و، فکر مې کاوه، د انجینر تر نظره به څومره خس دوز ورغلی یم؟ یا به یې فکر کړی وي چې څومره غل سړی دی، پرته زما له اجازې یې ډوډۍ په شاه کړې وه، نور به څومره شیان وړي؟ اما دا زما فکرونه و، ولې خبره برعکس وه، سبا چې ورغلم، آشپز کیسه راته وکړه

په همغه مازیګر زما په شاه د وچې ډوډۍ تر لیدلو وروسته، انجینر دفتر ته ننوتلی و، له آشپز نه یې زما د ستل او وچې ډوډۍ په اړه پوښتنه کړې وه، څنګه چې ما ورته وېلي و، آشپز هم زموږ دغربت او سختو مجبوریتونو ټوله کیسه ورته کړې وه، انجینر د خپل نرم زړه له مخې د آشپز د خبرو په آورېده، ډېر خپه شوی و، په مقابل کې یې آشپز ته ویلي و، هېڅ وخت بې کتغ درنه ولاړ نشي، سپوره ډوډۍ هم ورکوه.

د آشپز له خولې ددې خبرو په خبرېدو خوشحاله شوم، د کوم څه له وېرې چې ما د انجینر له دیدګاه ځان کړاوه، انجینر زما په اړه هغه فکر نه و کړی، خو په عین حال کې مې لا هم د خجالت احساس کاوه، زړه کې مې وېل: کاشکې دې سړي په دې حال نه وی لیدلی، اما اوبه تر ورخ تېرې وې، څه به مې کړي وی؟ واپس مې په خپله صفاکارۍ پیل وکړ، له دې پېښې دری ورځې تېرې شوې انجینر دفتر ته رانغلو، څلورمه ورځ تقریباً لس بجې وې په دویم پوړ کې په خپل کار اخته وم، د دروازې کړپار شو، تر کړکۍ مې ور وکتل ساتونکي دروازه خلاصه کړه، د انجینر موټر حویلۍ ته راننوتلو، وړاندې راغی، یو کوچنی ماشوم هم سیټ کې ورسره ښکارېده، له موټر نه راښکته شول، لاندیني پوړ کې د مهمانخانې له مسول کارمند سره یې د سلام علیک غږ ولګېده، بیا یې له آشپز سره جوړ پخیر شروع کړل، زه نو زر زر په صفاکارۍ اخته یم، د سترګو تر کونجونو زینو ته ګورم چې اوس به رجګېږي،

اوس به راجګيږي، د سږي وخت وواته، چې کټل مې آشپز د زینو له نیمی نه غږ راوکړ، وېل يې:

ـ راشه انجینر صاحب دې غواړي!

د ښځو په اصطلاح زړه مې د پښو تر تلو تېر شو، ووېرېدم چې دهغه ورځې ډوډۍ ایستلو څه غم نه وي؟ خو بله چاره نه وه، ور روان شوم، انجینر مهمانخانه کې په کوچ ناست و، سلام مې ورواچاوه، ستړي مشي مو وکړه، بیا مې ماشوم په دوه ګوتو نرم تر دې یوه اننګي ونیولو، لطفې خوش مې ورسره وکړ، له کیناستو سره سم انجینر دمخ په را اړولو سره کړل:

-اکبر ګله! تا پسې راغلی یم، د کور د صفاکارۍ مو خاله نادیې څوک مریضان دي، دا دوې هفتې نه ده راغلې، باور وکړه برنډې مو داسې شوې لکه د منډوي پیاده رونه، نن دې هغه راته مینځلې وی، بل شان ثوابونه به دې شوي و!

آشپز وخندل، ما ته يې هم دا د ثوابونو کلمه څه جالبه ښکاره شوه، موسکی شوم، د سر په ښورولو سره مې ورته کړل:

-ښا صحیح ده انجینر صاحب!

نیم ګلاس چای ئې ځای په ځای پرېښود جګ شو وېل يې:

-ځه نو چې تا ورسوم، بیا مې میداني هوايي کې لږ کار دی ناوخته نشي!

بالاخره راروان شو، په لارو مې د ماشوم سترګو، پوزې، خولې او همداسې د وجود نور جوړښت ته ورپام شو، سره له دې چې ماشوم خپله هم ډېر ښکلى و، اما دده د سترګو، خولې يا بدن له ښکلا هاخوا يو قسم بهرنى ډېر مزدار خوند مې تر محسوساوه، هېڅ نه پوهېدم چې دې کې څه راز دى؟

ولې مې دې ماشوم ته کاته عشقي حواس راپاروي؟ او په عين حال کې لکه څنګه چې پلار يې انجينر ايجاز په لمړپ ځل ليدو ډېر شناخته تر نظره راغى، نوموړى ماشوم زوى يې تر پلار نه هم ډېر شناخت راته ښکارېده، سره ددې چې اول ځل مې همدا نن وليده، زړه کې مې کړل:

-انجينر به کوم تعويذ معاويذ کړى وي، څنګ ټول داسې شناخته، شناخته ښکاري؟

همدې فکر کې ډوب وم، چې د کارت پروان ساحه کې جلب وواهه موټر يې له عمومي سرک نه فرعي سرک ته ويستلو، په څه مخکې تلو سره د يوې لويې کوڅې خوله کې څلور پنځه پولس ولاړ و، د ډبلې اوسپنې په واسطه يې لاره بنده کړې وه، چکپاينټ و، موټر ته يې راوکتل د انجينر سره يې سلام عليک وکړ اوسپنه يې جګه کړه، تېر شو، د کوڅې دواړو خوا ته ډېر ښايښته تعميراتي کورونه و، د ځينو دروازو مخکې ساتونکي هم ښکارېدل داسې انګېرل کېده چې ټول به دې دولتي غټو چارواکو کورنه وي.

خو په هر حال له څو کورونو چې تېر شو انجينر يوې فولادي غټې دروازې ته د موټر په مخامخ کولو سره آورنګ وکړ، سم له لاسه يوه سپينږيري له قده ټيټ بابه دروازه خلاصه کړه، ورننوتلو تر څه وړاندې تېردو وروسته له موټر نه راښکته شو، که څه هم حوېلي تر ډېره د دفتر حوېلۍ ته ورته وه، همغه شان چمندونه، رنګ رنګ ګلان او د ګلدانونو تر منځ په مزايکو فرش نرۍ نرۍ لارې پکې تېرې وې، ولې

تعمیر يې د دفتر له تعمیر نه هم ښکلی و، بېخي نمونه نقشه يې وه؛ له دې سربېره خورا ښایسته ورونه؛ کړکۍ، پنجرې يې پکې نصب کړې وې او همداسې رفقونه، مناري، په بېلا بېلو برخو کې مصنوعي جوړ شوي ګلان ډېر جالب و. خو په هر راز، انجینر په تحکاوه کې بوسونه، د تعمیر شویی مایع د ابو پایپونه راته وښودل، اخېر کې يې تر برنډه لاندې د حوض کونج کې کوټ کړې وچې ډوډۍ ته لاس ونیولو کړل يې:

-دا ډوډۍ دې هم که له دې ځای نه درسره ورکه کړه، ځومره به ښه شي، که څه هم

د انجینر مطلب خو دا و، چې ګواکي درسر یوېي سه، لکه له دفتر نه دې چې یوړه، د ځان لپاره يې دې خرڅه کړه، خو د خپل انسانیت له مخې يې ترڅو خجالت مې نکړي خبرې ته يې بل رنګ ورکړ.

خدایي چې شي، زه هم ورته خوشحاله شوم، ډېره ډوډۍ وه، زړه کې مې وېل:

شېر، اوه سوه افغانۍ کېږي، خو ده ته مې عادي ووېل:

-سمه ده!

نور مې په خپل کار پیل وکړه، برنډې ته مې د ابو پایپ ونیولو، انجینر يې څو دقیقې د کور داخل کې ورک و، پس له څو د قیقو په عجله راووتلو، موټر ته يې وختلو لاړ.

یو، یونیم ساعت وروسته زما برنډې هم پاکې شوې، پایپونه مایپونه مې خپل ځای ته ورټول کړل، د وچې ډوډۍ په ګونۍ کولو مې پیل وکړه، ډوډۍ زیاته وه، د ګونۍ تر ډکېدو وروسته مې د اوږې دسمال ورته وغوړاوه، دا باقي مې په دې کې پنډوکی

کړه، د پیڅکو په غوټه (ګنډه) کولو یې اخته وم، همدې وخت کې مې د سترګو له کونجونو پاس په برنډه د یوې ښځې څېره تر سترګو شوه، په داسې حال کې چې زما په لور را روانه و، نور مې سترګې ور پورته نکړې، چې زړه یې که څوانه؟ حتا بېخي مې ځان پرې پوه نکړ، چې ګواکې زه دې وینم، ښځه راغله، راغله زما حد ته په رارسېده سره یې جوړه لاسونه د برنډې په پنجره کېښودل، په سیل مې ودرېده، ما لا هم ځان ناګومانه پرې اچولی و، په خپل کار لګیا وم، د پنډوکي تر ګنډه کولو وروسته مې ګونی ته شاه ووهله راجګه مې کړه، غوښتل مې چې پنډوکی لاس کې راسره واخلم، نور همدسې له راووځم، خو څنګ مې چې پنډوکي ته لاس کړ، په برنډه ولاړې ښځې یو قسم په حیرانونکې او تعجب لهجه کړل:

-اکبر نه یې؟

فکر کړم د پاس منزل له کړکیو نه یې شک راباندې کړی و، په حیرانتیا مې سترګې ورپورته کړې، لکه تازه د واده په تخت ولاړه سنګار ناوې، په ډېرو ښایسته او نویو جامو کې خورا ښکلې او جذابه نجلی ولاړه وه، په پاکو پاکو چلاکه سترګو او د اننګې له پاسه د ویښتو په لام مې فوراً وپېژنده، چې مرواء ده. عین حال کې مې هغه لیدلی خوب ذهن ته راغی چې مرواء مې سیلاب ته پکې وغوځوله، چون د سیلاب منځ کې چې د ښکلې ځوان سره په تخت ناسته وه، ګټ مټ همداسې سنګار یې کړی و او همدغه اوسنۍ جامې یې په تن وې، عیني ښکلا یې پنځوله او ورسره پیوسته دا خبره هم ذهن ته راغله چې اووووو هغه ځوان خو همدا انجینر و، چې له مرواء سره د سیلاب منځ کې په ګل پوش کړي تخت کې ناست و، ځکه شناخته، شناخته راته ښکارېده .

خو په هر ترتیب، څنګه مې چې وپېژندله پرته له دې چې د خبرې ځواب يې ورکړم، په شاه کړې ګونۍ مې واپس ښکته په شاه وښويوله، قدم مې وروا خيست په داسې حال کې چې مرواء مې د سينې په اندازه جګه د برنډې په څنډه ولاړه وه، نژدې ورغلم، د پنجرې له دې خوا مې يې پښو ته د سر په ټيټولو سره کړل:

-ما وبښه د خدای ج په لحاظ، همدومره سزا مې بس ده، په کوم حال مې چې وينې او څه چې په ما تېر شول، يو الله ج وليدل، دا هر څه ستا له آزار پرته نور هېڅ نه دي!

مرواء د يو قدم په اندازه شا ته تلو سره وېل:

-پورته شه پښو ته مه ټيټېږه، آسمان به راپرېوځي، کني رښتيا که څه هم ما به آزار نه کاوه، خو تر زړه مې غيرې ارادي سوي آهونه درپسې وتل، مګر دومره خوار مې هم نه غوښتې لکه وينم دې چې، اما ځار د خدای ج تر خدايۍ!

له دې خبرې وروسته يې دواړه لاسونه ورجګ کړل، يو زېړ ځينځير چې غټ لړم غوندې ګل هم پسې زنګېده له خپلې غاړې يې راخلاص کړ، پسې زياته يې کړه:

-امممم دا واخله، ولاړ شه خرڅ يې کړه، لمړی يوې سلمانۍ ته ننوځه دا ويښتان او ګيره دې جوړ کړه، بيا يو ښه صحيح حمام وکړه؛ له هغه وروسته يوه جوړه موسمي څپلۍ او جمفر واخله، همداسې تر څو چې پرې کېدل، وغيره ضرورتونه دې پوره کړه، نور به بيا غږېږو!

-نه، نه، ځینځیر دې نه اخلم، صرف یو ځل د زړه له خلاصه ښنه راته وکړه، خیر دی!

په جدي انداز یې راغبرګه کړه:

-امممم واخله لمړی دې دا کارونه وکړه، بیا که له ما نه ښنه غوښتل ربښتیا دومره درته مهمه وي، سبا راشه!

ګوتې مې ورتېرې کړې ځنځیر مې راواخیست جیب ته مې واچاوه، واپس پرې راوګرځېدم، د پنډوکي د غوټې په سپړلو مې پیل وکړه؛ زړه مې و له دسمال نه مې ډوډۍ خالي کړم، په اوږه یې راواچوم، خو مرواء بیا کړل:

-پرېږده یې ځه، دسمال هم بل واخله!

ددې خبرې په آورېده سره مې نرم لاس ترې راټول کړل، په ملا نیغ شوم، غلي مې وویل:

-د خدای پامان!

-خدای دې مل شه!

د لاسونو لړزې، ژبې بندېده او ځینې نورو بې واکه غېر نورمال حرکاتو ته په کتو مې یې زیاته کړه:

-سبا حتماً راشه، شرمېږه مه، خیر له انسان نه اشتباهات کېږي!

خدایي چې شي دې خبرې یې اوچت راتیکه کړم، سر مې وښوراوه، چې ګواکي سمه ده، نور ترې را روان شوم، له دروازې نه د راوتلو په مهال مې د سترګو تر څنګ لږ ور وکتل، مرواء لا هم په خپل ځای حیرانه، بریانه راپسې ولاړه وه. عمومي سرک ته تر رارسېدو وروسته د کوټسنګي موټر کې راسپور شوم، د مرواء لیدلو مې دعجیبې غریبې کیسې په حیث ذهن اشغال کړی و، دا هم په هر حال هغه کالونه مخکني لیدلي خوب ته مې بېخی عجیب وم، چې مرواء او خاوند یې انجینر عیني شان ښکلي، خوشحاله او همدغو لباسو کې د سېلاب د مستو څپو په سر د تخت له پاسه جوړه په کوچ ناست و، انجینر مې هم چې لمړی ځل د حمام له منځ نه ولیده، څنګه مې چې خوب کې لیدی و، کټ مټ سپین کالي تور واسکټ، همداسې ښکلي ویښته عیني خوند یې ورسره کاوه.

له دې سره جوخت مې دې ته هم راپام شو چې: اووووو هغه پرون د انجینر ماشوم زوی ته په کتو مې چې حواسو عشقي هواوې کولې دې کې خو د مرواء رنګ و.

په همدې فکرونو کې ډوب وم چې کلینډر غږ وکړ:

-بیایي بخیر تا شوي!

چې سترګې مې وغړولې کوټسنګي ته رارسېدلي و، له موټر نه ښکته شوم، د مرواء د خبرې مطابق لمړی طلا فروشی ته ورننوتم، ځینځیر مې چې له جیب نه راویست، یو قسم خوندوره د مرواء د بدن خوشبوي ترې جګه شوه، زر مې په موټې کې راټول کړ، د څو لحظو لپاره مې په خپلو شونډو تخته ونیوه، وروسته مې زرګر ته ورکړ، بالاخره په اووه دېرش زره ( ۳۷۰۰۰ ) افغانۍ مې پرې وپلوره. که څه هم ته وا خپل

ټول عزت او ابرو مې پلورل کړل، يو قسم د بې غيرتۍ او خجالت احساس مې کاوه، خو هغه متل دی چې: مجبوري يا نستي دې خدای ج په بوټي نه راولي.

مرګی خو ښه دی پرده پوښ دی

بده نستي ده ښه ځوانان بدرنګه وينه

خلاصه د ځنځير تر پلورلو وروسته بيا هم د مرواء له خبرې سره سم، لمړی سلمانۍ ته ولاړم، ويښتان او ګيره مې هغه د محصيلۍ د دورې غوندې ښه په طبيعت جوړ کړل، بيا مې حمام وکړ، وروسته مارکېټ ته ننوتلم، څو جوړه ښه ښايسته ورځنی موډ لباسونه مې راونيول، چې حساب مې وکړ، ټول ټال پنځلس زره (۱۵۰۰۰) افغانۍ مې مصرف کړې وې، له باقي پيسو مې درې زره (۳۰۰۰) نورې هم رابېلې کړې، د کور لپاره مې لږ غوښه، ميوه او څه نوره سودا واخيسته، د ماښام ساه په ختو وه، ناوخته کور ته ورسېدم، مور او خويندې مې د خوشحالۍ تر ځنګ، پس له ډېره وخته ناڅاپه په پخواني سټايل د ګيرې او وېښتو جوړولو ته تعجب وې او ورسره ددې دومره خرچو د پيسو د منبع ورښودو په پار مې خولې ته غوږ په آواز وې. ما هم ډېرې انتظار ته ورنکړې، ولې بيا هم لمړی مې جيب ته لاس کړ، پاتې نولس زره (۱۹۰۰۰) افغانۍ مې راويستلې، د مور او خويندو تر مخ مې کېښودې، کړل مې:

-اممم دا پيسې واخلئ لباسونه يې کوئ؟ چکرې پرې وهئ؟ کومو خوارو ته مو زړه کېږي، پرې اخلئ يئ؟ مقصد هر څنګ مو چې طبيعت وي، هغه شان يې مصرف کړئ، خاص ستاسو لپاره خدای ج راکړې، ډاډه يې ولګوئ، پاکې صفا حلالې پيسې دي، اينده کې هم هېڅ ستونزه نه لري، نه مې له چا غلا کړې، نه مې قرض کړې، نور مه پسې ګرځئ.

که څه هم مستقیماً مې ورته ونه وېل چې له کومه مې کړې؟ خو خیر دې یوسي، نور دوی هم پسې ونه ګرځېدې، باوري شوې چې له کومې خرابې لارې یې نه دي پیدا کړې، په تندیو یې خوښې خوره شوه.

مور مې مدینې ته سترګې ورواړولې، په موسکا سره یې کړل:

-سهار مې درته ونه وېل، چې پیسه دار کېږو، بېګاه مې مرداریٔ په خوب لیده؟

ددې خبرې په کولو سره ټولو یوه خوله ګډ وخندل.

خو په هر راز ترڅو خبرې زیاتې نشي، نور له کورني مجلس تېرېږم، لنډو وایم شپه تېره شوه، سهار له چای خوړلو وروسته مې په نویو لباسونو کې تر ټولو ښکلی لباس واغوست، ویېنته مې غوړ کړل، نور نو له مرواء سره د کړې وعدې له مخې ور روان شوم.

اګر چې نظر پرونیٔ زما پوډري ډوله څېرې او نن ددې د غاړې د ځینځیر پلورلو په پیسو له ځانه شازاده ورجوړولو او همداسې د پخوانیٔ ورسره کړې ناځوانی له کبله مخ ته په ورتلو یې او سترګې په سترګو ورلګولو یې له شرمه ترې ولې ولې کېدم هم.

خو څنګه کړې؟ که نه ورتللی هم نه کېده، بالاخره کارته پروان ته په رسېدو سره، د دویٔ د کوڅې خوله کې ساتونکو عسکرو ودروم کړل یې:

-چېرته ځې؟

-د انجینر ایجاز کور ته ځم!

پولس موبایل راویست، زنګ یې ورته وواهه، زما نوم او نښې یې ورته ووېلې، بیا یې د انجینر په غوښتنه ګوشي ماته راکړه، تر سلام علیک وروسته یې ووېل:

-چېرې روان شوی یې؟

ځواب رانه ورک شو، حیران بریان خاموش ولاړ وم، زړه کې مې وېل: که ورته ووایم چې مرواء ورغوښتی یم، هسې نه بده پرې ولګېږي، چې ګویا له مرواء سره دې څه کار دی؟ شېبه وروسته چې لا مې هم ځواب نه و ورکړی، په له لاسه ورکړو روحیاتو او رانه ځواب ورکي حالت مې پوه شو، ویې خندل کړل یې:

-ګوشي قومندان ته ورکړه!

موبایل مې همغه شان په پټه خوله واپس عسکر ته ونیولو، انجینر زما د پرېښوده ورته ووېل، فکر کړم بېګا شپه مرواء کیسه ورته کړې وه او د بیا ورغوښتلو مې یې هم ورته ویلي و.

خو هر څه چې و، مقصد عسکرو مخه راکړه، دروازې ته له رسېدو سره سم مې د دروازې د زنګ په بټنه ګوته تخته کړه، دروازه ساتونکي بابه دروازه خلاصه کړه، که څه هم، څه یې د پرونۍ لیدنې له مخې پېژندم، ولې بیا هم ځان مې ورته معرفي کړ، د کور داخل ته دتلو مې ورته ووېل، بابه لیني ګوشي راجګه کړه، زنګ یې وواهه، زما د نوم په اخیستو سره مې یې کور ته  د ورتلو ورته ووېل، له هغه خوا ځواب مثبت و، بابه لار راکړه، مخکې له دې چې تعمیر ته ور ورسېږم، مرواء د تعمیر له برنډې په زینو کې میده میده حویلۍ ته راښکته شوه، همدلته سره مخامخ

شو، د درى څلور متره فاصيلې په لرلو سره مې سلام ورواچاوه، په ټيټ آواز يې د سلام له جواب راكولو سره، د سترګو او وروځو په اشاره چپ لاس ته چمن کې اېښنو ميزونو او چوکيو ته اشاره وکړه، ورتاو شوم، خو قدم مې ونيولو، دا مې تر مخ کړه، چمن ته په داخلېدو سره مرواء همدا د مخې مېز کې کېناسته، زه وړاندې دويم مېز ته تېر شوم، تقريباً د يو نيم متر اندازې په لرې والي سره مخامخ ورته کيناستم، همدې وخت کې فکر کړم انجينر زنګ ورته وواهه؛ چون دې ورته وېل: هو راوسېده، دلته راسره ناست دى، نور خدايزده هغو څه ورته وېل، غږ مې يې نه آورېده، خو دا ورته موسکه موسکه کېده.

د تليفون له قطعه کېدو سره سم يې ما ته مخ راواړاوه، په غوسه رنګې لهجه يې کړل:

-ما فکر کاوه، چې تر دې وروسته به ټول کارت پروان ته له شرمه رانشې، دلته خو

لا څه کوې، اما داسې ښکاري چې د شرم او حيا په نوم هېڅ نه پېژني، ايا ته په کومو سترګو له ما نه د ښښنې هيله کوې؟ ستا خو هغه مسلماني او ترحم و، چې زما په وړاندې دې کار ترې واخيست، په داسې حال کې چې زما لمړى خداى ج ته هيله و، بيا تاته، مګر تا زما د هيلې برعکس زه د مرګ اخيري سلګۍ په خوله دې خوا راولېږم، ددک مې له جګرخون نه دريمه ورځ سکته وکړه، د کور ځړي ځړوکي مو کاکا چور کړل، بالاخره په ضرب دې څو ورځو کې مو سر، ملک او مال ټول ستا له لاسه ورک شول او نن بيا په ټوله سپين سترګۍ سره راغلى يې ښښنه غواړې؟

ددې خبرې په کولو سره يې ته وا د دوزخ سره اور کې غوپه راکړه، له وېښته وېښته مې خولې وبښولې، ورغبرګه مې کړه:

-رښتیا هم لعنت دې په ما شي، ستا خبره بلکل سمه ده، واقعاً زه د دومره ظلم په کولو سره چې ستا او خپل ځان په وړاندې مې کړی، هېڅکله د ښښنې لایق نه یم، پرېږده چې حال مې تر دې بدتر شي، له راجګېدو سره مې ورته کړل خدای ج پامان لاړم!

هممهال دا هم اچت جګه شوه لار یې ونیوه، په یوه ساه یې کړل:

-نه، نه، ته کینه، ته کینه ولاړ به شې، یو لحظه!...

لا هم څو شېبې ولاړ وم، ددې تر څه نور ټینګار وروسته واپس نرم په خپله چوکۍ کېناستم، مرواء په موسکاه سره زیاته کړه:

-وېرولې مې خو دومره هم نه، فکر کړم زیاتی مې وکړ، په ښښنې سره، که څه هم واقعاً ډېره دردېدلې وم، ولې داسې حال مې هم نه درباندې لورېده، لکه پرون مې چې د ځنګلي په شان ببر سر، ګیره، چټلې زړې جامې او ګازي چپلکې په پښو ولیدې، هغه هم په داسې حال کې چې زما د کور وچې ډوډۍ دې ټولولې. بناءً نور به په هغه خبرو ځکه دروند کانې کېږدو، چې خدای ج په کاپي اندازه زما غچ درنه اخیستی، طبعاً خاله به هم په خپله سزا رسېدلې وي؟ زړه کې مې وېل: (چې بیچاره خو په مسجدونو کې د ډوډۍ لپار سوال وکړ نور به نو سزا څنګه وي؟) د مراوء خبرو دوام لاره کړل یې: زما لپاره یې په مقابل کې همدومره اجر بس دی چې د ټول اشرف المخلوقات شریف انسان ایجاز یې راپه برخه کړ، قربان د الله ج تر عدالت او مهربانۍ.

له سپک ټوخي وروسته یې پسې زیاته کړه:

راځم اصلي خبرې ته مې، څنګه چې اوس ته د خپل غرور او زياتي په ډېره مناسبه سزا رسېدلی يې او ماته د خپل صبر او مظلوميت پوره پوره او له پوره نه هم زيات اجر راکړل شوی. لهذا نور ځان ته دا حق نه ورکوم چې په وړاندې دې د هغه بد يادونه وکړم. نن مې يوازې ددې لپاره راغوښتی يې څنګه چې له دې وروستۍ پېښې هاخوا موږ او تاسو ډېر عمر داسې ګاونډيتوب کړی، لکه د يوه فاميل خلک او تر څنګ يې ته خو ان له ماشومتوبه زما له خوی سره اشنا يې، چې د چا بد ډېر زر له ياده اباسمه، اما نيکي او احسان يې هېڅکله نشم هېرولی، پس د خاله، مدينې او فرېښتې، خاصتاً ستا راسره کړې نيکۍ مې هم له ياده نه دي وتلې، ووايه عوض کې مو يې نن څه ډول لاس نيوی وکړم؟

-يوازې او يوازې يوه ښه د زړه له خلاصه ښښنه راته وکړه او بس! ځکه چې زه لا هم ستا په وړاندې د کړي غرور او زياتي په درنه سزا کړېږم، که ښښه راته ونکړې، ممکن زما د ژوند تر اخيره دوام وکړي.

په خندا شوه بيا يې کړل:

-څنګه دي خاله، مدينه، فرېښته دوئ، هو ربښتيا د ملګرې نوم دې څه دی؟ څنګه ده؟

-الحمدالله ښه دي!

تکرار يې ووېل:

-ملګرې دې څه نومېږي؟

-ملګرې پسې مه ګرځه، پرېږده يې!

-څنګه؟

مخکې له دې چې ځواب ورکړم، يوې چاغې تقريباً دېرش کلنې ښځې چاى راوړه، د ميوه دانۍ په يوه خانه کې ډېرې ښې سمبوسې ايښې وې، له دې نيکمرغو سره زما ان له وړوکتوبه ډېره جوړه ده، که څه هم دلته يې د خوړلو موډ کې نه وم، خو هسې مې يې په ليدو سترګې خوږې شوې، ښځې مو چاى تر مخ کېښود دا ولاړه، له لباس نه يې پوه شوم، چې آشپزه ده، په چاى څښلو مو پيل وکړ؛ په دې وخت کې يې بيا راپام شو کړل يې:

-د ملګرې خبره دې پرېښوده!

-رښتيا درته ووايم؟

-هو خود!

کيسه مې ورته شروع کړه، دا مې ټول ورته ووېل چې عاشق يې مزار ته راغی، عکسونه يې راوړي و، بالاخره ور پرې مې ښوده، وروسته له يوه کال نجلۍ بيا زنګ راته وکړ، عاشق يې مړ شوی و، کړل يې: زه غواړم واپس ستاسره واده وکړم، خو ما ځواب ورکړ، که څه هم ډېرې زارئ يې وکړې، اوس هم وخت ناوخت پيغامونه کوي ځان نه پرې پوهوم! په موسکا سره يې راغبرګه کړه:

-لېونی شوی نه يې؟ دا څه وايې؟

-که يي نه منې؟ صبر چې پيغامونه يې درته وښايم!

په همدې سره مې جيب ته لاس کړ، موبايل مې راويست، لمړی مې هغه اولیني لوی، لوی متني پيغامونه د صفحه سر ته ورته راوستل موبايل مې ورکړ، د پيغام په لوستلو يې پيل وکړ، خدايزده تر کوم ځايه به يې لوستي و، چې سترګې يې راډکې شوې، د ټيکري څنډه يې ورجګه کړه، اوښکې يې وچې کړې، بيا يې په لوستو پيل وکړ، شېبه وروسته يې کړل:

ـ ما ته مې يې هغه خپلې خبرې راياد کړې، مزار ته مې چې زنګ دروهلی وه او مسبج مې دروااستاوه، ياد دې دي؟

ددې خبرې په کولو سره ئې يو ځل بيا خوله کې لاړې را وچې کړې، ځواب رانه ورک شو، لمړی مې سر ښکته واچاوه، زر بيا دا خبره ذهن ته راغله:

-نه تا خو همغه يوه ورځ ووېل او بس، دا داسې شله انسان دی، ته صبر چې زه يې

وتساف ته را استولي صفتي پيغامونه درته وښايم!

زر زر واتساف ته ولاړم، د صدف صفحه مې را وسپړله، له وروستيو را استولو پنځو پيامونو مې يې لمړی پيغام پلې کړ، پکې ژړل يې زارئ يې کولې، بيا مې بل پلې کړ، وېلي يې و:

-د خدای ج په لحاظ، د قران په لحاظ غږ مې واوره!

دریم پیغام مې پلې کړ: په دې کې یې هم په چیغو چیغو ژړل همداسې عذر، زارۍ یې کړې وې، له دریم وروسته مې په صفحه زر زر له پورته نه ښکته ګوته کش کړه ومې ویل:

-دا سلګونه پیغامونه ټول ددې دي، ټولو کې یې همدا یوه غوښتنه کړې!

نور مې لاس راټول کړ، د واټساف له صفحې ووتلم، موبایل مې د مېز په سر تر مخ کېښود.

مرواء یوه لحظه په تعجب او حیران انداز راته وکتل، وروسته له یوې لوې ساه اخیستو یې کړل:

-هغه پوهنتون دې ځنګه کړ، ودې وېلو، کنه؟

-هو پوهنتون مې ووېلو، اسناد مې یې واخیستل!

-بیا نو ولې د خلکو له کورونو وچه ډوډۍ ټولوې، یا یې صفاکارۍ کوې؟

-بس نصیب دی، کني د پوهنتون علاوه د خپل مسلک مربوط ډېر وخت مې قیمت بها کورسونه ووېل، انګلسي او کمپیتر مې ښه سم زده کړل او داسې هم نه ده چې زه دنده پسې نه یم تاو شوی، باور وکړه پښې مې پسې تناکې شوې، داسې لویه او کوچنۍ اداره به نه وي، چې ما مې سېویګانې، نه وي ورسولې یا مې امتحان نه وي ورکړی!

-پوهېږې دا ټول د صدف آزار دی؟ هغه بېچاره سلګونه متني او صفتي پيغامونه درته استولي په چيغو چيغو يې پکې ژړلي، ولې تا ظالم بيا هم ...

نور يې څه ونه ويل خبره يې په همدې ځای نيمګړې پرېښوده، ما ورغبرګه کړه:

-نه، نه، دا چې ستا خبره نن راغلی يم په ټوله سپين سترګی دې مخ کې ناست يم، بښنه غواړم، آزار يوازې ستا دی او که مې ونه بښې کېدی شي يوه ورځ زهر راباندې وخوري، له صدف مدف سره ما کوم ظلم نه دی کړی!

-ايا دا ظلم نه ګڼې، چې يو انسان دې چاته دومره وژاړي عذر او زاری دې وکړي او هغه دې ځان نه پرې هوپوي؟

ځواب کې مې کړل:

-ښا نو ته دا مناسب ګڼې چې زه دې ددې نجلۍ سره واده وکړم، په داسې حال کې چې عاشق مې يې په خپلو سترګو وليده او خپله صدف هم راته وويل چې کالونه کالونه مې مينه ورسره کړې، ستره بې غيرتي به نه وي؟

-اممم ته چې دومره ننګ يالی او غيرتي يې، بيا دې له ما ولې مچو اخيسته، ايا داسې دې نه ويل چې دا به د چا لور وي، اينده کې به د يو چا ناموس وي، که نه دا غيرت دې يوازې د خپل ځان لپاره خوښېږي؟

افففف خبره نه وه، ته وا سره تناره کې يې غوپه کړم، تر ټول وجود مې ګرم تاو جګ شو، حيران بريان شوم چې څه ووايم، زر زر مې بانه رپول څو يو ځواب را زده

کړم، خو له بده مرغه د ویلو لپاره هېڅ هم ذهن ته رانغلل، همداسې څوړ سر خاموش پاتې شوم.

زما له ځواب نه ورمعلومېدو وروسته مرواء بیا کړل:

-لکه څنګه چې وایې، که رښتیا له ما ښښنه غوښتل همدومره درته مهمه وي، نو قسم ده، تر څو دې دا غرور له رګونه نه وي وتلی، که مې ښښلی وې، حال دې تر دې بدتر غواړم!

-یعني صدف سره واده وکړم همداسې وایې؟

-صد فیصد، خو په دې شرط، ته یې نمبر راکړه، یو ځل زه ورسره غږېږم، که اوس هم جدي وه، خبرو کې یې اخلاص و او لکه څنګه یې چې مسېج کې لیکلي خپل پېغلتوب یې ساتلی و، صرف لفظي مینه یې کړې وه.

که څه هم ډېرې بهانې چونې مې وکړې، خو مرواء په همدې یوه خبره ټینګار کاوه، بالاخره و مې وېل:

-سمده، لېکن د اوس لپاره زموږ وضعیت ته په کتو، واده کولو ته نشم آماده کېدلی، کله مې یې چې وس پیدا کړ، بیا زه درته وایم.

اما دې خبرې مې هم آنتن ورنکړ، وېل یې:

-ځه له مصارفو نه یې ته خلاص یې، هر څومره لګښت چې پرې راځي زه یې په غاړه اخلم، ددې سربېره ایجاز ته وایم چې سر له سبا یوه ښه دنده هم درته پیدا کړي!

مخکې له دې چې زه څه ووایم، سم د لاسه یې ایجاز ته زنګ وواهه، له لمړي سلام کلام وروسته یې د ټوکې په انداز ورته کړل:

-افغف ته څومره ظالم سړی وختلې؟

د موبایل غږ یې لوړ و، ایجاز له هغه خوا په خندا ورته وېل؟

-څه شوي، له ما بیچاره بیا څه کفر شوې؟

-ته وګوره اکبر دولس کاله لیسه وېلې، څلور کاله یې پوهنتون وېلی، ددې سره سره څومره کورسونه یې ویلي، انګلسي او کمپیتر یې زده دي او ته صفاکاري پرې کوې؟

ایجاز ور غبرګه کړه:

-دا خو رښتیا هم ظلم دی، اما ګناه خپله ستاسو ده، چې تر دې دمه مو حتا دا هم نه و، وېلي چې موږ کلیوال یا دېوال په دېوال ګونډیان یو، خو ځه ښه شوه چې اوس مو هم ووېل، کني ما به تر څو فکر کاوه، چې اکبر ډم دی، ځکه ما خو له حمام نه راوستلو، د حمامونو کار او بار خو...

تر څو یې خبره بشپړوله، دواړه موبایل کې په خندا شول، زه لکه تور او بدنام غلی دې خوا ناست وم، تر یوه ښه شیبه خندا وروسته مراوء ورته کړل:

-دغه دي اوس خو مو خبر کړې، معلوم شي چې سبا يوه ښه دنده ورته پيداکړې!

-حتماً انشاءالله، که نور نه وي، خپله چوکۍ خو مې شته، چې ورته ويې سپارم، ستا له لانجې ځان وژغورم!

دلته يو ځل بيا دواړه په خندا شول، همدې خندا خندا کې مرواء ورغبرګه کړه:

-ځه خدای ج دې مل شه، د موبايل غږ جګ دی، اکبر دې هم خبرې آوري!

نور يې تماس سره قطعه کړ، ماته يې سترګې راوړولې:

-دا دي ايجاز به سبا پخير دنده هم درته پيداکړي، راکړه اوس د صدف نمبر!

نور به مې نو څه ويلي و؟ سر مې ښکته واچاوه، په موبايل اخته شوم، شمېره مې يې ورکړه، بيا يې کړل:

-خپله شمېره دې هم راکړه، چې څه کېږي؟ زه بيا زنګ درته کوم!

زما د شمېره تر نيولو وروسته يې وېل:

-مننه، چې خبره مې دې ومنله، که دې نه وی منلې، يقين وکړه، ددې نجلۍ له آزاره به نور هم په بدبختو بدبخته کېدلې، په ما تېر دي، ددې نجلۍ درد درک کوم، پسې زياته يې کړه له دې وروسته نه يوازې دا چې ما ښنلی يې، بلکې دعا به هم درته کوم.

-مننه ژوندۍ اوسې همداسې تا دې هم الله ج نه خپه کوي، چې زما په واړه بدو دې

سترګې پټې کړې، ببننه دې وکړه!

ساعت ته مې وکتل، پنځلس پاتې وې یولسوته، کړل مې:

-که اجازه وي نور زه ځم، شمېره خو مې درکړه، که څه خدمت و، زنګ کوه!

-کینه ډوډۍ وخوره زموږ آشپزې لکه چې نن د مکرونیو تصمیم درلود!

-خیر یوسې، د ډوډۍ اشتیا نه لرم!

له همدې خبرې سره راجګ شوم، نور مې د خدای پامانۍ ترې راخیستو سره مرواء په خپله چوکۍ کې ولاړه پرېښوده، زه راروان شوم، له عمومي سرک نه د کوتسنګي په موټرو کې راوختلم، د سیلو په ساحه کې مې موبایل ته زنګ راغی، چې اوکې مې کړ سلام علیک مو وکړو، په فارسي یې کړل:

-برادر! از وزارت زراعت زنګ زدم، شما که به بست سوم امتحان داده بودي،

تبرکي ایشان میګم کامیاب شدي، سر از روز شنبه بیایي!

ددې خبرې سره فوراً ذهن کې راتېره شوه: منه ټول د مرواء ازار و، وګوره څنګه یې چې ببننه راته وکړه، دغه دي دا کفار مې هم په مخ مهربانه شول، په داسې حال کې چې نوموړی امتحان مې تقریباً یونیم کال، لا تر دې هم زیات وخت مخکې ورکړی و، اوس مې بېخي له یاده وتلی و.

خو په هر راز فکر مې وکړ، چې د شنبې تر ورځې خو دوې درې شپې وخت شته، که انجینر په دې دوو دریو شپو کې له دې نه په کومه بله ښه دنده ونه ګمارم، هرو مرو به همدې ته ورځم، کلینډر غړ وکړ:

-بیایی بخیر استادگاه اخیر است !

موټر نه راښکته شوم، له کوټسنګي نه دارالمان ته ولاړم، ترڅو واپس راتللم، ورځ تېره شوه، ماښام د کلا واحد په خامه چټله کوڅه کې د کور په لور روان وم، چې جیب کې مې د موبایل کړنګار شو، را ومې ایستلو له یو ناشناخته هغه هم خارجي غوندې نمبر نه زنګ و، چې اوکې مې کړ، مرواء وه، له جوړ پخیر وروسته یې کړل:

-د صدف سره وغږېدم، ویدیویي زنګ مې ورته کړی و، ډېره ښایسته او هوښیاره نجلۍ وه، پیغامونو کې یې چې څه ویلي و، د زړه له تله یې وېلي دي، ډېرې کیسې مو وکړې، بالاخره ددې میاشتې تر اخیره د واده لپاره د ځان تیاري مې یې ورته وویل!

-نه دومره زر هم نه، تر مني نه کېږي!

-ته اوس کیسې مه پکې لټوه او مه دې ځان ته په غوره کې کېږه، دا نجلۍ په تا نه وه مئینه، ته یې له سره لیدلی نه وې، غیرې مستقیم د بل چا له خولې یې دې د ښه خوی او با احساسی آورېدلي، خصوصاً له هغې خبرې دې ډېره متاثره شوې وه، چې پرته له کوم شور او شره دې هغه بل هلک ته ویلي و: ( تاته دې مبارک وي ) مقصد د خپل ښکلي احساس له مخې یې انتخاب کړی وې، دا طلایي چانس له لاسه مه

ورکوه، کني که په داسې حال يې وليدې لکه هغه ورځ چې ما وليدې، صدف خو پرېږده، منه که شاوګله انا هم زړه درته ښه کړي، ولو که له اخلاقو دې سيندونه هم وبهېږ...

نور خندا واخستله خبره همدلته ترې پاتې شوه، يوه شېبه وروسته يې ځان کابو کړ، پسې زياته يې کړه: زما هم صرف په دې نجلۍ زړه وسوځېده، پيغامونه يې ډېر دردونکي و، کني نور...

خبره يې بيا هم نيمګړې پرېښوده، له کاذب ټوخي او لوې ساه اخيستلو وروسته يې کړل:

-څنګه دې خوښه ده؟

څه به مې وېلي و؟ په غلي غږ مې ورغبرګه کړه:

-ښا صحيح ده، ځه نو توکل په خدای ج!

-آفرين! پس داسې وکړه، کله دې چې وخت پيداکړ، يو چکر دېخوا راشه، زه به يو ځو پيسې درکړم، کور ته يې يوسه، تر هغو به مدينه دوئ، لږ ځانونو پرې برابرې کړي، ځه نور دې په خدای ج سپارم ښه شپه!

-مننه ته هم ښه شپه ولرې، خدای ج پامان!

موبایل قطعه شوه، نور نو کور ته هم رسېدلی وم، دروازه مې ټک ټک کړه، فرېښتې رامنډه کړل، د دروازې خلاصولو سرېږه خلته مې يې هم له لاس نه وخيسته، په حويلی کې مې له مور سره هم وليدل، د مدينې په آشپزخانه کې کړپ او کړوپ و.

د شپه له تېرېدو وروسته، سهار بيا د دفتر په لور روان شوم، که څه هم ناوخته شوه، تقريباً لس بجې وې چې ورسېدم، دفتر له مېلمانو ډک و، پس له غرمې مېلمانه چې ولاړل، د تعمير مخ کې رحمت ګل د تاق بورۍ کچې پرې رااخيستې وه، د ګلانو سرۍ يې اصلح کولې، زه هسې ورته ولاړ وم، مجلس مو سره کاوه، چې انجينر راووتلو موسکا يې په شونډو خوره وه، که څه هم تل به همداسې موسکی و، خو دلته يې په ما تاثير وکړو، چون داسې راته ښکاره شوه، لکه زما سټايلي سر او په فرانسوي موډ ګيرې جوړولو؛ نويو پاکو جامو، بوټونو يعني يو دم د شاهی مرتبې ته ختلو چې خندا وروستلې وي، خو په هر حال سټړي مشي مو وکړه، د خپلې موسکا په ساتلو سره يې کړل:

-پرون دې کليوالې د پوهنتون خبره وکړه، ټوکې يې وهلې که رښتيا وايې؟

-هوو انجينر صيب! د مزار پوهنتون کمپيوټر ساينس له څانګې فارغ يم!

-ظالمه! نو ته خو بيا پوره سړی يې، ولې دې مخکې نه وېل؟

-سر مې کوږ کړ، په خوله مې غږ ورته ونکړ، زړه کې مې وېل: دندو پسې هم ډېر وګرځېدم، خو دې وطن کې چې د رشوت ورکولو پيسې يا واسطه ونه لرې، منه چې له خولې دې اور باد شي که دې څوک په دنده وګماري، زه هم په خپله تعليم وغولېدم،

هسې میاشتې میاشتې په دنده پیداکولو پسې بې کاره شوم؛ کني لمړی مې چې په دې مزدوریو شروع کړې وی، داسې سختې شپې ورځې به ولې رابانديې تېرېدې.

بیا یې په کمپیوټري پرګرامونو کې ځو علمي پوښتنې وکړې.

په ډېره چټکۍ مې ورځواب کړې.

ددې ځواب په ورکولو سره مې یې وېل:

-ماشاءالله، اووو سړیه! ته خو نابغه وختلې!

تر لاس یې ونیوم، د موټر په لور یې ورسره روان کړم پسې زیاته یې کړه:

-پوهېږې چې زه مې په رسمي دنده کې ستا په شان یوه مرستیال ته څومره اړتیا لرم؟ اما ته ناځوانه هېڅ ځان نه پوهوې!

بیا مې هم په موسکا سره تېره کړه، نور مې غږ ونکړ، اصلاً پوهېدم هم نه چې ټوکې کوي، که رښتیا وایي؟ خو خلاصه موټر ته وختلو، د دفتر د حویلۍ تر دروازه چې څنګه بهر شو، عمومي سرک ته له ورګډېدو سره سم یې موبایل ته زنګ راغی، له اوکې وروسته په لمړیو خبرو یې پوه شوم چې زنګ مرواء وهلی، که څه هم غږ مې یې نه اورېده، خو فکر کړم مرواء پوښتنه ترې وکړه چې څېرته یې، یا چېرته ځې؟ ځکه دده له ځواب نه داسې ښکارېده، په ټوکیز رنګ کې یې ورته کړل:

-امر دې په ځای کوم، اکبر راسره دی د وزارت طرف ته روان یو!

نه پوهېږم چې هغه په ځواب کې څه ورته ووېل، خو دواړو ښه وخندل، همدې خندا خندا کې يې تماس سره قطعه شو، شېبه وروسته نه پوهېږم، خبره له څه راياده شوه، خو انجينر په روغتون کې د مرواء د مندلو کيسه راوچوله، ويل يې :

بستر کې درى ورځې وروسته په هوش راغله، ولې حافظې يې لا هم کار نه کاوه، نه يې شوى ويلی چې د کوم ځاى يم، د چا لور يم، روغتون ته چا راوستلې يم؟ پنځمه ورځ له روغتون نه د خارجېدو په مهال چې لا يې هم پايواز نه و پيداشوى، زما مور دې الله ج وبښي ډېره مهربانه ښځه وه، له ځان سره يې زموږ کور ته راوستله، د خپلې لور په شان پالنه يې ترې وکړه، ددې د اړتيا وړ خواړه يې ورته تهيه کړل، ښکلې، ښکلې جامې او نور اوليه ضرورتونه يې ټول ورته برابر کړل، ددې سربېره له روغتون نه د خارجېدو په ورځ د ډاکترانو له توصيې سره سم، هره هفته به يې روغتون ته ور وستله، دوا به يې ورته تبديلوه، پس له شپږ مياشتې مسلسلې تداوئ يوه ورځ په داسې حال کې چې مازيګر و، حافظې يې کار وکړ، سم له لاسه يې په ژړا او زاريو پيل وکړ، په يوه ساه يې وېل، ما مې پلار ته ورسوئ، ما مې پلار ته ورسوئ، هغه ډېر سخت ناروغ دی، بل هېڅوک د خدمت نه لري، سره له دې چې دا پوښتنه يې هم لا نه وه کړې، چې دلته چا راوستلې يم، ولې يې راوستلې يم؟ څومره وخت مې وتلی؟ تاسو څوک ياست؟ نه صرف په همدې يوه خبره ټينګه وه، چې پلار ته مې ورسوئ، دا چې ناوخته وه، ماښام و، مور مې د شپې تر تېرېدو وروسته سهار وختي پلار ته يې د وروستلو وعده ورسره وکړه، ددې علاوه پوښتنه يې ترې وکړه:

-په دوستانو کې دې د چا شمېره ياد کې نشته ترڅو زنګ ورته وکړو، چې د پلار پوښتنه دې ترې وکړې يا خپله له پلار سره دې وغږېږې؟

که څه هم څو ځل یې یوه شمېره ووېله، اما غلطه به وه، ایله ماخستن وتوانیده چې صحیح یې رایاد کړي، شمېره یې د مشرې خور وه، کوئټې ته یې زنګ وواهه، خور ئې د مرواء د غږ په اورېده له ډېرې خوشحالۍ هلته په ژړا شوه.

بالاخره مرواء ته یې ووېل: تر څو همدغلته اوسه، سبا پخیر زه درځم. همدا و چې سبا ماښام یې خور د کابل ښار له لویدیځ برخې کمپنۍ نه زنګ وکړ، پسې ورغلم خاوند یې هم ورسره و، کور ته مې راوستل، له مرواء سره یې ولیدل، له مرواء نه د ښې پالنې په پار یې له موږ نه هم ډېره مننه وکړه، د شپې تر تېرېدو وروسته، د سهار په رارسېدو سره مرواء له دوئ هم زر تر زره ددک (پلار) ته ئې ددې د ورسولو په غوښتنه ټینګار کاوه، اخیر یې خور اړ کړه، د پلار له مړینې یې ورته ووېل او پسې زیاته یې کړه چې له موږ سره به پاکستان (کوئټې) ته ځې، دا چې ددې خبرې له کبله د مرواء وضعیت بیا ډېر خراب شو، اجازه مو ورنکړه، ترڅو نن ولاړ شي، د بلې شپې لپاره مو هم راپاتې کړل، د دویمې شپې په ماخوستن د مرواء خور زما مور ته د خپلې او خصوصاً مرواء د بې کسۍ کیسه کړې وه، دا چې مور مې یو خوا ډېره مهربانه او په زړه نازک ښځه وه، ښې ډېرې سلګۍ یې ورته کړې وې، بلخوا مرواء ددې شپږو میاشتو په لړ کې، زښته زیاته ورته ګرانه شوې وه، زړه یې نه پرې کېده، چې له کوره یې لاړه شي، دغه و چې په همدې دویمه شپه یې زما د مور د غوښتنې له مخې دواړو یعني مور مې او د مرواء مشرې خور، زما او مرواء پکې پوښتېدلو پرته مو یې د کوژدې موافقه سره کړې وه، کله چې زه او مرواء خبر شو، خدایزده چې د مرواء احساس به څه و؟ ولې چې واقعیت شي زه ډېر خوشحاله شوم، چون په جریان ددې شپږو میاشتو کې اګر چې لا هم سخته ناروغه وه، حافظه یې په بشپړ ډول کار پرېښې و، ولې بیا هم د ښکلې ځوانۍ او باانسانیته ناستې ولاړې سربېره په زړه او داخلې هواسو کې مې یې هم دریاب، دریاب مینه احساسوله، مګر لا هم زما د مور او مرواء د خور ترمنځ زموږ د کوژدې د موافقت د شپې په سبا

تقریباً یولس بجې وې له، شرکت نه کور ته راغلم، موټر مې حوېلۍ کې ودراوه، یوه اطاق، بل او بل ته مې سر ورلرې کړ، هېڅوک مې ونه لیدل، اشپزخانه کې کړپ او کړوپ و، په وره کې ور ودرېدم، چې مرواء په سلاټ جوړولو لګیاه و، د مور پوښتنه مې ترې وکړه وېل یې:

-هغه مې د خور سر پارک ته وتلې!

-ښا څه ښه یې کړي!

له همدې آرامې فضاء نه په استفاده مې پسې زیاته کړه :

-رښتیا بېګاه یې چې زما او ستا په باب کومه موافقه کړې ترې راضې یې؟

څو شیبې یې ځواب ته غوږ په آواز وم، اما هېڅ غږ یې ونکړو بیا مې ووېل:

-ګوره ته نجلۍ یې، په نجونو کې هم بیا هغه مظلومه بې وسه او بې کسه نجلۍ، که

خوښه دې نه وي، یوه ذره هم چاته اجازه نه ورکوم چې جبراً خپله اراده درباندې تحمیل کړي، ان تر دې چې که له ما سره واده کولو ته دې زړه نه وي؟ لکه تېرې شپږ میاشتې د تل لپاره د خور په صفت راسره اوسې هم د سر تورې سترګې مې یې او که بل چېرته دې خوشحالي وینې هم، زه ستا د رایه پلوي یم؟

نجلۍ اوښکلنې سترګې راواړولې، په پرې، پرې غږ یې کړل:

-خو زه یوه عیب لرم، دا که درنه پټه ومه طبعاً په وړاندې به دې ټول عمر ځان وجداً خجالت ملامت او یوه بده میرمن احساسوم!

او که وروسته له واده درته وایم، ممکن ته ووایې: چې ولې دې تر مخ نه ویل؟ هغه داسې دی چې ایا پوهېږې، ولې د داسې سخت عصبي شوک ښکار شوم؟ دا ځکه چې زموږ یو ګاونډی هلک و، که څه هم ځوانی کې دومره ښایسته نه و، ولې له ښو اخلاقو، او زموږ سره د زښته زیات احسان کولو له مخې مې خورا مینه ورسره لرله، په ټوله هیله مې غوښتل چې همدا هلک مې د ژوند ملګری شي، ان تر دې چې مستقیماً مې زنګ ورته وواهه، په ډېر مظلومانه انداز مې د کوژدې وړاندیز ورته وکړ، ولې هغه ونه منلو د بلې نجلۍ سره یې کوژده وکړ، له همغه اول ځل خبرېدو سره یې نوره په ځان نه یم پوه شوې، مګر دغه دي چې پس له شپږو میاشتو ستاسو په کور کې خپل حال ته راوګرځېدم، مقصد عاشقي یې ګڼې، ګناه یې ګڼې؟ همدومره یو کار رانه شوی!

په خندا مې ورغبرګه کړه:

-اووووو ظالمې ودې وېروم ماویل چې څه کفر دې کړی، د وړاندیزونو کول او ردول، خو که ګناه وي؟ زه هم منه که جنت په سترګو ووینم، خو بیا هم په خپله ګنا عتراف دې لا خوند وکړ، په صداقت دې دلالت کوي، که وروسته له کومې بلې خوا خبر شوی وی، ممکن ډېره بدګوماني مې یې راپارولې وی!

له دې خبرې سره یې شین چراغ راکړ، یعني موسکۍ شوه، واپس یې په خپل سلاټ تهیه کولو لاس پورې کړ، نور زه هم خپل اطاق ته ترې راروان شوم.

کیسه مې تر دې پورې درته وکړه اکبر ګله! چې زما په خوشبختۍ کې مستقماً ستا لاس دی، کني چېرته دا د جنت الفردوس د حورو میره مرواګۍ او چېرته زه بېچاره؟

چون هغه ورځ مې چې د برنډو مینځلو لپاره راسره بوتلې، کله چې مرواء لیدلې وې، ماته یې زنګ وکړ وېل یې: دا صفاکار دې چې راوستلې، هغه زموږ ګاونډی هلک دی، چې زما وړاندیز یې رد کړی و!

خندا کې مې ټوکتاً ورغبرګه کړه:

-نو ته او خدای ج ستا سترګې وې کنه؟ چې په دې پسې دې شپږ میاشتې حافظه...

نور وزارت ته راورسېدو د انجینر خبره د همدې حافظې په لفظ پاتې شوه، د وزارت د دروازې عسکرو د چکپاینټ میل جګ کړ، مخه یې راکړه، موټر مو پارکېنګ کې ودراوه، د وزارت په لوی انګړ کې مخامخ وړاندې د پنځم بلاک دریم منزل کې د معینیت شبعه ته ورننوتلو، که څه هم په دفتر کې یې چې وېل، فکر مې کاوه چې هسې وایي یا ټوکې راسره کوي، ولې وزارت ته په راسېدو سره یې رښتیا هم له خپل ځان سره، یعني د معین د مرستیا په حیث زما په دنده ګمارنه پیل وکړ، له وزیر سربېر د وزارت په لوی او واړو مامورینو یې ډېر زیات ناز چلېده، ټولو ډېر درناوی ورته لاره، همدا و چې په تول د دوو ورځو کې یې ټول کارونه راته خلاص کړل، رسماً یې د (۴۲۰۰۰ ) دوه څلوېښت زره افغانۍ معاش په راته حواله کولو سره، خپل مرستیال وګمارم، له دې سره سره د وزارت په فامیلو کې کوم چې د وزارت لوړ رتبه مامورین پکې اوسېدل، یو دری اطاقه کور هم راته تسلیم کړ، دریمه ورځ مې د کلا واحد له کوځې کډه وربار کړه ورغلو، سر له سبا مې خپلې چوکۍ ته حاضر شوم، په دنده مې پیل وکړ، پنځه ویشت ورځې وروسته د مرواء د فشار او مالي ملاتړ په مټ مو د فامیلیو په تالار کې یو متوسط د واده محفل ونیولو، صدف مو راناوې

کړه، که څه هم له دې وروسته مو نور هېڅ ستونزه نه وه، خورا ښکلی او خوندور ژوند مو شو، بلها خوشحاله و. د کلا واحد زوړ خاورين کور، مرداري کوڅې، رابندې تېر غربتونه، لوږې، وغيره کړاونه به مو چې راياد کړل، داسې به مو انګيرله لکه دوزخي چې له مجازات وروسته جنت ته ولاړ شي، ولې بيا هم يو دروند او پټ درد مې زړه کې دېره وو، څلور ويشت ساعته به يې له هر چا غلی رنځوم او رنځوي مې، هغه دا چې که څه هم صدف په ښکلا کې له موره يوه وه، همدارنګه ډېره هوښياره، باتعليمه او مينه ناکه نجلۍ وه، اما صرف هغه عاشق ته په کتو يې چې ان تر مزاره راپسې راغی، د موبايل شمېره او تصويرونه يې هم ورسره و. بناءً د ميرمنې په صفت څنګه چې ښايي يا لکه څومره چې ښکلې وه، هغه شان رجع مې نه ورته کېده، په مېرمنواله مې يې ځان يو قسم بې غيرته احساساوه، اګر چې خپل پېغلوب يې ساتلی و، اما بيا هم زړه کې به مې سل رنګه خبرې تاوېدې، چې ګويا که نور هېڅ نه وي، رغړولې رارغړولې خو به يې ډېره وي، همدارنګه بې شمېره مچوګانې به يې ترې اخيستې وي، له دې سره سم به له مرواء نه ما اخيستې مچو هم راياد شوه او ورسره څنګ کې به د امام شافعي (رح) هغه وينا هم نيغه سترګو ته راودرېده چې وايي: (زنا پور ده) يعني که د بل چا خور او لور ته مو سپک وکتل، هرو مرو به يې پور ستاسو خور، لور او يا هم ښځه پرې کوي .

پـــــــای

یادونه!

درنو لوستونکو که د کتاب په اړه څه ویل لرئ؟ مهرباني وکړئ په لاندې ادرسنو کولی شئ چې د لیکوال سره یې تماس ونسئ.

ایمل: naeemjanwardak@gmail.com

واتساف: 0747743091

د فیسبوک او مسېنجر نوم: (نعیم جان بوډا)

وما علینا الا البلاغ مبین